شهامت

دیارلسم کال، لومړی، پرلپسې۷۵مه ګڼه، شوال المکرم ۱۴۴۰هــ ق، جون۲۰۱۹م

امریکا دې د (خلیل زاد) جلب ونیسي!

- هو! په امریکا باور پکار نه دی....!
- دناټو او امریکا ناځرګندې څرګندونې!
- ایا امریکا د خپل موجودیت لپاره نورې بهانې تراشي؟
- اشغال او د فحشا ترویج
- هندوستان کې دديمكراسی او سیکولرزم شکست ... !

دامریکا انتخاب سوله ده که دجګړې دوام؟

دبصیرت او عزم سالار ملا اختر محمد منصور رحمه الله

د شهادت د ۳ تلین په یاد!!!

په نړۍ کې د اسلام پراخ مقبولیت

او مسلمانو واکمنو خپلمنځي اخ وډب

دفارس په خلیج کې

د یوخطرناک تصادم او ټکر نښې...

خلیج کې نوې پېښې او ایران ته د امریکا ګواښونه حالات پرکوم لور روان دي؟

محمد مرسي خپل رسالت اداء او د عبرت لوی درس یې شاته پرېښود

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

دریالسم کال، لومړی، پرلپسې۷۵مه گڼه، شوال المکرم۱۴۴۰هق، جون۲۰۱۹م

لــــړلیـــک

گڼه	عـــنــوان	مخ
۱	سرلیکنه	
۲	دناتو او امریکا ناڅرګندې څرګندونې !	۳
۳	دامریکا انتخاب سوله ده که دجګړې دوام؟	۷
٤	اشغال او د فحشاء ترویج	۹
٥	د ملا اختر محمد منصور رحمه الله د شهادت د ۳ تلین په پار	۱۲
٦	خلیج کې نوې پېښې او ایران ته د امریکا ګواښونه، حالات پر کوم لور	۱٦
۷	آیا د امریکا د خپل موجودیت لپاره نورې بهانې تراشي؟	۲۲
۸	محمد مرسي خپل رسالت اداء او د عبرت لوی درس یې شاته پرېښود	۲٥
۹	هندوستان کې د دیموکراسۍ او سیکولریزم شکست !	۲۷
۱۰	داعش ته ماته، په سیمه او ګاونډیو د طالبانو تلپاتې احسان!	۳۰
۱۱	کلوریتې پاڼې	۳۲
۱۲	پرنورو دېرو سربېره یو له پامه لوېدلی مصیبت	۳۴
۱۳	د فارس په خلیج کې د یو خطرناک تصادم او ټکر نښې!	۳٥
۱٤	د مصر د مظلوم ولسمشر محمد مرسي مظلومانه مړینه	۳۷
۱٥	اوجِ ظلم و وحشت رژیم	۴۰
۱٥	په نړۍ کې د اسلام پراخ مقبولیت او مسلمانو واکمنو خپلمنځي اخ وډب	۴۱
۱٦	سنګرهای داغ جهاد وشکست ماشین تبلیغاتی دشمن	۴۳
۱۷	زندانیان مظلوم ترین قشر کشور	۴٥
۱۸	غامدیت د اوسني عصر لویه فتنه	۴۷
۱۹	هو په امریکا باور بکار نه دی!	٥۱
۲۰	نکولیو بریدونو نه پس د مسلمانانو پر ضد څه روان دي؟	٥۴
۲۱	زموږ د برم هغه څلی چې ښایي په تېر کې مو نه وي لیدلی	٥۷
۲۲	په اسلام کې د مال او ملکیت احکام	٦۱
۲۳	دخپل وخت ستر امام (امام ابوحنیفه رحمه الله)	٦۷

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

لطیف عزم
حسن " علوي" بلال "وحید"
نعیم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبیب

بیـــه :

یوه ګڼه ۳۵ افغانۍ او ٦۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

یـــادونــــه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com



امریکا دې د(خلیل زاد)جیلب ونیسي!

ځوورځې دمخه قطرکې دافغانستان اسلامي امارت دسیاسي دفتر ویاند ښاغلي سهیل شاهین دامریکا اوامارت دمرکچي پلاوي ترمنځ دسولې په اړه دتیرو شپږو پړاونوودمحصول اوپرمختګ په باره کې پخپل تویټر ولیکل: امریکا له افغانستانه دخپلو تولو عسکرو په ویستو اوافغانستان کې په اینده نه لاسوهنې سلا اوقانع شوې!

دنوموړي ددې تویټ په غبرګون اوځواب کې دسولې لپاره دامریکا دبهرنیو چارو وزارت ځانګړې استازي زلمي خلیل زاد په خورا ورخطائې اوعصباني کیدو پخپل تویټرولیکل:امریکا له افغانستانه دخپلو عسکرو دویستو هوکړې په لته کې نه؛ بلکې دیوې داسې هوکړې په مندلو پسې ګرځي چې دبهرنیو عسکرو وتل، اوربند اعلانول، د افغانستان خاورې نه امریکاته دنه تهدید تضمین اوبین الافغاني مذکرات دهغې اساسي تکي وې.

خلیل زاد دا نوې ببولاله... په داسې وخت کې غږوې چې په دوحه کې د امارت دسیاسي دفتر مرکچي پلاوی او دامریکا استازي یوبل سره دمخامخ خبرو اترو په دوام داووم پړاو ناستې ته چمتوالي نیسي.

د خلیل زاد پورته تویټ نه یواځې دتیرو شپږو پړاوونو په اړه دنوموړي د پخوانیو تویټونو سره په تضادکې دی بلکې د هغه تازه تویټ سره هم یې هم په ټکرکې دی، کوم چې یې داووم پړاو خبرو لپاره دامریکا ځخه دروانیدو په مهال کړی وچې داځل به طالبانو سره دبهرنیو ځواکونو وتل اوله افغانستانه امریکاته دنه تهدید تضمین نهائي کوي.

ښکاره ده میډیا اونړۍ هم خبرلري چې په تیرو شپږو پراوونوکې دهرپړاو وروسته خلیل زاد څوځله په دې اعتراف کړی چې دطالبانو دمرکچې پلاوي سره یې بحث په دوه مهمو خبرو(له افغانستانه دخارجي قواوو په وتو اودافغانستان خاورې نه امریکاته دنه تهدید په تضمین) راتول وو.

همدا رازد اسلامي امارت ویاند د خبرودهر پړوا وروسته دخپل رسمي وضاحت لیک دلارې بیا، بیا داسپیناوی کاوه چې دامریکا او امارت ترمنځ رواني خبرې یواځې تریادو دوه موضوعاتو محدودې دې او ښه په بانګ دهن اوبرملا یې ویل چې څو امریکا دخپلو قواوو دویستو په اړه ور سره کومې حتمي هوکړې ته ونه رسي ترهغه وراندې نوروموضوعاتو (لکه اوربند او بین الافغاني مذاکرات) ته دننوتو هوډ نلري، زکه دامریکایي قواوو دوتلوبرخلیک معلومول دامارت لپاره سره کرښه وه؛ اوده اوهرچې نورموضوعات دي هغه ټول ثانوي ارزښت لري ،ولې دافغانانو دتولو ناخوالو قوي لامل بهرني اشغال اودهغوی پوځي شتون دی،چې دهغه دپای ته رسیدو پرته په نوروموضوعات بحث اوغږیدل نه یواځې دوخت ځخه وړاندې دي بلکې دابه لویه اشتباه اونه بښونکې خطاء وي چې داشغال دبرخلیک نه معلومولو وړاندې امارت اوربند اوبین الافغاني خبروته کیني او هم نه په عمل کې داسې ګام پورته کول امکان لري.

دتعجب ورداده چې د خلیل زاد نوې څرګندونې دامریکا دمتحده ایالاتو دولسمشرټرمپ ددریځ سره هم په تضاد اوټکر کې دي. ترمپ دامریکایي ځواکونو دوتلو په لټه کې جدي بریښي او بیا،بیا دافغانستان له جګړې ځخه سرټکوي او دخپل هیواد په جنګي لګښتونو خواشینی دی او هرځومره ژر چې شونې وي هغه دافغان جګړې تینشن ختمول غواړي،تازه یې دټایم مجلې سره پخپله مرکه کې هوډښودلی چې افغانستان کې دشته امریکایي عسکرو شمیر نور هم کموم اوله دې نه پای لرونکې جګړې وزم، زکه پکې ۱۹کاله مو عبث تیر کړل اوډیره لویه شتمني مو پکې برباد کړه

دسیاسي چارو کتونکوپه اند دټرمپ دا څرګندونې رغوونکې دې اوهغه غواړي امریکا کې دولسمشرۍ له ټاکنو وړاندې (چې کمه موده ورته پاته ده) له افغانستانه دخپلو عسکرو دویستلو په اړه یوې هوکړې ته ورسي ،نو دټرمپ خواهش ته په کتو اړتیا ده چې د امریکا حکومت د خپل ځانګړي استازي (خیلل زاد) دخودسرانه ټوپټونو جیلب ونیسي زکه دهغه نامسؤلانه څرګندونې دسولې روان بهیر سبوتاژ کوي اوددواړو لوریو ترمنځ بې باورې اوبې اعتمادي زیاتوي اوسوله نه یواځې دافغانستان په ګټه اوددټولې سیمې اونړۍ دثبات په برخه کې یو ښه ګام دی بلکې دامریکایي ولس اشد ضرورت هم دی، نودداسې یوپراخ اوهمه ګیر فرصت په اړه خلیل زاد متوجه کول او نازکوحساسیتونو ته دهغه پام ګرځول دامریکا دحکومت اخلاقي او دیپلوماتیک مسؤلیت دی او ښکاره ده چې دسولې روان بهیرمتضرر کول او په وړاندې یې خنډونه جوړول دټولو جهتونو لپاره په راتلونکې کې بدې پایلې درلودای شي په خاصه توګه دلته د هغو میشت امریکائي عسکرو په روحیاتو اومورالونو هم له رواني پلوه به منفي تاثیروکړې چې بوتونان په پښو دیته تیار ناست دي چې کله به پرې ددوی لپاره دزمکې په مخ دجوړ جهنم (افغانستان)ځخه دوتو زیری کیږي ....

صارم

د ناټو او امریکا ناڅرګندې څرګندونې!

پرافغانستان دحملې پر وخت امریکااوناټو خپلې ټولې هیلې او په نظر کې ګټې پوره او ترلاسه کېدونکې بللې وې، چې خدای خبر له کوم وخته به یې سنجولې او ترتیب ورته نیولی و، خو وروسته له هغه چې په افغانستان کې یې پښې ونښتې او دځانی تلفاتو له لیدو سره سره یې اقتصادي او مالي زیرمو ته هم په دې هیواد کې لویه خوله خلاصه شوه، نو ایله دغرور له نشې بهر او په هوش کې راغلل چې په ګومان یې شاید په لومړي پلان کې به یې نیمګړتیا ځای نیولی وي اوباید چې دخپل کار دتکمیل لپاره بیاکتنه پرې وکړي اوله غور او دقت څخه کار واخیستل شي ، هماغه و چې وخت په وخت یې په افغانستان کې دخپل لګښت بودیجه زیاتوله او په خپلوکې په دې اړه تر نانـدریو هم سره ورسـېدل، دغه راز یې بېلابېلې ستراتیژۍ اعلان او خپل قوماندانان بدل رابدل کړل، خو بیایې هم بار ترمنزل ونه رسیده او په اصطلاح پساو شول .

دمذاکراتو، سولې او خبرو اترو په نوم روانه کړې لوبه یې هم دهماغه ستراتیژیو او پلانونو دوام ښکاري او هیڅکله هم د دغو سپېڅلو نومو حقیقت ته صادق او ژمن نه دي ، بلکې له دغه زماني مقطع څخه په استفاده کـه وکړای شي له یوې بلې دسیسې او پټ پلان له لارې خان هدف ته ورسوي، همدا وجه ده چې ملکي تلفاتو ته یې زور ورکړی او غواړي له دې لارې ولس داشغال منلوته مجبور اوپه طالبانو یوډول فشار راوړي، نو ځکه یې دغو خبرو اترو او دسولې پروسې ته دصداقت او ژمنتیاکوم څرک او دلیل نه ترسترګو کیږي، بلکې برعکس یې دمنافقت او دوه مخي توب نښې نښانې ډېرې دي، غواړي له دغو سپېڅلو کلمو نه په استفاده که وکړای شي له نورو لارو خپلو شومو اهدافو ته ورسیږي، په دې اړه تر ټولو ستر دلیل د دوی خپلې ضد اونقیض څرګندونې اوپه دغه ډول حساسو شیبو کې نه توجیه کېدونکي اظهارات دي، چې له بېلا بېلو لارو یې نشروي ، راځئ د دوی دغه څرګندونې وڅېړو اوچې له یوې میاشتې په کمه موده کې یې څومره ضد او نقیض دریځونه اعلان کړي ؟ :

د غبرګولي دمیاشتې په ۱۵ نېټه ناټو وویل :

"د خلیلزاد په مشرۍ د سولې له روانې پروسې په بشپړ ډول ملاتړ کوو"

دغه څرګندونې د ناټو سازمان سرمنشي- «ینس ستولتنبرګ» په جرمني کې له خلیلزاد سره تر لیدنې وروسته وکړې، نوموړي په همدې تړاو په خپل ټویټر ولیکل « د ناټو د ۴۱ متحدینو له لوري د خلیلزاد او د

افغان سولې په برخه کې د نوموړي له هڅو بشپړ ملاتړ اعلان شو ».

دغه راز اروپايي اتحاديې هم د (غبرګولې په ۱۶ نېټه) د سولې دخبرو دتائيد ترځنګ وويل :

"د افغان سولې د پروسې لپاره مختلف ليدلوري «همغږي» کوو"

دافغانستان لپاره د اروپايي اتحاديې ځانګړی استازی «رونالډ کوبيا» وايي، اروپايي اتحاديه حاضره ده له ټولو هغو هيوادونو سره ګده همکاري وکړي چې د افغان سولې په پروسه کې دلچسپي لري.

کوبيا چې د بي بي سي له فارسي څانګې سره يې خبرې کولې وويل « په برلين کې مو له خليلزاد او په اروپايي اتحاديه کې د شاملو هيوادونو له استازو سره د افغان سولې په برخه کې ګټورې خبرې درلودې او هڅه مو وکړه د مختلفو هيوادونو بېلابيل ليدلوري سره همغږي کړو».

کوبيا زياته کړه « د افغان سولې پروسه پېچلې ده او بېلابيل هيوادونه يې له بيلو زاويو تفسيروي نو ځکه لا تر اوسه ددې مرحلې پای ته نه يو رسيدلي ».

د کوبيا په خبره؛ که چېرې د سولې خبرې يوې څرګندې پايلې ته ورسېږي، اروپايي اتحاديه به هڅه وکړي د يو بې طرفه ضامن رول ولوبوي او د سولې تر توافق وروسته هم له افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

کوبيا همدا راز د طالبانو د سياسي دفتر له مشر « ملا عبدالغني برادر اخند» سره خپله ليدنه مثبته وارزوله او ياده ليدنه يې د اختلافاتو د کموالي او يوې پايلې ته د رسېدو لپاره ګټوره وبلله.

په عين حال کې ناټو دا هم وايي چې افغانان له خارجي اشغالګرو راضي نه دي او د دوی وتل غواړي :

"د ناټو ځواکونو وياند: افغانان د بهرنيو ځواکونو وتل غواړي"

دغبرګولی په (۲۲) نېټه په افغانستان کې د ناټو او امريکايي ځواکونو وياند «ديويډ بټلر» وويل : د افغانستان خلګ له دې هيواد څخه د بهرنيو ځواکونو د وتلو غوښتونکي دي.

د تسنيم خبري اژانس د راپور په حواله؛ بټلر وويل « د افغانستان ټول خلګ له خپل هيواد څخه د بهرنيو عسکرو وتل غواړي او دا په دې مانا ده چې موږ بايد له وتلو وړاندې په دې هيواد کې يوې پايدارې سولې ته ورسېږو ».

دسولې دپروسې او دخبرو اترو دپورته تائيد ترڅنګ د همدې مياشتې په (۲۱) نېټه ناټو وويل :

"پر طالبانو نظامي، ټولنيز او سياسي فشارونه د سولې پروسه کې مرسته کوي"

په افغانستان کې د ناټو د قاطع ملاتړ ماموريت مرستيال قومندان ويلي، چې پر طالبانو نظامي، ټولنيز او سياسي فشارونه د سولې پروسه کې مرسته کوي.

د ناټو مرستيال قومندان ډګر جنرال کمپوريالې په هرات ولايت کې يوې غونډې ته د وينا پر مهال وويل، چې د سولې پروسې ملاتړ کوي او د دې پروسې د بريا لپاره بايد پر طالبانو نظامي او سياسي فشارونه نور هم زيات شي.

د ناټو مرستيال قومندان زياته کړه، چې د افغانستان بحران له پوځي لارې نه شي حل کېدای او دغه بحران بايد له سوله ييزې لارې حل و فصل شي ".

دغه راز يې دناټو سرمنشي د غبرګولې دمياشتې په (۱۵) وويل :

"تـر ۲۰۲۰ م کـال وروسـته هـم لـه افغـان امنيتي ځواکونو مالي ملاتړ کوو"

دغه څرګندوني د ناټو سرمنشي «ينس سټولتنبرګ» د ګـډ حکومـت د مـاليې وزارت د سرپرسـت وزيـر محمـد همايـون قيـومي، د دفـاع وزارت د مرسـتيا ل عبـدالحي رووف، په کابل کـې د کانـادا د سـفير او يـو شـمېر نـورو چارواکو په موجوديت کې وکړې.

ينس وويل « د چيکاګو د ۲۰۱۲ کـال پـه ناسته کـې نړيوالې ټولنې له ۲۰۱۲ څخه تر ۲۰۱۴ م کال پـورې خپـل مـالي ملاتـړ لـه افغـان امنيتـي ځواکونـو اعـلان کـړ چـې وروسته دا موده تر ۲۰۱۶ پورې وغځېده او د ۲۰۱۶ م کـال په ناسته کې نړيوالو مرسته کوونکـو دا وخـت تـر ۲۰۲۰ پورې وغځاوه.

ينس زياته کړه؛ تېر کال نړيوالو متحدينو ژمنه وکړه چې له ۲۰۲۰ څخه وروسته به هم تر ۲۰۲۴ پـورې د افغـان امنيتي ځواکونو مالي ملاتړ کوي.

پــه ورتــه ډول امريکــاهم همداســې ضــد اونقــيض څرګندونې کوي اودمذاکراتو روان بهيرته اخلاص يـې پـه شک کې دی د همـدې مياشـتې پـه (۱۶) امريکـايي اداري سيګار اعلان کړه چې :

" د سولې تر توافق وروسته به هم افغانستان له ګنو ستونزو سره مخ وي"

د افغانستان د بيا رغونې په اړه د امريکايي مرستو د څـارنې عمـومي اداره «سـيګار» وايـې، لـه طالبـانو سره د سولې توافق د افغانستان ټولو ستونزو ته د پای ټکـی نشي-اېښودلای.

د سيګار له لوري په خپره شوې خبرپاڼـه کـې راغـلي چـې، دا مهـال پـه افغانسـتان کـې د داعـش پـه ګـډون ۳۰ تروريستي ډلې په فعاليت بوختې دي چې لـه طالبـانو سره د سولې تر توافق وروسته هم د افغانستان امنيت تـه ګـواښ پېښولای شي.

خبرپاڼه زياتوي، په تروريستي ډلو سربېره اداري فساد او د نشه يي توکو قاچاق هغه څه دي چې د سولې تر يـوه احتمالي توافق وروسته به هم په خپل ځای پاتې وي.

د خبرپاڼې له مخې، له دې سره، سره که چېرې طالبان ترسـولې وروسـته بيـا ځلـې خپلـو پخوانيـو فعـاليتونو تـه وروګرځي نړيواله ټولنه به له افغانستان سره خپلې مرستې ودروي چې په پايله کې به يې افغانستان لـه ګنـو سـتونزو سره مخ شي.

له دې سره په څنګ کې په افغانسـتان کـې د داعـش دکمزورې ډلې فعاليتونوته هم هوا ورکوي اولکـه څنګـه چې طالبانو ويلي اوپه افغانستان کې بار بار ثابته شوې چې امريکا له داعش ډلې څخه ملاتړ کـوي او مخکـې لـه دې چې له طالبانو سره سولې ته ورسيږي ددغې ډلې کړنـو او فعاليتونو ته هوا ورکوي، په دې معنی چې وښيي طالبان نه شي کـولای لـه افغانسـتان پـه نـورو هيوادونـو دبريـدونو تضمين وکړای شي، که دوی دغه ډول مقصد ترې اخلي پـه عين حال کې دا مقصدهم ترې څرګنديږي چې بيابه مـونږ ستاسو ددغـې ناکـامی لپـاره لـه دغـه ډول دسيسـو او پټـو پلانونو څخه کار واخلو او هغوی ته به دغه ډول هدايات ورکړو. دادی د خپلو مطبوعـاتو لـه لارې يـې اعـلان کـړه چې :

«داعش لـه افغانسـتان څخـه پـه امريکـا او لويديځو هيوادونو د بريد اراده لري»

د غبرګولی دمياشتې په (۲۱)نېټه د اسوشييټيډ پـريس خبري اژانس له لارې يې راپور خپور کـړ چـې يـو شـمېر دولتي او امريکايي چارواکي وايي، داعش ډله د افغانستان په جنوب کې د خپلو رېښو په غځولو کار کوي او لـه دې

هیواد څخه په امریکا او نورو لویدیځو هیوادونو باندې د برید پلان لري.

د اسوشییتید پریس خبري اژانس د راپور په بنسټ، افغان او امریکایي امنیتي چارواکي ادعا لري چې، د افغانستان جنوب د داعش په یوه فعال سنګر بدلېدونکي دی او یاده ډله له همدې ځایه غواړي په امریکا او یو شمېر لویدیځو هیوادونو باندې برید وکړي.

راپور د یوه امریکایي استخباراتي چارواکي له قوله لیکي چې، داعش په افغانستان کې د خپل حضور د پراخولو په تکل کې ده چې زموږ د هیواد د امنیت لپاره په یو ستر سرخوږي بدلېدای شي او له همدې ځایه په اروپایي هیوادونو او امریکا باندې د برید خواک تر لاسه کولای شي.

او دخلیلزاد دسفرو له پیل سره هم مهاله امریکا وویل :

"له طالبانو سره د مذاکراتو ترځنګ به د «تروریزم» خپلو پروسه روانه وي"

دغبرګولي دمیاشتې په ۸ نېټه د امریکا د متحده ایالاتو د لوی درستیزانو د کمېټې رئیس جنرال «جوزیف ډانفورډ» وویل : له طالبانو سره د مذاکراتو تر څنګ به په افغانستان کې د تروریزم په وړاندې مبارزه روانه وي.

د امریکایي ورځپانې «واشنګټن پوسټ» د راپور له مخې ډانفورډ دغه څرګندونې تېره ورځ په امریکا کې وکړې، نوموړي وویل « د امریکا متحده ایالات او متحدین په افغانستان کې دداعش په ګډون د تولو هغو تروریستي ډلو د ویرې له امله چې په افغانستان کې د پټنې اینبودلو ځای لتوي، له تروریزم سره خپله مبارزه روانه ساتي».

نوموړي وړاندې زیاتوي « له تروریزم سره مبارزه به د طالبانو له لوري د تولو بهرنیو عسکرو د ایستلو له غوښتنې سره سره روانه وي».

د ډانفورډ په خبره « هیڅوک دا توصیه نه کوي چې امریکایي خواکونه دي د تروریزم ځپلو په برخه کې د خپلو موخو تر ترلاسه کولو وړاندې افغانستان پرېږدي او نه دا موضوع د مذاکرې وړ ده».

جوزف ډانفورډ په داسې یو وخت کې په افغانستان کې د امریکا د نظامي حضور په اوږدېدو ټینګار کوي چې، له طالبانو سره د امریکایي لوري په مذاکراتو کې د امریکایي مذاکراتي ټیم مشر «زلمي خلیلزاد» ادعا وکړه چې د امریکایي خواکونو د ایستلو په موضوع یې له طالبانو سره په مذاکراتو کې پرمختګ کړی.

دناټو او امریکا د دغو تولو متضادو دریځونو له څرګندولو بریښي چې دوی لاهم دسولې او مذاکراتو پروسې ته ژمن نه دي او نه غواړي چې په افغانستان کې یوه پایداره سوله رامنځته شي، که داخل هم په خبرو اومذاکراتو کې له دغه ډول منافقت او دوه مخیتوب څخه کار واخلي طالبانو ته په کار ده چې مذاکرات تحریم کړي، نړیوالواو هیوادوالو ته د امریکااوناټو دغه دوه مخیتوب ښکاره کړي .

دامریکا انتخاب سوله ده که دجګړې دوام؟

رحیمي

دملګروملتونودبشري حقوقواداري داحصائې له مخې: د روان ۲۰۱۹زکال په لومړیو درې میاشتوکې دبمباردونو، چاپو اوشپینیو عملیاتو په ترڅ کې دنورو کلونوپه پرتله ډیرافغان وګړي وژل شوي چې پړه یې دبهرنیوخواکونو او دکابل حکومت په غاړه ده.

دتحمیل شوې امریکائې اداري پخواني مشر حامد کرزي پخپل یوتازه غبرګون کې دافغانستان فراه ولایت بالابلوک ولسوالي په شیوان سیمه کې دامریکایې الوتکو په بریدکې ملکي خلکوته اوښتې مرګ ژوبله غندلې اوویلي یې دي چې دامریکایانو لخوا شپیني عملیات اوبمباردونه ښیي چې امریکایان او دکابل رژیم دسولې راوستوته ژمن ندي نو زکه دسولې پر ضد جنایتونو باندې یې لاس پورې کړی

داجنایتونه اووحشتونه امریکایان په داسې حال کې زیاتوي چې هلته په قطرکې دطالبانو سره په سیاسي مذاکراتو اوخبرو بوخت دي، په دې وجه دبمباردونو زیاتوالي اودجګړې تشدیدولو په کورنۍ اوبهرنۍ کچه مخالف غبرګونونه راپارولي.

داسې ښکاري چې امریکایانو اودهغوی اجیرانو دیومشترک پلان له مخې افغان وژنه هدف ګرځولې او ددې لپاره دملکي بې دفاع خلکوپه کورونو او سرایونو باندې ړندې بکباری او چاپې غورځوي او دهغوی دکورونو ستراو ابرو پایمالوي،له کورونو دیندار ځوانان وړي اودزندان له تورو دروازوترشا یې اچوي

دمثال په توګه څو ورځې دمخه دغزني شلګر ولسوالي سردې په سیمه کې امریکائي ډرون الوتکویوکرولاموټر په نښه کړ او په هغه کې سپاره ټول کسان یې شهیدان کړل، په بله ورځ یې د ډرون په یوبل بریدکې دوه کسان نور په شهادت ورسول او دهغه وروسته یې په یوبل ډرون بریدکې لس شاوخوا ملکي کسان په شهادت ورسول

دادیوې ولسوالي دیوې سیمې حال دی، خدای خبر امریکایان په نور هیواد کې په ملکي خلکو هره ورځ څومره وحشیانه بریدونه ترسره کوي اوپکې به څومره مظلوم انسانان په شهادت رسوي زکه ډیرکم خلک رسنیوته لاس رسی لري او بل رسنۍ هم کوښښ کوي چې دامریکایانو په لاس شوي ملکي تلفات پټ کړي اونه یې پرېږدي چې هغه ترنړیوالوپورې ورسي.

دکتونکوپه نظر امریکا ترډیره دوه مخې تګلاره لري، یوطرف یې په جګړه کې شدت رامنځته کړی په هیوادکې یې چاپو اوبمباردونوته زور ورکړی دی اوهره ورځ په لسګونو خلک په شهادت رسوي خلک دخپلومینو اوکورونو څخه کډه کولو ته اړکوي بل پلوته دسیاسي تفاهم په موخه یې خلیل زاد خوشي

کړی هیواد په هیواد، ښارپه ښار ګرزي دسولې په نوم ملاتړ غواړي! په دې وجه نده معلومه چې دامریکا اصلي انتخاب سوله ده که جنګ؟

دسیاسي کارپوهانو په نظر امریکا غواړي په جګړې کې دشدت په رامنځته کولو سره په طالبانوفشارزیات کړي اوهغوی دیته اړباسي چې ورسره په نرموشرایطو له افغانستانه دخارجي ځواکونو دوتلو معامله وکړي بل امریکایي جنرالانو چې دافغانستان جګړه بایللې اوهغوی دخانو لپاره دالوی شرم او خجالت بولي چې د نومونه یې دامریکاپه تاریخ کې د شکست خوړونکو او جګړه بایلونکو جنرالانو په توګه یادشي، هغوی داخپل روحي اورواني فشارپه جګړه کې کموي او د خپل شکست غچ د مظلومو افغانانو په وژلو او دهغوی په زورولو سره اخلي چې د روان کال دپیل راهیسې یې په بمبارونو او چاپوکې دېام ورزیاتوالی راوستی دکوموله امله چې ملکي خلکوته په لویه سلنه مرګ ژوبله اړولې ځنګه چې دحقوق بشرپالو اداروپه راپورکې راغلي چې ددې کال په لومړیو دریو میاشتوکې دامریکا اوکابل رژیم دبریدونو په وجه دملکي خلکوپه مرګ ژوبله کې دنورو کلونوپه پرتله ډیر زیاتوالی راغلی چې مسؤلیت دامریکا او کابل حکومت په غاړه دی .

دا هم جوته ده چې دکله نه اسد الله خالد دملي دفاع سرپرست وزیرټاکل شوی په ملکیانوباندې بریدونوکې زیاتوالی راغلی هغه کوښښ کوي چې خپلو بادرانوته خان وفاداروښیي اوورته جوته کړي چې هغه د دوی نه په افغان وژنه کې مخکې دی وروسته نه.

یوبل تحلیل دادی چې اسد الله خالد چې اصلا دغزني دی په غزنویانویې ډیره بده ورځ راوستې، هره ورځ په غزني کې ډرون بریدونه کېږي، ملکي خلک په نښه کېږي، چې په سبب یې دغزني خلک دسخت خوړونکي حالت سره مخ شوي زکه هغه کوښښ کوي چې دغزني هغه ولسوالي چې دطالبانو په لاس کې دي بیرته ونیسي۔ او دغزني خلکوته غواړي دطالبانو دحمایت سزاورکړي

همدا راز دا انګیرنه هم شتون لري چې کله نه اسد الله خالد په قدرت کې راغلی په پښتون میشت سیمو باندې دبمباردونو تهدید زیات شوی دی په خاصه توګه دهیواد په جنوبي ولایتونوکې هوایي بمباردونه اوډرون الوتکوبریدونه اوچاپې ترنورو کلونوډیرې شوې داسې شپه نه وې چې پکې دلسونه ترشلو چاپې اوډرون بریدونه نه کیږي خوښکاري چې دښمن پخپل ټول توان دروستې جګړې پریکړه کړې چې لله الحمد په وړاندې یې مجاهدین دلوړمورال نه برخمن دي او ددښمن په مرکزونو اوتمجع ځایونویې بریدونه ډیرکړي بسته ولسوالی اوښارونه تازه دمجاهدینولاسوته ورغلي، ددښمن دلیکوڅخه ډلې ډلې عسکر رازي مجاهدینو ته وسلې په زمکه غورځوي اودامریکا دغلامی نه توبه ګار کیږي نودښمن دي خپل ټول زور او وحشت وازمایې چې سبا یې په زړه کې ارمان نه وي پاتې، نور شکست دامریکا او دهغې داجیرانو لپاره مقدردی اودشوروي عسکروپشان به امریکایي عسکرهم ناکام اوزوړند سرونه له افغانستانه تیښتې او وتلو ته اړکیږي.

وما ذلک علی الله بعزیز



اشغال او د فحشا ترویج

فاتح افغان

قال الله تعالی:{وَاللّهُ يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيْكُمْ وَيُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوَاتِ أَن تَمِيلُواْ مَيْلاً عَظِيماً }النساء۲۷

ژباړه: الله تعالی غواړي تاسې له ګناهونو څخه راوګرځوي او ستاسې توبه ومني او هغه خلک چې شهوتونو پسې منډې وهي غواړي چې تاسې له دین څخه ستر انحراف وکړئ او دهغوی په څیر شئ.

تفسیر جلالین دغه کسان چې د مسلمانانو بې لیاري او انحراف غواړي په یهودو، نصاراو، مجوسیانو او زانیانو سره تفسیر کړي دي.

هوکې! موږ په هر عصر- کې ددې ستر قرآني حقیقت شاهدان پاتې شوي یو، اشغالګرو کفارو او دهغوی غلامانو په هر عصر کې د مسلمانانو په ټولنه کې د فحشا د ترویج او د اخلاقي فساد د نشرولو لپاره هلې ځلې کړي، ځکه هغوی درک کړې چې څو پورې مسلمان ځوان په سپیڅلو اسلامي اخلاقو متخلق وي او څو پورې چې مسلمانه پیغله عفیفه او د حیا پړونی یې پر سر وي، د کفارو برې وریاندې امکان نلري اما فاسد او فاحش شخص له هغوی سره نه په معرکه کې دغره وهلی شي او نه ورته په میدان ټینګیدلی شي.

د ولسونو د ایل کولو په موخه د هغوی د ارزښتونو او دودونو بدلول او فاسدول له هغو اساسي وسیلو څخه دي، چې اشغالګر هیوادونه د خپلو سیاستونو او دخپل نفوذ د غزولو لپاره ترې ډیر کار اخلي، له همدې امله ویل شوي: (شراب او سندر غاړي په محمدي امت کې دومره ویجاړی رامنځ ته کوي چې زر توپونه یې نشي رامنځته کولی).

د اسلامي امت د اخلاقو منظم او هر اړخیز افساد هغه مهال پیل شو چې غربي اشغالګرو ډیری اسلامي هیوادونه لاندې کړل، ځکه اشغالګرو درک کړه چې له اسلامي امت د سپیڅلو ټولنیزو اخلاقو یو مضبوط او قوي کلا راڅرخیدلې، هغه چې په شتون کې یې د دوی لپاره د اشغال دوام او دهغوی د شتو لوټل او له دین څخه یې بې لارې کول ستونزمن دي، نو یې له پیل څخه د اخلاقي فساد درامنځته کولو لپاره منظمې او نه ستړې کیدونکې هلې ځلې پیل کړې ترڅو مسلمانه ټولنه داسې یو حال ته ورسوي چې ناوړه اخلاق قبول او له څښتن سره یې له انکار پرته تعامل وکړي او وروسته همدغه فاحش خلک په دوی مشران شي.

په ۱۷۹۸ م کې په مصر باندې د فرانسوي یرغل د ماتې لامل د اخلاقو د دغې قوي کلا شتون و، هغه چې مصریان

يې دې ته هڅول چې په خپله زمکه يې د اشغالګرو فرانسويانو شتون نشو زغملی، په ځانګړې توګه دا چې اشغالګر - ښځې او نارينه - بې حيا او له اخلاقي نګاه فاسد دي، له همدې امله مصري ولس د اشغال له منلو انکار کاوه، چې کرار کرار يې د مظاهرو او پرلتونو په شکل کې انفجار وکاوه، وروسته د ازادۍ غوښتنې جګړه پيل شوه، او په پايله کې يې فرانسويان له مصره ځخه له درې کلو ځخه په کمه موده کې تيښتې ته مجبور شول.

چې وروسته بيا فرانسوي امپراتور " Napoleon Bonaparte" خپل ځايناستي جنرال " Jean baptiste kleber" ته په ځرګندو ټکو کې يو پيغام واستاو، دغه ليک له اخلاقياتو ځخه په زور د مسلمانو تولنو د باسلو له مهمو اسنادو ځخه ګڼل کيږي، تقريبا د ټولو مسلمانو ټولنو پرضد همدغه سياست په پوځه توپير او بيلابيلو اساليبو د همدې بوې موخې لپاره غوره شوی، او هغه دا چې خلک له سپيڅلو اسلامي اخلاقو ځخه وباسي او دمنکراتو په ليدلو داسې روږدي کړل شي چې بيا پرې د رد او انکار جرات ونلري.

دغه ليک له هغه پلان ځخه پرده پورته کړې چې غربي دولتونه په نظامي او کلتوري لحاظ د مسلمانانو دلاندې کولو جوګه کوي، چې لومړی پيل يې په اخلاقي سيستم کې د ګوتوهنې ځخه کيږي، په ليک کې ويل شوي:

((فرانسوي جنګي بيړۍ به په دې زمې کې په اسکندريې، يا برلس اويا دمياط کې ښکاره شي، هځه وکړئ ترځو له مماليکو ځخه ۵۰۰ يا ۶۰۰ نفر راتول کړئ ترڅو چې کله کښتۍ وليدل شي، په قاهره يا ځندو کې به نيول کيږي او فرانسې ته به بيول کيږي، او که په مماليکو کې مو پوره شمير ونه موند ځای يې پر عربو يا نورو مخورو کسانو ډک کړئ، کله چې دوی فرانسې ته راورسيږي د يو کال يا دوو کالو لپاره به ايسار کړای شي ترڅو د فرانسوي ملت برم مشاهده کړي او زموږ په کلتور او ژبې روږدي شي، چې کله مصر ته ستانه شي دا به زموږ ځانګړي خلک وي چې نور خلک به ورسره يوځای کيږي، او زه به ترخپله وسه هڅه کوم څو يو ګروپ دمان دروليږم ، ځکه زموږ پوځ دې ته ارتيا لري څو د ښارونو د دودونو بدلون پيل شي.))

۱۸۸۲ - ۱۹۲۲ز کې په مصر کې د برتانوي استعمار سياستونه هم په همدې محور راڅرخيدل، د استعباد او استبداد له تسلسل ځخه وروسته چې په مصري ټولنې د سستی او غفلت خپځه کښيناستله، هيلې يې مړې شوې او ولس خپل ځان هغو مستو ځپو ته وسپاره چې چيرته يې خوښه وه هلته يې غورځاوه، ځکه هغه د جماد په څير ساکن و هيڅ احساس يې نه کاوه ترڅې چې فحشا پکې خپره شوه او اخلاق يې فاسد شول.

د لاسپوڅو حکومتونو تر ملاتړ لاندې رندی خانې او فحشا خونې خورې شوې او د خارجيانو ترڅنګ مصريانې هم په دې ناوړه عمل ګرفتاره شولې، د اشغال تر سيوری لاندې فحشا رسمي حيثيت لاره حکومت يې په جاره ملاتړ کاوه، د فاحشو نارينه و او زنانه و ساتنه يې کوله، د لومړی نړيوالې جګړې پرمهال په مصر کې د فحشا دنده ترسره کوونکو شمير ۶۰۰۰۰ ته رسيدلی و چې ۳۰۰۰۰ يې يوازې په قاهره کې وې.

همدغه راز اشغالګرو مصر په شرابو کې غرق کړ، ولس قسما قسم شرابونه مخه کړه، او کال په کال په مصر کې دشرابو د واردونې کچه زياتيدله، او په هرځای کې دشرابو پلورنځايونه پرانستل شول، کليوالې سيمې هم له دغو زهرو ځخه خوندي پاتې نشوې، په ۱۹۰۴ ز کال کې د شرابو دپلورنځايونو شمير ۴۰۰۰ ته رسيدلی و.

مصريان په شراب داسې روږدي شوي وو چې سهار به يې يو نوعه شراب ځښل مازديګر بل ډول، او دشپې بل قسم، په ډيرو مناسبتونو لکه ودونو، اخترونو، کوزدو اود خوښۍ په نورو مجلسونو کې د شرابو ځکل دود شول.

دې ډېر خطرناک مشکلات وزېږول، ټولنې خپل قوت له لاسه ورکړ، دغړو مثبت فعالیت او انتاجیت یې کم شو، دیني او اخلاقي ارزښتونه پکې کمزوري شول تردې چې ځینې انګریز لیکوالانو د مصري ټولنې په هغه حال ویرونه او ژړاوې کړي چې داشغال تر تاثیر لاندې دومره لویدلې حال ته ورسیده.

همدغه راز پکې د بنګو او مخدره موادو تجارت په پریمانه کچه زیات شو، چې دې هم د ولس د معنوي ځواکونو په کمزوري کولو او د اخلاقو په فاسدولو او دولس په نرولو ډېر تاثیر وکړ.

په افغانستان کې امریکایي اشغال د ځوانانود بې لارې لپاره له ټولولارو کار واخیست، اشغالګرو ځواکونو مستقیما د فحشاء ترویج لپاره هلې ځلې کولې، شاید تاسې به د امریکایي اشغال د اوایلو هغه ویډیویې صحنې لیدلې وي چې اشغالګر امریکایي پوځیان افغان ماشومانو ته بربنډ او فحاش انځورونه ورښیي او وربانډې توزیع کوي یې.

د دې ترڅنګ هغه رسنۍ تلویزونونه او راډیوګانې چې امریکایي اشغال تولید او تمویل کړي د فحش برنامو او لویدلو سریالونو په وړاندې کولو کې یې هیڅ کسر- پرینښود، بلکه ښه په جاره یې د فحشا او ناوړه اخلاقو لوري ته دعوت وچلاو.

همدغه راز په دولتي کچه د فاحشو ډمو تقدیر او په مډالونو نازول، د ښځو د حقوقو او ازادۍ تر نامه لاندې او د زدکړو او کار په پلمه د ښځو لپاره ځانګړې مؤسسې رامنځته کول، د سیمنارونو له لارې د انټرنیټ بې ځایه کارونې ته د ځوانانو او انجونو هڅول هغه څه دي چې دښځو د ځان وژنې او له کورونو څخه د تیښتې په پېښو کې یې د پام وړ زیاتوالی راوستی.

د دې ټولو شومو هلو ځلو نتیجه موږ تاسې د فحشا او جنسي افتضاح د هغو پېښو په بڼه ګورو چې په هیواد دننه او بهر د لوړپوړو او ټیټ پوړو دولتي چارواکو او امنیتي عناصرو له لوري رامنځته کیږي او وخت پر وخت ترې د یوه سنجول شوي پلان له مخې پرده پورته او په منظم شکل نشر ته سپارل کیږي دا هرڅه د فحشاء د ترویج په خاطر رسنیز کیږي ترڅو د خلکو حساسیت ورسره کم او د عادي پېښو په سترګه ورته وګوري.

حتی ځینې چارواکي خو په سپین سترګي او بې حیایي کې دې حد ته ورسیدل چې په خپلو فحشاؤ ویاړي ویډیوګانې او انځورونه یې اخلي، چې وروسته په ټولنیزو شبکو کې هم ډنډوره شوي.

لنده دا چې امریکایي اشغال چې څومره د افغانانو د سرونو دښمن دی له هغې زیات د هغوی د اخلاقو او ارزښتونو دښمن دی خو دا چې لله الحمد افغانستان په تاریخي لحاظ پتمنه، حیاداره ، درنده او سپېڅلې ټولنه لري، افغان کورنۍ په دې پېژندل شوی چې متدینې او په دین ولاړې کورنۍ دي، خپل اولاد ته لازمه دیني روزنه ورکوي او اخلاقي تربیې ته ډېر پام کوي له همدې امله امریکایي ښکیلاک په خپلو شومو موخو کې تر ډېره کامیاب نشو او پر ځوانانو او انجونو باندې یې د اخلاقو او تصرفاتو له نګاه هر اړخیز ویجاړی تر شا پرینښود، خو بیا هم میندو، پلرونو، علماؤ، داعیانو، مدرسینو، معلمینو او ټولو افغانانو ته پکار ده چې غفلت ونکړي د اشغال په وړاندې سره یو موټی شي په دې برخه کې خپلې هڅې ونه سپموي، د امریکایي اشغال له لوري د رامنځته شوي اخلاقي فساد په وړاندې د ذي القرنین سد جوړ کړي، د نوي کول تعلیم او تربیه د ځان مسؤولیت وګڼي او خپل شاګردان د اسلامي اخلاقو په وسله سمبال کړي ترڅو د غرب د ناولي تهذیب ښکار نه شي.

د شهادت د ۳ تلین په پار!!!

ع ـ عزیزي

درې کاله وړاندې د۲۰۱۷ کال دمې میاشتې په ۲۱ نیټه امریکایانو په یوه بزدلانه او ذلیل اقدام سره چې ممکن دسیمې ځینې نور شیطاني لاسونه اوشبکې به هم ورسره مرستندویه وې، ملا اخترمحمد منصور (رحمه الله تعالی) چې داسلامي امارت زعیم او لاربنود وو او هم یې د اشغالګرو په خلاف د مقدس جهاد او مقاومت رهبري کوله، د افغانستان او پاکستان سرحدي پولې (دالبندین) ته نیږدې دبې پلوټه الوتکې په توسط شهید او امت یې له یوه مهربان، مشفق او شجاع امیر څخه بې برخې کړ

(انالله وانااليه راجعون)

شهید ملا اخترمحمد منصور نور الله مرقده ته دمرحوم عالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی له لوري هغه مهال د اسلامي امارت واګې وروسپارل شوې چې کله د امارت دوه پخواني نومیالي مشران او د امارت مرستیالان هریو ملا عبید الله اخند رحمه الله او ملا برادر اخند حفظه الله دامریکایي اوپاکستاني څارګرو شبکو په ګډو هڅو ونیول شول، دغه شرائط او حالات زیات غموونکي او له مایوسیو ډک وو ځکه داسې اندیښنه وه چې ایا منصور صاحب به وکولای شي دملا عبید الله او ملا برادر اخند خلاوې ډکې کړای شي؟

خپله د شهید منصور صاحب دخولې خبره ده چې ویل یې: راسپارل شوی مسؤلیت ډېر درونډ دی، ملا عبیدالله اخند او ملا برادر اخند دواړه په تیر امارت کې په مهمو پوځي مسؤلیتونو کې راغلي وو، له پوځي او ورپورې تړلو پیچلو مسائلو سره یې ښه بلدیت لاره اومستعد نظامي کسان یې پیژندل او په خورا سختو حالاتو کې یې امارت یوځل بیا په پښو ودراوه

خو څرنګه چې شهید منصور صاحب دمرحوم ملاصاحب له نیږدې او وفادارو ملګرو څخه وو دهغه ټول کمالات او له جهاد، هیواد او دیني ارزښتونو سره اخلاص ورته معلوم وو، نو ځکه یې دامارت ټولې چارې که هغه پوځي وي او که ملکي ورله غاړې کړي .

منصور صاحب علیه الرحمه چې بیا په کوم کمال، تدبیر، شجاعت او اخلاص سره داسلامي امارت رهبري او سرپرستي ته اوږه ورکړه او په کوم حکمت یې داشغالګرو او دهغوی دمزدورانو په خلاف دجهاد قیادت وکړ او کوم بستونه یې کینول هغه خورا حیاتي نه هیریدونکي او داسلامي امارت په تاریخ کې به زریني کرښې وي

د عالیقدر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد وفات

کله چې دمرحوم ملاصاحب رحمه الله دوفات درونډ غم مخې ته راغی او منصور صاحب داسلامي امارت

رهبري شورا داسلامي امارت دنوي زعيم په توګه وټاکه او د افغانستان قاطع اکثریت علماوو او د اسلامي امارت مسؤلینو او مجاهدینو ورسره بیعت وکړ، الله تعالی دمنصور صاحب په انتخاب کې دومره اثر او برکتونه ولورول چې دهغه د نوم له اوریدو او انتخاب سره سم د مسلمانانو او د جهاد او سنګر د سپاهیانو زړونه مرهم او تکور شول دملاصاحب د وفات لوی غم او درد الله پاک په مسلمانانو باندې کم او اسانه کړ

مرحوم ملاصاحب چې بالکل یې په ولایت کې شک نه وو په دې پوهیده چې دهغه په نه شتون کې به منصور صاحب دمسلمانانو دغه مرصوص صف په هغه ډول چې ده یې اساس او بنسټ ایښي وو، کلکه نګهباني وکړي د داخلي او خارجي غلیمانو د هر ډول جعل، فریب او دسیسو څخه به یې وژغوري .

دشهید منصور صاحب تر ټولو لوی اعزاز او شاهکاري همدا وه چې اسلامي امارت یې دالله تعالی په مرسته متحد وساته، څومره چلونه او پلانونه چې د امریکایانو، کابل اداري او نورو خینو مغرضو جهتونو له لوري طرحه او دیزاین شوي وو او په بیلابیلو نومونو او شعارونو یې پلان لاره چې امارت په څو ټوټو وویشي او د قومي، سمتي، مذهبي اونورو نسبتونو د راپورته کولو په غوغا سره د اسلامي امارت په لیکو د قدرت او اختیاراتو دترلاسه کولو رنځ ګډ او دکابل رژیم په خیر دسهمونو او فیصدیو غوښتني او هوسونه پکې راپورته کړي

متعال رب جل جلاله د منصور صاحب په قول، عمل، حرکاتو او سکناتو کې دومره اثر او قوت وغورځاوه چې دغو ټولو چلنجونو او دامونو ته یې په ډیر مهارت شکست او ماته ورکړه څوک چې تیروتلي وو هغوئ یې بیرته راخپل کړل، چا چې رښتیا اصلاحي نظرونه درلودل هغوئ ته یې غوږ کیښود او چا چې غوښتل د غلیم په خوله امارت ته نقصان او زیان واړوي دهغوی د اصلاح کولوله ډیرو کوششونو وروسته مجبورکړای شو چې امارت د هغوئ له شر او فتنو څخه خلاص کړي

دمنصور صاحب جهادي او هر اړخیز نوښتونه

شهید منصور صاحب وکولای شول چې دجهاد صفوف تر پخوا زیات منظم، دلوائحو او اصولو په دائره کې مزید سمون او چټکتیا ور وبښي، دخپلسریو مخه ونیسي، مجاهدین له ولس سره دشفقت او مرحمت په روحیه سنبال کړي، د ولس مشروعو غوښتنو او ضرورتونو ته غوږ کیږدي، د بیارغوني او ولسي بنیرازي پروګرامونو ته وده ورکړي او څوک یې چې په مخ کې خنډ جوړیږي، هغه اصلاح او یا یې له مخې لیرې کړي، اداري او انتظامي چارې دیلابیلو کمیسونو په شکل کې منظمې او سریعې کړي، دمهمو امورو او تصمیم نیونې په برخه کې د رهبري شورا اهمیت لا زیات، هیواد شموله او اهل خبره شخصیتونه پکې نور دیر کړي.

منصور صاحب دامارت لپاره دوه ته مرستیالان لکه محترم شیخ الحدیث مولوي هبت الله اخندزاده صاحب او محترم ملا سراج الدین حقاني صاحب وټاکل دغه انتخاب هم د اسلامي امارت استحکام، تنظیم او د جهادي امورو چټکتیا او موثریت ته دپام وړ قوت او سرعت ور وبانبه .

دمنصور صاحب د لوړ بصیرت څرګنده نښه دا وه چې کله هغه شهید شو نو د امارت د زعامت نوی انتخاب په ډیري اساني سره ترسره شو، دمجاهدینو، مسؤلینو او په خاص ډول د رهبري شورا دغړو په زړونو او ذهنونو کې همدا پریکړه او تصمیم الله پاک ولوراوه چې منصور صاحب څوک د خان لپاره مرستیالان ټاکلي له هغو اهل او بهتر شخصیتونه نور په نظر نه ورزي، هماغه وو چې شیخ صاحب یې د نوي امیر په تو ګه منتخب ، ملا سراج الدین حقاني او مولوي محمدیعقوب یې دمرستیالانو په توګه تعین او بیعتونه ورسره وشول .

منصور صاحب د نظامي او جهادي امورو ترڅنګ له دنیا سره د تماس او اړیکو دروازې پرانیستلي، سیمې، ګاونډ او نړۍ ته یې دقطر د دفتر او نورو خاصو قاصدانو په ذریعه دا پیغام ورساوه چې اسلامي امارت دکومو دلائلو له مخې اړشوی چې ددرنو قربانیو په قیمت د امریکایي طاغوت په مقابل کې وجنګیږي

په همدې موخه یې د مرحوم ملاصاحب په خوښه د قطر دفتر پرانیستلو ته زمینه سازي وکړه، په ګڼ شمیر هیوادونو کې یې د تماس او تفاهم

نمایندګۍ فعالې او ژوندۍ کړې، دولس دهوساینې په خاطر یې له نړیوالو مهمو بشري سازمانونو سره روابط اسانه اونرم کړل

په ولس باندې د منصور صاحب شفقت او ترحم

ترکومه حده چې زما معلومات دي منصور صاحب به د ولسي-خلکو په تلفاتو، زیانونو او رنځونو سخت خفه کیده په خپله به یې دهرې دغسې پیښې چې ولس ته به پکې زیان اوښتی وو، تعقیب کاوه او ترهغو پورې به ارام نه کیناست چې اصلي علت به یې نه وو پیدا کړی.

په همدې منظور یې د امارت په سطحه د ملکي تلفاتو د مخنیوی او سمع شکایاتو مستقله اداره جوړه او د متخلفینو لپاره یې څانګړې محکمه وګمارله چې ډیر مثبت نتائج یې له ځان سره لرل، دغه ډول یې د ولس په مخ دا اسانتیا هم راوستله چې که کوم مسؤل او یا مجاهد له عام کس سره زور زیاتی کړی وي په ډیر جرائت کولای شي داسلامي امارت مربوطه اورګانونو ته خپل شکایتونه او ستونزې وړوړي

دخلکو د مشکلاتو دحل لپاره یې محاکم په دې مکلف کړل چې دهرچا ستونزې به دهغوئ په خپلو سیمو کې اوري او دحل کوشش به یې کوي.

زما په یاد دي یوځل منصور صاحب د والیانو او کمیسونو مشرلان په ګډه راغوښتي وو او غالبا کلنی او پسرلنی مجلس وو هغه په ډیر صراحت ملکي او نظامي مسؤلینو ته ووئیل: دافغانستان خلک ډیر ځوریدلي او کړیدلي دي، نور د ځور او کړاو تاب او حوصله نلري زما ترټولو مهمه غوښتنه داده چې له ولس سره به زیاتی نه کوی او که څوک زیاتی کوي، اخروي مسؤلیت اوبار خوبه یې په خپله غاړه وي خو زه به مو هیڅکله هم معاف نکړم او که ماته داسې ثابته شوه چې یوه مسؤل قصدا له خلکو سره ظلم او زیاتی کړی، څوک یې ازار کړي او یایې له خلکو په زور پیسې غوښتي نو هغه مسؤل به ارومرو زه عزل کوم او پوښتنه به ورڅخه کوم، منصور صاحب وویل: تاسې فکر وکړئ خپلو امکاناتو ته وګورئ، چې څوک ځای درکوي څوک مو پالنه کوي که دغه ولس دیوې شپې ورځې لپاره هم لاس درنه واخلي ایا په امارت کې دومره مالي توان شته چې تاسې ته صرف ډوډۍ او خوراک څښاک در ورسوي ؟

په همدې ډول یو بل مجلس کې ما شهید منصور صاحب ته په یوه ولایت کې دیبارغونې دیوې پروژې موضوع وړاندې کړه چې د ولس ورته اشد ضرورت دی، خو ځینې مسؤلین یې په مخ کې خنډ جوړوي، کله چې د هغه ذهن خلاص شو چې موضوع حقیقت لري، باور وکړئ! ځای په ځای یې دهغه وخت دنظامي چارو کمیسون مشر-ته حکم وکړ چې نوموړې موضوع په جدي ډول تعقیب او له مخې یې ټول خنډونه لیرې کړي له هغه ورسته یې ماته وویل چې که تا خپله یو کار کړی وای، په دغو ۲۲ ولایتونو کې دې نظر غورځولی وای او پوښتنې دې هم کړې وای چې د بیارغونې هغه کومې ولسي-اوحیاتي موضوع ګانې دي چې ولس ورته زیاته اړتیا لري؛ خو د مجاهدینو له لورې ورته خنډونه جوړشوي. دغه ډول یې ماته دنده راکړه چې په کوم ولایت کې ملکي خلکو ته زیانونه اوړیدل او د مجاهدینو یې غوري پکې معلومیده ترخپل وس پورې یې معلومات راټولوه او ماته یې رالیږه، منصورصاحب ددې لپاره چې معلومات ژر ترلاسه کړي، دخپل خاص ملګري ایمل ادرس یې هم راکړ.

که څه هم دغه دنده زما نه وه خو ددې لپاره چې له ولس سره یې زیات شفقت او ترحم درلود، فکر یې کاوه چې که دا هڅه هم د ولسي-ستونزو په حل او راکمولو کې مرستندویه ثابته شي.

د تعلیم او تربیې او عالي تحصیلاتو کمیسون یې ښه فعال او د خپلې وسې او توانمندۍ په اساس یې ورته امکانات په لاس کې ورکړل، ترڅو ځوان او نوی نسل دښوونې او روزنې له نعمت څخه بې برخې نه شي او هم له تحصیل کرده قشر او علمي مراکزو سره د امارت رابطه ټینګه او ساتلې شي.

دمنصور صاحب ټینګ عزم او قوي موقف

په داسې حال کې چې منصور صاحب (نور الله مرقده) له ولس، ملګرو او عامو مسلمانانو سره دترحم، ګذشت

او نرم مزاجی دنګ منار وو الله پاک لویه حوصله او بهترین خواږه اخلاق ورکړي وو ولې د جهاد او هیواد د لوړو مصالحو سره دومره وفادار او باعزمه وه چي له خپل موقف څخه یو اینچ شاته تګ هم ورته دشهیدانو له وینو سره جفا او غداري بریښیدله،

څو ځله دا خبره ما ورڅخه اوریدلي چي امارت د چا شخصي۔ کور نه دی، هیڅوک باید دخپلو شخصي۔ ظروفو او مصالحو له نګاه ورته ونه ګوري دایو مقدس امانت دی چي په ډیرو پاکو وینو پالل شوی او تراوسه ساتل شوی مونږ بې باید دخپلو ککریو په قیمت دفاع ته چمتو ووسو، منصور صاحب ویل هر فدایي او مجاهد چې هره ورځ د اشغالګرو په مقابل کې دخپلو قربانیو کوم یادګار جوړوي ، زه الله تعالی ته ډیر ډیر سوالونه کوم چي یا الله ددغه شهیدانو او فدایانو وینو او قربانیو ته مو په دې دنیا اواخرت کې خجله مه کړې !

ربښتیا هم چې دمنصور صاحب هاغه التجا او دعا الله پاک ته قبوله شوي وه، دجهاد او شهامت دغه ویاړمنه څیره دژوند تروریستي سلګۍ تنزل او کومې ناوړه معاملې ته اماده نه شو اودیوې لحظې لپاره یې هم کوم ساخت باخت ته غاړه کړه او نرمه نه کړه .

امریکایانو او دهغوئ غلامانو له هره اړخه دسیسي۔ په کار واچولې او درانه فشارونه یې ورباندې پلې کړل ترڅو منصور صاحب هغې نامنهاده سولي او پوچو مذاکراتو ته اماده او چمتو شي چي داسلام او جهاد پکې سل په سله زیان او تاوان وو ؛ خو داسلام او هیواد دغه حقپالونکی مشر دخپل وجود کبابیدو ته ترجیح ورکړه خو دجهاد ، امارت ، فدایانو او سربکفه مجاهدینو سره دیوې لحظې لپاره هم بې وفایي او ناخوانی ته تیار نشو.

امریکایان چې کله دمنصور صاحب قوي عزم او نه پرشاکیدونکی موقف ولید او تربنه مایوسه شول نو بیا یې په ډیر وحشت د شجاعت او خواخوږي د دغه دنګ منار نړولو ته لاس اوږد کړ هماغه وو چې طاغوت او نوکرانو یې د سربکفه لښکر او باعظمته ملت باشهامته امیر یې د خپلې کرغیړنې کینې ښکار وګرځاوه اوشهید یې کړ .

شهید منصور دخپل فولادي عزم، کباب شوي وجود او ویاړمن شهادت په زریعه د حضرت خبیب رضی الله تعالی عنه دقرباني او وفاداري هغه یادتازه کړه چي کله دمکې دمشرکینو او منافقینو له لوري ددار په تخته ودرول شو نو له خولې یې دا زمزمې راوتلې :

ولست أبالي حين أقتل مسلماً * على أي شق كان لله مصرعي**

وذلك في ذات الإله وإن يشأ * يبارك على أوصال شلو ممزع**

هیڅ پروا نه لرم، کله چې د الله تعالی لپاره او د اسلام په حال کې وژل کیږم که په هرڅوا، هر ډول ووژل شم باک یې نه لرم او دا د الله تعالی د رضا لپاره، که هغه وغواړي نو دا ټوټې ټوټې غوښې او هډونه به برکت مند کړي.

منصور صاحب له شهادت وړاندې په داسې حال کې چې ددښمن له کلکو ګواښونو او فشارونو سره مخ وو اویه دې ښه پوه وو چې نړیوال طاغوت او اجیران چې وس یې بر شي هرډول اقدام بې په ضد کوي ملګرو ته یې په وار وار داخبره کړې وه چې دامارت او اسلام دلوړو مصالحو او ګټو لپاره خپلې دغې ککرې قرباني کیدو ته تیاریم خو دمسلمانانو او شهیدانو ددې پاک صف په سر به هیڅکله معامله ونکړم

د شهید امیرالمومنین ملااختر محمد منصور پاک روح ته دعقیدت اودعا په پار لاسونه لپه کوو چې یا الله دشهید امیرالمومنین دستري قرباني او د روان جهادی د لارې دټولو شهیدانو د معصومو وینو په برکت نور زموږ په مجاهد تاتوبي کې اشغالګر او د هغوئ ګوډاګیان په ګوندو، نابود اودافغانانو تنده دیوه حقیقي اسلامي نظام په حاکمیت ماته اوخړوبه وګرځوه!

او مونږ ته ددې توفیق راپه برخه کړه چې دخپل شهید امیر اینبودل شوي جهادي اساسات اوسپیڅلي بنستونه وپالو، پیاوړي یې کړو او د هغه روح داسلامي شریعت په نفاذ خوشحاله او سرلوړي کړو (امین یارب العالمین)

خلیج کې نوې پېښې او

ایران ته د امریکا ګوابنونه

شهیدزوی

په تېرو څوورځوکې په خلیج کې رامنځته شویودېدامنیو خینو پېښو ؛ ددې پېښوپه مقابل کې رامنځته شویو غبرګونونو؛ ګوابنونو اوجنګي تیاریو ته په پام سره په ښکاره داسې ښکاري چې دایران او امریکا لانجه دخرابېدو پرلور روانه ده چې دسیمې زیاتره هېوادونه یې سخت اندېښمن کړیدي.

محترمولوسنوالوبه له مطبوعاتو داخورا مهم خبر اورېدلی وي چې د ۲۰۱۹ م د روانې جون میاشتې په ۱۲ مې نېټې دوه دتېلو سمندري امریکایې ټانکرونه چې له دوبی نه یې سنګاپور ته تېل وړل عمان خلیج کې دایران دساحلي سرحد په ۲٦ کیلومتری کې دحملو ښکار شویدي.

پدې اړه دالجزیره تلویزون له لورې په څېور شوي راپور کې راغلي چې پریو سهار مهال په ٦ بجو او ۱۲ دقیقو برید شوی او پر بل سهار ۷ بجې؛دبرید په نتیجه کې دیو ټانکر په یوې برخې کې اور هم لګېدلی دی خو ددواړو ټانکرونو ۲۱ کسیزه عمله دټانکرونو نه په خوندي توګه راویستل شویده؛دعملې له جملې څخه یواځې یو تن ټپي شویدی چې دکښتۍ په مرسته روغتون ته وړل شوی .

دامریکا سمندري ځواکونو ویلي دي چې په سیمې کې د امریکا سمندري جازونه دبریدونو دښکار شویو ټانکرونو مرسته کوي او یو ټانکر یې دډوبېدو نه ساتلی دی.

امریکا ددې حملو پړه پرایران وراچولې ده او یوه داسې ویډیو یې هم خپره کړیده چې پکې داسې ښکاري چې دحملې نه څو ساعته پس دایران پاسداران انقلاب یوه ګشتي کښتۍ پدې دواړو ټانکرونو کې دیو له څنګ نه دداسې انفجاري موادو دلرې کولو هڅې کوي چې لا چاودلي نه وو. دسعودي عربستان دانرژۍ وزیر انجنرخالد الفالح د عمان خلیج کې پرسمندري ټانکرونو شوي بریدونه په سختو ټکو غندلي دي او ویلي یې دي چې ریاض به دخپلو بندرونو او سمندري حدودو دساتنې لپاره ټول اړین ګامونه پورته کړي.

دسعودي عربستان دباندنیو چارو وزیر عادل الجبیر بیا ویلي دي چې دامریکا له لورې چې پرایران ددې بریدونو پړه وراچول شوې زموږ لپاره دتائید وړ ده او زموږ سره هیڅ داسې دلیل نشته چې دامریکا دباندنیو چارو وزیر پومپیو دا دعوی پرې رد کړو چې پدې حملو کې دایران لاس دی.

خو دایران دباندنیو چارو وزیر جواد ظریف پدې بریدونو کې دایران لاس لرل په سختو ټکو رد کړي او دامریکا دعوی یې سراسر بې بنسټه ګڼلې ده.

رښتیاهم چې دامریکا دسمندري ځواکونو له لورې خپره شوې دا ویډیو ډېر وضاحت ته اړتیا لري .

دیو ټانکر مالک هم دامریکا ادعا رد کړیده او ویلي یې دي چې له لاندې نه ، نه بلکې له هوا نه پرټانکرونو بریدشوی .

له دې وړاندې دمې میاشتې په دوهمې لسیزې کې دعراق پلازمېنې بغداد کې دامریکا دسفارت ترڅنګ توغندي پریوتي و چې ځاني زیان یې نه درلود؛امریکا ویلي و چې دا دایران له لورې دامریکا پرسفارت دتوغندویې برید هڅه وه چې ناکامه شوه او دامریکا دسفارت پرځای توغندی دامریکا دسفارت په څنګ کې پریوتلو.

له دې توغندویې برید نه پس دامریکا ولسمشر، ټرمپ ایران ته ګوت څنډنه کړې وه او ویلي یې و چې ایران دې له خپلو ناوړه کړنو لاس په سر شي ګینې دخپلو ناوړه کړنو عواقبو ته دې ځان تیار کړي.

ایران دامریکا دا دعوی هم بې اساسه ګڼلې وه او پدې توغندویې برید کې یې دخپل هېواد لاس لرل رد کړي و.

همدا راز دمې په دوهمې لسیزې کې دسعودي دتېلو په ستر شرکت او دعربو دمتحده اماراتو پرساحل دتېلو پرباروړونکو سمندري جازونو باندې بې پیلوټه طیارو بریدونه کړي وو.

دا بریدونه چې حوثي ملېشو یې مسئولیت پرغاړه اخستی و دایران او امریکا ترمنځ دتاو تریخوالي درواني لړۍ مهمه کړۍ ګڼل شوې وه او دسعودي عربستان دولت یې پړه پرایران وراچولې وه او ترڅنګ یې دا هم ویلي و چې سعودي عربستان جنګ نه غواړي خو دهر چا دجارحیت دجواب ورکولو کامل توان لري او ورته تیار دي.

اوس چې دامریکا اوایران ترمنځ حالات ډېر خراب دي اودخرابوالي اصل لامل دایران اتومي پروګرام دی نوبنه داده چې دایران اتومي پروګرام ته یوه څغلنده کتنه وکړو .

دایران ددې لاتجمن اتومي پروګرام پیل دنیمې پېړۍ نه هم وړاندې په ۱۹۵۷م کال کې دامریکا په مرسته دسوله ایزو اهدافو لپاره شوی و؛ بیا ۱۰ کلونه پس یانې په ۱۹۶۷م کال کې دایران دولت په پلازمېنې تهران کې داتومي انرژۍ مرکز جوړ کړ او کال پس یې دسوله ایزو اهدافو په موخه اتومي پروګرامونو ته دودې ورکولو او داتومي وسلو څارګرې نړیوالې اداري N.P.T سره تړون لاسلیک کړ ؛له دې وړاندې یې داتومي انرژۍ نړیوالې اداري I.A.E.A سره هم تړون لاسلیک کړی و.

امریکا،فرانسې،المان،روسې او سویس نه یواځې داچې هغه مهال یې دایران داتومي پروګرام نه خپل حمایت ښکاره کړی و بلکه یادو او نورو هېوادونو پکې دسونو ملیونو ډالرو پانګونه هم کړې وه چې له امله یې دایران اتومي پروګرام ډېر په تېزۍ مخ په وړاندې تللی و نو څکه سی آی ای په خپل یو خپور کړي راپور کې ویلي و چې که د۱۹۸۰م پورې درضاشاه پهلوي اداره پاتې شوه نو دایران اتومي پروګرام به دهند داتومي پروګرام نه وړاندې ولاړ شي.

خو دا چې په ایران کې په ۱۹۷۹م کې دخمیني انقلاب رامنځته او درضاشاه پهلوي اداره ړنګه شوه نو نړیوالو شرکتونو دایران په اتومي بټیو کې خپل کارونه بند کړل او دایران اتومي پروګرام په ټپه ودرېدلو.

بیاکابویوه لسیزه پس یانې په۱۹۹۰م کال کې دروسې داتومي چارو اداري دایران په اتومي پروګرام کې مرستې کولو ته چمتووالي ښکاره کړ چې ددواړوهېوادونو ترمنځ تړون رامنځته شو ؛ایران دروسې دساینس پوهانو نه ښه ډېره ګټه پورته کړه.

د Roscosmos نومې دولتي اتومي اداري په شمول دروسې ۵ شرکتونو دایران په اتومي ټیکنالوژۍ او توغندیو جوړولو کې ډېره مرسته وکړه.

پدې وخت کې چین،فرانسې او ارجنټاین هم داتومي انرژۍ دلاسته راوړلو لپاره دایران سره مرستې وکړې.

په ۱۹۹۲م کې په ړومبي ځل ایران داتومي پروګرامونو دڅار نړیوالې اداري I.A.E.A ته اجازه ورکړه ترڅو دایران داتومي پروګرام له نېږدې وګوري.

دې اداري دایران داتومي پروګرام په اړه اطمینان ښکاره کړی واو ویلي یې و چې دا پروګرام یواځې دسوله ایزو اهدافو لپاره دی.

خو بیا په ۲۰۰۳ م کې ناڅاپه دې اداري دایران داتومي پروګرام په اړه خپلې اندېښنې ښکاره کړې او ویې ویل چې ایران خپل ټول اتومي پروګرام نه ښکاره کوي او دسوله ایزو اهدافو دترلاسه کولو په پلمه خطرناکې اتومي وسلې جوړول غواړي.



دیادي اداري داندېښنو ښکاره کولو نه پس دملګرو ملتونو اداري ایران ته حکم وکړ چې خپل اتومي پروګرام دې ودروي خو ایـران تـل اصرار کـړی چې پروګـرام یـې سـوله ایـز دی اودملګرو ملتونو له لورې یې دودرولو غوښتنه غیرعادلانه ده.

دا چې ایـران خپـل اتـومي پروګـرام ونـدرولو نـو دملګـرو ملتونو او هم دلویدیځوالو ګنو هېوادونو له لورې پرې اقتصادي بندیزونه لګېدلي دي او هم یې پرضد دملګرو ملتونـو پـه امنیـت شورئ کې تراوسه ۸ طرحې منظورې شویدي.

د۲۰۰۳م کال نه تر ۲۰۱۵ م کال پورې کابو ۱۲ کلونـو تـه که وګورو نو وینو چې دا اوږده موده دایران داتومي پروګرام پـه اړه ډېره لانجمنه او ستونزمنه وه چې پکې یو لـور تـه ایـران تـه ګواښـونه کېـدل؛پرې اقتصـادي بندېزونـه لګېـدل او پرضـد یـې طرحې منظورېدلې او بل لور ته ایران مسلسل پدې هڅو کې و چې داتـومي انـرژۍ نړیوالـه اداره I.A.E.A او نړیـوال ځواکونـه پدې باوري کـړي چې اتـومي وسلې جوړول نـه غـواړي بلکـې پروګرام یې دسوله ایزواهدافو لپاره دی.

سره له دې چې ایران دامریکا په شمول دنړۍ ټولو لویو طاقتونو ته په ډېر تاکید او جزم دا خبره کوله چې پروګـرام یـې دسـوله ایـزو اهـدافو لپـاره دی خـو پـه پټـه یـې دبالاسـتیکي توغندیو جوړولو کار هم ډېر په تېزۍ روان و.

په ۲۰۱۵م کال کې چې بارک اوباما دامریکا ولسمشر و د ایران په اړه دامریکا په تګلاره کې ډېر لوی او حېرانونکی بدلون رامنځته او امریکا دایران سره جوړ جاړي ته تیاره شوه.

چې ورسره سم دامنیت شورئ پنځه نور غړي او جرمني هـم پـدې هکلـه خپلـه لېوالتیـا ښـکاره کـړه اود ۲۰۱۵م کـال د اکتوبرمیاشـتې پـه ۱۸ مـې نېټـې د Joint Comprehensive Of Action(JCPOA)

په نوم د ایران اوشپږو هېوادونو(امریکا ،روسې ، چین ، برتانې فرانسې اوجرمني) ترمنځ دایران داتـومي پروګـرام پـه هکله تړون رامنځته شو ؛ دا تړون چې پـه ۱+۵ تـړون یـادېږي اروپایې اتحاد هم لاسلیک کړی و.

دې توافـق کـې ددې شرط ذکـر شـوی و چـې ایـران بـه داسې توغندي نه جوړوي او نه به داسې توغندیو ازموینه کوي چې له ځانه سره اتومي سرګلولې منتقلولی شي.

ددېـرو خلکـو نظـر دا و چـې ایـران بـه دامریکـا سره دې رامنځته شوي تړون ته ژمن پـاتي شي او هـیڅ ډول سرغـړاوی به ترې ونکړي خو عجیبه دا وه چې ددې توافـق نـه لـږه مـوده پس ایران یوبل پسې توغندوي ازموینې وکړې چې پکې د۱۷ سوه نه تر ۲ زره کیلومترو پـورې دلـرې واټـن ویشـتونکي هغـه بالاستیکي توغنـدي هـم شـامل دي چې لـه ځانـه سره اتـومي سرګلولې هم انتقالولی شي.

دا هم مشهوره ده چې ایران په شهاب ۵ بانـدې هـم کـار کـړی دی چـې تـر۳۵۰۰ کیلـومترو پـورې لـرې واټـن ویشـتلی شي؛د۳۵۰۰ کیلومترو پورې دلرې واټن ویشتلو معنی دا ده چې که ایران وغواړي نو دروسې،چین،مصر په شمول داروپا او افریقـا زیـاتره برخـه بـه دخپلـې اتـومي وسـلې ترحملـې لانـدې راوستلی شي.

پـه زړه پـورې دا ده چـې ایـران اوس هـم دا وایـې چـې بالاستیکې او نور توغندي یې داتـومي مـوادو انتقـالونکي نـدي

بلکې دا يواځې دخپلې دفاع لپاره دپرمختللې ټيکنالوژۍ لاسته راوړلوکاميابه هڅه ده.

دايران ددې خبرې پرضد دعکس العمل ښکاره کولو په موخه يو امريکايي ساينسپوه ويلي دي چې بالاستيکي توغندي چې اتومي سرګلولي له ځان سره يونسي۔ نو آيا شادوګان به وړي؟

دايران په اړه چې دنړيوالو پوهانو څرګندونو او په مختلفو وختونوکې دايران توغندويي ازموينو ته وګورو نو داسې ښکاري چې دايران اتومي پروګرام په وروستو مراحلو کې دی اوشايد ډېر ژر تکميل شي يا تکميل شوی وي ؛ايران اوس داتومي موادو انتقالونکو سترو او وړو سکاډ توغندو ترڅنګ داتومي موادو انتقالونکو دلرې واټن ويشتونکو بالاستيکي توغندو جوړولو ته هم لاس رسی موندلی دی.

په ۲۰۱۵م کې چې د ايران او ٦ هېوادونو امريکا،روسې،چين،برتانې،فرانسې او جرمنې ترمنځ دايران داتومي پروګرام پرسر تړون رامنځته شونو ايران دخپل اتومي پروګرام دمحدودولو،دغني شويو يورانيمو د زخيرو د راکمولو او نړيوالو لېدونکو ته دايران داتومي پروګرام دلېدنې اجازه ورکړې وه چې په بدل کې يې دايران پرتېلو،نوري سوداګرۍ او بانکونو باندې لګېدلو بنديزونو کې نرمي راغلې وه چې ورسره دنړۍ سره دايران راکړه ورکړه،په نړيوال مارکيټ کې دايران دتېلو پلورل او بانکي نظام په نړۍ کې فعال شو چې له امله يې دايران اقتصاد په ډېرې تېزۍ سره مخ په ښه کېدو شو.

د هغه وخت امريکايي ولسمشر بارک اوباما چې دا تړون يې ايران سره لاسليک کړی و ترڅنګ يې دايران حريفو خليجي هېوادونو ته دا اطمينان هم ورکړی و چې ددې تړون درامنځته کېدو له امله به خليجي هېوادونو ته هيڅ ګواښ متوجې نه شي او نه به ددې هېوادونو سره دامريکا په اړيکو کې خرابوالی راشي.

همدا لامل و چې داتړون په بريالیتوب مخ په وړاندې روان و خو کله چې ډونالډټرمپ دامريکا ولسمشر۔ شو نو د ولسمشر کېدو سره سم يې پردې تړون اعتراضونه پيل کړل او دا يې دشرم نه ډک عمل وګڼلو چې په جواب کې يې دايران ولسمشر حسن روحاني ټرمپ په نړيوال سياست کې نوی باغي انسان وګڼلو.

د ۲۰۱۷ م کال په جنورۍ کې ايران دبالاستيکي توغندو کاميابه ازموينه وکړه چې په مقابل کې يې امريکا پرايران يولړ بنديزونه ولګول او دايران سره درامنځته شوي تړون دلغوه کولوګوت څنډنه يې هم وکړه او ويې ويل چې دتوغندويي پروګرام دپرمخ بيولو په ضمن کې ايران داتومي وسلو دانتقالولو پروګرام ته ځان ورنږدې کوي ترڅو دتړون دموادو دپای ته رسېدو سره سم پرې عملي کار پيل کړي.

دايران ولسمشر۔ حسن روحاني دامريکا ددې ادعا په مقابل کې وويل چې ايران دخپل ځان نه ددفاع په موخه دخپل توغندويي پروګرام دپرمخ بيولو حق لري او داتومي پروګرام پرسر درامنځته شوي تړون دايران دتوغندويي پروګرام سره هيڅ تړاو نشته.

په تړون کې شامل پنځه نور هېوادونه چين،روسيه، برتانيه،فرانسه او جرمني وايي چې ايران دتړون مخالفت نه دی کړی،اتومي نړيواله اداره I.A.E.A هم منې چې ايران سرغړاوی ندی کړی؛همدا راز دامريکا دباندنيو چارو اوسني وزير پومپيو هم منې چې ايران مخالفت ندی کړی خو ټرمپ دخپلې ناآرامۍ نه وا نه وښت ؛دهيڅا يې هم ونه منله او د ۲۰۱۸ م کال دمئ په ۸ مې نېټې يې داتومي تړون نه يو طرفه وتل اعلان کړل چې نورو ۵ هېوادونو دټرمپ دا اعلان وغندلو خو ټرمپ يې څه پروا ونه لرله.

ټرمپ بيا ۲ مياشتې پس دايران ولسمشر حسن روحاني ته دلېدنې دعوت ورکړ او ويې ويل چې دايران ولسمشر چې هر وخت وغواړي کولای شي چې راسره وګوري خو ايران دټرمپ غوښتنه رد کړه او ويې ويل چې ترڅو امريکا تړون ته بېرته راستنه شوې او دايران د خپلواکۍ حق يې نه وي منلی خبرې به ورسره ونکړي.

ټرمپ بيا د ۲۰۱۸م کال په اګست کې پرايران اقتصادي بنديزونه ولګول او ترڅنګ يې دا هم وويل چې پرايران ددې بنديزونو نه پس که کوم هېواد دايران تېل وپېرل امريکا به ورسره ټول اقتصادي روابط پرې کړي.

ایران دامریکا ددې اقدام په باره کې وویل چې امریکا په زور نړۍ دایران دتیلو اخستلو نه نه شي منع کولای.

ایران ددې ترڅنګ دنړیوالو محاکمو دروازه هم وټکوله چې مثبتې پایلې یې ولرلې او نړیوال عدالت دایران په حق کې پریکړه وکړه ؛ اروپایي اتحاد هم دټرمپ پریکړه بې انصافي وګڼله خو ټرمپ دهیڅا دخبرې پروا ونه ساتله او په خپلې پریکړې کلک ودرېد.

اوس چې د ۲۰۱۹ م دمۍ په ۸ مې نېټې ددې ټرون نه د امریکا دوتلو یو کال پوره شو امریکا په نړۍ کې دایران په الومنیمو ، مسو اوفولادو هم بندیز ولګولوچې دایران دباندنیوچارو وزیر جوادظریف یې په مقابل کې معقول غبرګون ښکاره کړ اواعلان یې وکړ چې که چیرې د JCPOAترون نورپنځه غړي هېوادونه چین،روسیه، برتانیه، فرانسه، جرمني او ترڅنګ یې نور اروپایي هېوادونه په ۶۰ ورځو کې دننه د خپل مسئولیت په ادا کولواو پرایران د لګول شویو اقتصادي بندېزونو پرضد په عملي اقداماتو ونه توانېدل نو ایران به دیورانیمو دغني کولو په باره کې ازاد وي خو ترڅنګ به یې دایران داتومي پروګرام په اړه درامنځته شوي ترون نه ونه وځي او ټولو مهمو شقوقو ته به یې احترام ولري.

دایران ددې اعلان په مقابل کې دبرتانې دباندنیوچارو وزیر جریمي هنټ خپل تشویش ښکاره کړ اوپه لندن کې دامریکا دباندنیوچارو وزیر پومپیوسره له لیدنې وروسته یې وویل چې په JCPOA ترون اتفاق رامنځته کېدل دنړیوالې ټولنې لپاره لوی لاسته راوړنه او ددې ترون ثمرات ضایع کول به دنړۍ ستره بدنصیبي وي ؛هغه زیاته کړه چې که ددې خبرې ببړنی حل راونه وتلو ایران به بیا داتومي وسلو جوړول پیل کړي چې له امله به یې خلیج بد امنه شي .

همداراز دروسې دباندنیوچارو وزیرسرګې لاوروف له ایرا نه دصبر اوپه سوله ایزه توګه دستونزې دحل غوښتنه کړیده اوترڅنګ یې داهم ویلي دي چې ایران د JCPOA ترون ته ژمنتیا ښکاره کړیده او تر دې مهاله یې هیڅ سرغړاوی نه دی کړی خو دترون نه دامریکایو طرفه وتلو یوبد مثال قائم کړ.

دخبرانتیا خبره ده چې ټوله نړۍ دامریکا درېځ سراسر ناسم بولي خوځوک دې ترون ته دژمنتیا او دامریکا د اقداماتو سره دمخالفت ښکاره کولوخبره نه کوي .

نوره نړۍ خونوره ده په روسې ، چین ، برتانې ،فرانسې اوجرمني کې هم دومره اخلاقي جرأت نشته چې په خپل لاس دخپل لیکل شوي ترون نه دفاع وکړي اوپرایران دامریکا بندیزونه رد کړي.

ایران چې دخپل خان نه د دفاع دچمتو والي خبرې کوي همدا خبرې امریکادخپل خان لپاره اخطارونه ګڼي او وایي چې دایران دهمدې اخطارونو په مقابل کې یې دفارس خلیج ته امریکایي جنګي سمندري بېړۍ او نور جنګي آلات رسولي دي.

دامریکا جاسوسو شبکو خپل دولت ته خبر ورکړی دی چې دامریکا له لورې پرایران دلګول شویو بندیزونو په مقابل کې ایران خپلو امنیتي ځواکونو ته دامریکا په فوځ او نورو اهدافو دبریدونو کولو حکم کړیدی.

دهمدې ۲۰۱۹م کال د مۍ په ۵مې نېټې امریکا یوه ستره طیاره وړونکې سمندري بېړۍ دبحرهند حدودوته راوستله او۴ ورځې پس یانې دمۍ په ۹ مې نېټې بیا دامریکا سمندري ځواکونو وویل چې په بحر هند کې دایران له لورې دتېلوپه سمندري ټانکرونو اوبار وړونکوسمندري جازونو دحملې خطر شتون لري .

ددې خبرې نه ۳ ورځې پس دمتحده اماراتو په فجیره بندر شتو۴ سمندري ټانکرونوباندې منظم برید رامنځته شوچې له امله یې سمندري جازونوته یوځه تاوان ورسېد خوځاني تلفات رامنځته نه شول .

دجون په ۷ مې نېټې چې ددې بریدونوپه اړه د امنیت شورۍ ته کوم راپورورانـدې شوی و تـرې سـعودې ،دعربومتحـده ایـالاتو اونـاروې (چـې دا درې واړه ددې جازونومالکان وو) دا نتیجه واخسته چې ددې احتمال شته چې پدې بریدونوکې د یوهېواد لاس وي خودایران نوم اخستلوکې یې له ډېر احتیاط نه کار واخست.

خو امریکا بې له کوم دلیل وړاندې کولو ایران ددې حملو مسئول وګاڼه حال داچې دسویس اوبوکې دابراهم لنکن په نوم دامریکا ستره سمندري طیاره وړونکې جنګي بېړۍ شتون لري

چې په شتون کې يې دداسې حملې رامنځته کېدل دهيچاپه اند دامکان وړ ندي .

نوځکه هرڅا ويل چې داد امريکا له لورې جوړ شوی پلان دی

ټرمپ چې کال وړاندې يې دنويو بنديزونو دلګولوپرمهال دايـران ولسمشرته د خبروکولو دعوت ورکړی و اوس لـه دې خبرې نه هم پـه شا شوی او ويلي يـې دي چـې دايـران سره دهيڅ ترون درامنځته کېدو امکان نشته په مقابل کې يې دايران روحاني مشر ايت الله خامنه يې هم ويلي دي چې ټرمپ ددې وړندی چې ورسره خبرې وشي .

نو اوس پوښتنه دا ده چې دايران په هکله دامريکا ارادې څه دي ؟

دامريکادولسمشرټرمپ سختتو ډکو ته په پام سره ځني شنونکي فکر کوي چې شايد امريکا دايـران پرضد محدود نظامي عمليات ترسره کړي.

خو دمنځنې ختيځ دچارو هغه پوهان چې حالات ډېر پـه دقت څاري هغوئ دا فکر ردوي او وايي چې دايـران پرضد دفوځي اقدام کومه ستره وېره نشته .

اصل خبره دا ده چې ايـران کـه هر څومره ستر اتومي ځواک شي او جنګي وسايل يې که هر څومره پرمختللي شي امريکا اونورې لويديځې نړۍ ته يې خطرونه متوجې کېدل لـه حقيقته لرې اولـه مبالغې ډکه خبره ده ؛ حقيقت دادی چې دايران ټيکنالوژي اووسايل دامريکا عشر عشير تـه هـم نشي رسېدای؛ امريکا خو امريکا ده،دامريکا دنورو غربي اتحاديانو توغنـدويي ټيکنـالوژي هـم ډېـره پرمختللـې ده او اتـومي پروګرامونو يې ډېر اوږد واټن وهلی دی ، پداسې حال کې چې دايران دا هرڅه نوي دي او دلويواتومي طاقتونوسره يې داتومي ځواک برابرېدلوپروړاندې لا ډېر اوږد واټن پرمخ دی .

ترکومه چې داسرائيلو خبره ده نو اسرائيل پخپله هم اتومي ځواک دی او دامريکا اتوم او ټول عسکري ځواک هم داسرائيلو په خدمت کې دی.

نو دايران اتوم به څه داسې شی نه وي چې امريکا يا دامريکا اتحاديان ورنه وه وېرېږي.

هو!دايران اتومي ځواک دټولې عربي نړۍ لپاره دخوف او وېرې يوه لويه نښه ده چې امريکا هم همداسې غواړي او څپلې ډېرې ګټې په همدې کېويني.

امريکـا دايـران پـه اړه ترډېـره حـده لـه مبالغې نـه کـار اخلي؛ايران چې په فوځي ډګرکې څومره ځواکمن دی امريکا يې دهغې نه ډېرزيات معرفي کوي چې ددې ستر دوه هدفونه دي يو خو دا چې ټوله عربي نړۍ دايران نه پـه سختۍ وېـرې کـې وساتي ترڅـو عـربي هېوادونـه امريکا څپـل نجات ورکـونکې وګڼـي ؛ هريـو هېواد خپلـه دننـنۍ او بهرنـۍ تګلاره دامريکـا دخوښې سره سمه برابره کړي ؛ په خليج کې دامريکـا حضـور اړين وګڼي اوپـه نتيجـه کـې يـې ټـل ترټلـه پروسـايلو دامريکـا قبضه وي.

دايران په اړه دمبالغې دوهـم سـتر هـدف دا دی چـې پـه سيمه کې دوسلو زياتولو مسابقه رامنځتـه شي او بـدای عـربي هېوادونه ښې ډېرې وسلې له امريکا نه واخلي او امريکا هرکـال له دې لارې په مليارډونو ډالر ترلاسه کړي.

دچاروپوهـان وايـي دشـام ؛عـراق اويمـن پـه جنګونـوکې دايران دراښکېلو يوسترهدف هم همدادی.

ايران چې دټېلوښـې ډېـرې زېرمـې اودکرهنـې اومالـداری لپاره ښه فراخه ځمکې لري ؛ صنعت اوتجارت يـې ښـه کامياب دی اودخليـج اوټـول منځنـي ختـيځ پـه هېوادونـوکې يـوهم پـه نظـامي ډګرکـې دځـان سـيال نـه بـولي نودسـيمې دهېوادونودخوشـالی اوځفګـان ډېـره پـروا نـه سـاتي ؛ متقابـل احـترام ېبخـي نـه ښـکاره کـوي اونـه ددې هېوادونـوسره دښوروابطواوداعتماد دفضا رامنځته کولولپاره څه خاص هڅې کوي چې داايران يوه لويه کمزوري ده ؛ که ايـران داکمـزوري له ځان نه وويسته اودسيمې دهېوادونويـه اړه يـې خپل دريځ کې بدلون راوستولونو دا به د ايران اوعربي هېوادونو لپاره ډېـره ګټوره وي ګينې ايران اودسيمې نور اسلامي هېوادونه بـه سـتر مادي اومعنوي تاوانونه زغمي اوپه ترڅ کې بـه يـې دامريکـا او نورو شيطاني قوتونو شوم پلانونه تطبيقېږي .

ایا امریکا د خپل موجودیت لپاره نورې بهانې تراشي؟

ارمان

امریکا په تیرو څو میاشتوکې طالبانو سره دخبرو شپږ مهم پړاونه طی کړل، چې په ښکاره ددې پړاوونو څخه طالبان هم خوښي ښيي اوامریکاهم ترې راضي ده او په راتلونکي کې دواړه لوري دیوې ګډې توافقنامې دلاسلیکولو په اړه [چې عمده محتوا به یې له افغانستانه دخارجي ځواکونوپه وتواوله افغان خاورې نه امریکاته دکوم ګواښ یاخطرپه نه پیښېدو راڅرخي) خوشبیني لري.

داووم پړاوخبرودپیل لپاره دامریکا دبهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیل زاد چې دسیمې دهیوادو په سفربوخت دی ،هغه دامریکا دسیمیزوجنګي شریکانواوسیاسي پاټنرشیفانوسره ګوري اوهغوی سره دسلا اومشورووروسته غواړي قطرته لاړشي اوهلته دطالبانود سیاسي مرکچي پلاوي سره له افغانستانه دخارجي ځواکونو په وتو اوله افغانستانه امریکاته دکوم ګواښ دنه پیداکیدو پر تضمین خبرې پیل کړي

دطالبانودقطردفترویاندسهیل شاهین وار دمخه په امریکا او خلیل زاد داغږ کړی دی چې له افغانستانه دې دخپلو ځواکونو دویستلو مهال ویش اعلان کړي! خو امریکا تردې مهاله داکارنکوي او ترې ډاډه کوي علت یې دکتونکوپه اند دامریکا دوه مخې تګلاره ده چې پوطرف ته طالبانو سره دخبرومیز ته ناسته ده اوبل پلویې په افغانستان کې شپېنې عملیات اوچاپې تربل هروخت ډیرې کړې اودرګرد دطالبانو په مرکزونو اوپټن ځایونوشپېنې عملیات بریدونه کوي او هلته دطالبانو په تس کې ملکي او ولسي-خلکوته درنه مرګ ژوبله اړوي.

ددې سره جوخت دامریکایې جنرالانوله خولونه هم دسولې ضدونقیض خبرې راوزي،اودا سې اندیښنې خوروي چې امریکا دپردې ترشاه یوه بله لوبه روانه کړې اوهغه دزړه نه سوله نه غواړي اونه دخبرو دلارې دافغانستان رواني معضلې ته دحل په لټولوکې رښتیني ده او کوښښ کوي چې بهرنۍ نړۍ ته داسې ذهنیت ورکړي چې دطالبانوسره دسولې وروسته هم دوی په افغانستان کې دداعش لخوا دخطر اودار احساس لري

څو ورځې دمخه دامریکا یې ځواکونو دمرکزي قومندانۍ قومندان جنرال (فرنګ مکنزي) په المان کې یوې غونډې ته په خبرو کې وویل: افغانستان کې داعش اوس هم دامریکا لپاره لوی خطر دی!!

داپه داسې حال کې چې داعش پخپله دامریکادلاسزیږنده دی اوبل داعش دافغانستان دجغرافیې دننه کوم ژوندی اوزمکنۍ واقعیت ندی او نه هم له



تـاريخي، فكـري ، جهـادي اوعقيـدوي پلـوه دافغانسـتان اوافغانانوسره هغه كومه سابقه لري هغـه دافغانسـتان څخـه لري په عراق اوشام كې دسنيانو اوشيعه ګانو تـرمنځ دنفـاق وشقاق اودښمنی. اچولو په موخه امريكا رامنځته كـړې يـوه فتنه ده چې په سبب يې مسلمانانوبالخصوص سني عربانوته نه جبرانيدونكي اوپـراخ زيانونـه واوښـتل او نـوم يـې هـم د دولت العراق والشام څخه مخفف دی چې په افغانستان او افغانانوپورې كوم نسبت نه لري.

ليكن د امريكا منافقت په دې لړكې هم دپامه غورځول كيـدای نـه شي، بيشـكه دعـراق اوشام نه يې دلتـه يوشـمير داعشـيان ددې لپـاره پخپلـو طيـارو كـې انتقـال كړل څو دامارت او مجاهدينو لپاره يې دستوني هـډوكی وګرځوي اودعـراق په څير دلته هـم د مجاهـــــــدينو دپرمختـګ لارې ونيسـی اوپـه افغانستان كـې هـم دشيعه اوسني تـرمنځ ددښـمنی اورونـو پـه بلولو سره خپلـې پټـې استعماري موخې ترلاسه كړي.

بيشكه امريكا په عراق اوشام دواړو كې ددې فتنې پـه رامنځته كولو سره هغه ډېر څه ترلاسه كړل چې شايد پخپل لاس به ورته دهغو ترلاسه كول اسان نه و، دلته يې هـم ورتـه بد نيت درلود خو لله الحمد داسلامي امـارت مبتكرقيـادت دوخت دحساسيتونو په درک كولو سره دامريكـا ددې ارادې په وړاندې دپولادي ديوال په څيرودريـد اوداعـش فتنـه يـې دسر پورته كولو پـه مهال وځپلـه اودهغې غځيـدونكې يـې ريښې يې په بيخ كې وويستې البته يـواځې دهيوادپـه ختـيځ (ننګرهار) په يوه محدوده سيمه كې محدود شتون لري چې هغـه هـم پـه دې وجـه تراوسـه پـاتې دی چې امريكـا ورتـه لوژستيكي مرستې رسـوي، اوكلـه چې داسلامي امـارت مجاهدينو دهغـوی دځپلو پـه موخـه عمليات شروع كـړې امريكـا اوكابـل اداره دطلبانوپـه ليكوبمبـاردشروع كـړې اودطالبانو دپرمختګ مخنيوي وكـړې كـنه هغـوی بـه هـم وخـت پـه سرځپـل شـوي وو او دشـتون څخـه بـه يـې دننګرهارپتمن ولس تـه نجات وركړل شوی و دكتونكو په اند امريكا كوښښ كـوي چې داعشي فتنـه ديوې حربې پلمې پـه توګـه تقويـه اوبيرتـه په پښوودروي اوورته نفوذ وركړي څو هغـه تاريخي اوبد شكست چې امريكايـانو دلتـه دافغانانوله لاسه وليد غچ يـې دداعـش پـه مټ لـه افغانـانو واخلي لـيكن داچې دامريكا په وړاندې اسلامي امارت د واحد جهادي صـف پـه توګه شتون لـري دامريكـا دغـې تـوطئې او دسيسې نشي كاميابيدای او كه خدای كول دتيـر پـه څيـر داخـل بـه هـم دناكامی پرته بل څه ونه مومي

دیادامريكايي جنرال د وينا په غبرګون كې دافغانستان اسلامي امارت وياند ښاغلي ذبيح الله مجاهد سملاسي دهغه كړې دعوه په كلكه رد كړه چې ګواكي داعش پـه افغانسـتان كې پراخ شتون لري



رسنیوته دنوموړي لخوا په لیږل شوي غبرګون پاڼه کې راغلي: اسلامي امارت اوافغان مجاهد ولس دداعش په وړاندې کلک مقاومت کړی دی، دهیواد داکثرو برخوڅخه یې دداعشي فتنې ریښې ویستلې اویوازې د هیواد یخ ختیځ کې په یوه محدوده سیمه کې دامریکایي اشغالګرانواودکابل اداري دهوائي څواکونوپه مرسته شتون لري.

چې همدا اوس هلته داسلامي امارت مجاهدین یې پخپلو لګیادي، او کوښښ کوي چې ولس ته د داعشیانو له ظلمونوڅخه نجات ورکړي خو امریکا او کابل اداره مسلسل دمجاهدینو مرکزونه بمباروي اووړاندې چاپې غورځوي اوداعش په لوردمجاهدینو دپرمختګ په وړاندې خنډونه اچوي اوپه داعش دمجاهدینو دفشارمخنیوی کوي ورته دبیاراټولیدوچانس برابروي

دشاغلي مجاهد په وینا: که امریکایي جنرلان واقعاً داعش دامریکا لپاره ګواښ بولي اوربښتیا ترې خطر احساسوي نوبیا ولې دهغوی دبقا لپاره دامارت څواکونو دپرمختګ په وړاندې خنډونه اچوي او داعشیان دمجاهدینو دځپونکو بریدونو څخه ژغوري

معلومېږي امریکا په افغانستان کې پخپلو شرموونکو پلانونو، ستراتیژیو اودشومواهدفوله ټاکلوڅخه لا هم سترې نده او هنوز لګیاده افغانستان کې خپل برغلیزسیاست پرمخ وړي او د خپل بدنام اوناکام پوځي شتون لپاره نوي پلمې اوبهانې تراشي لیکن ښکاره ده چې دامریکا دابدمرغه ارادې به هیڅکله هم کومه نتیجه ورنکړي او نه به په دې بدمرغه موخه او اراده خپل نامشروع شتون ته مشروعیت ورکړای شي

البته مونږ ته په دې ضرور پوهیدل پکاردي چې امریکایان نوردشعور په منطق نه پوهیږي هغوی سره یواځې دکوتک په منطق خبرې ګټه لري باید فکر وکړوترڅو به موږ هره ورځ دلسګونه هیواد والوجنازې په اوږو وړو؟ ایا نور افغان ولس دومره تحمل او حوصله لري چې دخپلو نازولو نورې جنازې هم پورته کړي؟ باید افغان ولس په دې باندې دیو ولس په توګه غور وکړي امریکا خو ددوی دټولوژنې اونسلي قتل عام لپاره هره ورځ نوې بهانې او پلمې تراشي هو! ددې یوعلاج شته چې هغه دادی چې افغان ولس ددې شرمونکي ژوند دپای پریکړه وکړي اوټول وکړي پورته شي کفنونه له سرو وتړي دامریکا په پوځي هډو اوبیسونو ورشي یا به ووژل شي چې دټل لپاره به ددې شته بې ننګۍ او خجالتونوڅخه خلاص شي او یا به وحشي امریکایان ټول دتیغه تیر کړي او خپل هېواد به د دوی دپلیت وجود نه وژګار کړي باوردی چې داعزم اوهمت به افغانان ولس دټل لپاره ددې عذابونو او دردونوڅخه وژغوري اوسرلوړی ژوند به وروبښي کنه امریکا کله په یوه اوکله په بله بهانه د دوی دټولوژنې ددوام لپاره دسیسې او توطئې جوړوي اوتري لاس په سرکېږي نه...

محمد مرسي خپل رسالت اداء

او د عبرت لوی درس یې شاته پرېښود



خلیل - عزیز

د روانې میلادي میاشت جون په ۱۸ ورځ د مصر هیواد دولتي سرچینو راپور ورکړ چې دنوموړي هیواد معزول ولسمشر (محمد مرسي) په داسې حال کې چې محکمې ته حاضر شوی وو او د قاضي پوښتنو ته یې ځوابونه ویل یو ناځاپه یې ساه بنده او د زړه د سکتې په نتیجه کې وفات شو

په ۲۰۱۱ م کال کې چې کله په ځینو عربي هیوادونو کې د عربي بهار په نامه ولسي-پاڅونونه او لاریونونه ترسره شول په مصر-کې هم د حسن مبارک فرعوني رژیم د پاڅون والو د سترو لاریونونو په نتیجه کې سقوط وکړ.

د ۲۰۱۲ کال د عامو انتخاباتو په ترڅ کې محمد مرسي د مصري ولس قاطع رایې وګټلې او د نوموړي هیواد په تاریخ کې مرسي لومړی ولسمشر-وو چې د خلکو په رایه او خوښه واک ته ورسېد.

له مرسي پرته دمصر-واک هرځل جنرالانو او پوځي دیکتاتوراتو د بلابلو کودتاګانو په واسطه اشغال او لاسته راوړی وو او د خپلې خوښې سلطه او قانون یې هلته رایج کړی وو.

محمد مرسي واک ته له رسېدو سره سم په قضائیه قوه او اساسي قانون کې یو لړ بدلونونو او تغیراتو ته لاس اوږد کړ د مرسي فکر دا وه چې له هغو سره به مصر-په اقتصادي او سیاسي دګرونو کې پرمختګونه وکړي او د امریکا او ځینو عربي هیوادونو له استشمار څخه به نجات پیداکړي ؛ خو امریکا، اسرائیل او سعودي عربستان ټول ډېر ژر لاس په کار شول په خاص ډول یې د حسن مبارک د رژیم پاتې شونو جنرالانو ته دنده وسپارله چې د مرسي په وړاندې کړی تنګه او خلک یې په ضد راوپاروي

هماغه وو چې یو شمېر ډلو ټپلو د مصر دصدارتي مقام په مقابل کې لوی اعتراضونه پیل کړل ، مهمه غوښتنه یې دا وه چې مرسي باید له واکه څخه لرې او استعفا ورکړي.

د مصري پوځ سر لښکر عبد الفتاح السیسي-د دې پرځای چې د معترضینو او مرسي ترمنځ راپورته شوي لانجه په سوله ییز ډول حل او فصل کړي او ترمنځ یې مصلحانه رول ولوبوي د معترضینو مدافع وکیل جوړ شو له مرسي یې غوښتنه وکړه چې د ۴۸ ساعتونو په موده کې یا د خپلو مخالفینو غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي او یا هم له واکه لاس په سر شي

۴۸ ساته لا پوره شوي نه ول چې سیسي په ډېر قساوت کودتا وکړه او مرسي یې له زرګونو مخکښو ملګرو او د اخوان المسلمین له غړ سره یو ځای زندان ته ولېږه.

د حیرانتیا ځای خو دا وو چې د امریکا ، غرب او عربي هیوادونو په ګډون هیچا هم د السیسي- دغه غیر اخلاقي او غیر جمهوري اقدام محکوم

نــه کــې بلکــې امریکــا ، اسرائیــل او سعودي عربستان څو ګامه نـور هـم پـه مخ ولاړل او د مصر ـ اخوان المسلمین ګوند یې په تړیوالو تروریستي ډلو کې داخل او هر ډول بندیزونه یې وربانـدې ولګول.

د امریکا او اسرائیلو وفادار غـلام سیسي د دې لپاره چې خپلو بادارانو تـه نور هم خـوش خـدمتي وکـړي محمـد مرسي ته یې د شاوخوا پنځه کلن زندان په دوران کې د خپلو فرعوني قاضیانو او محکمو په توسط بېلا بېلې سـزا وې واورولې.

د ۲۰۱۴ کال د اپریـل پـه میاشـت کــې یــوې محکمــې د پــاروونکو تقریرونــو پــه الــزام محمــد مــرسي په ۲۰ کاله بند محکوم کړ.

په ۲۰۱۵ کال دمې په میاشت کې یـوې بلـې محکمـې د نـترول زنـدان د ماتولو په موضوع کې تومـوړي تـه ۱۵ کاله قید سزا واوروله.

قطر ته د مصر د رازونو د ویلو پـه الـزام کـې جـابرې محکمـې د مصرـ منتخب ولسمشر ته ترټولو شـدیده سـزا چې اعدام وه واوروله

خـو پـه ۲۰۱۶ کـال دنـومبر پـه میاشت کې د مصر ـ سترې محکمـې د محمد مرسي د مـرګ سـزا معطلـه هغـه یې په ابدي حبس واړوله

ویل کېږي چې مـرسي د زنـدان په دوران کې سـخت مشـقتونه ګـاللي ، تر پایه د زندان په یوې خونې کـې تنهـا ساتل شوی وو ، لـه بنیادي معالجې او دارو درملو څخه محروم وو د زندان پـه خونه کې یـې پـه یـوه کمـزوري فـرش استراحت کاوه او له خپلې کـورنۍ سره د لیدلو ډیر کم چانس یې درلود.

د مصرـ ظـالم او جـابر دولـت لـه مـرګ وروسـته هـم لـه مرحـوم محمـد مرسي څخه انتقام واخیست د تومـوړي د کورنۍ د یـو څـو غـړو پرتـه یـې نـور هـیڅ چـا تـه اجـازه ور نـه کـړه چـې د مرسي په جنازه کې شریک شي.

محمد مرسي رحمه الله تعالی کـه څه هم اوس نشته ؛ ولې د هغه سرشـاره مبارزه او په داسې یوه هیواد کې چـې د سیاست او قدرت ګـدی تـه د اسلام او دین داعیـه ننویسـتل لـه خپلـې ککـرۍ سره لـوبې کـول وو ؛ خـو مـرسي دغـه لوبه وګټله که څه هم هغـه د لـږ وخـت او یوڅو میاشتو لپاره وه.

مرسي د خپل اقتدار په کمو شپو ورځو کې د مصر په صـدارتي مقـام او دولتي ودانیو کې اسلام شعایر راژوندي ، دین یـې لـه سیاسـت سره ګـډ او لازم ملزوم وګرځاوه.

د مصرـ پـه تیـره یـوه پیـړۍ کـې مرسي لومړنی ولسمشر وو چې په ارګ کــې وزیــران ، جــنرالان او دولتــي چـارواکي پـه داسـې حـال کـې چـې ولسمشر دې په خپله امام جوړ شي یـو نادر او خارق العاده کار وو.

د محمـد مـرسي دغـه همـت او جرائـت بـه کلـه هـم د مسـلمانانو او بادرکه پرګتو له غوږونو ونه وځي چې د نږدي شپږو کلونـو زنـدان پـه مهـال د یوې شیبې لپاره هم له دې خبـرې وانـه وړیـده چـې زه د مصرـ منتخـب او د خلکو دخوښې ولسمشر یم.

محمد مرسي خپـل رسالت او د خپلو خلکو رهبري کماحقه ترسره کـړه او د یوې لحظې لپاره یـې هـم د بزدلـی او تذبذب ښکار ونـه ګرځیـد ؛ ولـې دا یو تـاریخي درس یـې هغـو مسـلمانانو تـه پریښـود چـې د اسـلامي نظـام د را وستلو خوبونه په رایـه(ووټ) یـا غـربي او امریکا دیمکراسي کې ویني.

عــام انتخابــات ، دیمکراســی ، جمهوریـت ، پارلمـان ، دبیـان ازادي ، دبشر ـ حقـوق او نـور ډول ډول رنګیـن غـربي او امریکـا شـعارونه یـواځې او یواځې د هغه چا لپاره دي چې د زړه له تله دغو شعارونو ته ژمن او لـه اسـلامي ارزښتونو او اساساتو سره یې پـه واقعـي معنا مخه ښه کړې وي ؛ دا چې هم دې خــان تینــګ مســلمان او د اســلام د مقدس دین ریښتینی متمسک ګڼې او هــم دې خپــل خــای او څیــره پــه دیمکراسـی کـې وینـې دا هیڅکلـه ممکنه او شونې نده ، که شونې وای نو ډاکټر محمد مرسي رحمـه الله چـې د مصرـ د خلکـو ۵۴ فیصـده رایـې یـې ګټلې وې امریکـا او غربیـانو بـه مجال ورکړی وو چې خپلـه پنځـه کلنـه دوره سرته ورسوي

بهیر افغان

هندوستان کې دډیمکراسۍ او سیکولرزم شکست ...!

هندوستان کې بیاځلي نریندر مودي د صدراعظم په څوکۍ کیناست ، هغـه هندوستان چـې څـان یـې دسیکولرزم علمبردار ګاڼه اوتـل یې دیواځینې لوی جمهوریت په حیث یـه ویاړل.نن هلتـه مـودي دسیکولرزمپه لاش او دهغه دجنازې په ویستو رقص کـړې او دهنـدومت پـال هیـواد دصدراعظم په حیث یې بیاالوړه وکړه اوپه تخت کیناست ...

دابلکل هغه ته ورته دی لکه نتن یاهویـا کـوم بـل یهـودي رهـبر چـې دصـهونیت بیـرغ پـه لاس کـې نیـولی اودخـالص یهـودي دولـت پـه توګـه داسراییـل ګڼلـو پـه بـاور پـه واک کـې راځـي، پـه ورتـه توګـه مـودي پـه هندوستان کـې دارایـس ایـس پـه نامـه دمتعصب او دمسلمانانود دښمن تنظیم بیرغ په پورته کولواو دهنـدوانودخالص تاټوبي ګڼلوپه باور بیا لوړه وکـړه، دلته دخوند خبره داده هغه امریکـا چـې په یمکراسـۍ او سـیکولرزم دواړو کلـک ایـمان لري،پـه دي کـار سره دواړو هیوادو(هند او اسراییل) ته داد ورکوي اولایې په شابې ټپوي چې نور دې هـم هلته په مسلمانانو دژوند کړی راتنګه کـړي او دهغـوی لپـاره دې پـه دواړو هیوادو (هند او اسراییـل) کـې د ژونـد شیبې ترخې کړي...

حال داچې امریکا پـه نـوره نـړی کې پـه جـار دعـوه لـري چې سیاست اومذهب له یوبل نـه جـلادي، د دواړو دکار اوعمل میدانونه بیل دي، خوددې بـاوجـود داسراییـل او هنـد مـدح کـوي اوهغـوی دسیاسـت او دیـن پـه ګـډولو سره سـتایې، چـې سـیکولرزم تـه یـې شکست ورکړ او دیمکراسۍ یې زنـدی کړه او داولې؟ ځکه هلته دسیکولرزم او دیمکراسۍ ګټـه اسلام او مسلمانانوته رسیده، نـو ځکـه هلتـه سیلکولرزم ورتـه دزغـم وړنـه وو او ژرتـرژره یـې ژنـدی کـول غوښـتل، رازم دیتـه چـې پـه هندوستان کې سیکولرزم اودیمکراسۍ دواړه د شکسـت سره مـخ دي، شـاید څوک دانیوکه وکړي چې داخـو سـمه ده چې سیکولرزم شکسـت وخوړ مګـر دیمکراسی کله شکست خوړلی هلتـه خـو مـودي د زیـاتورایو اوډیـرو څوکیوپـه ګټلـو صـدراعظم شـو داخـو بعینـه دیمکراسـې ده؟ښـکاره ده چـې مـودی دا اکثریـت پـه دې شـعار(چې هندوستان خـالص د هنـدوانو مملکـت جوړوي) تیرایستل! نه سیکولرزم! ددېنه وړاندې دهندوسـتان رسـمي دیـن نـه و معلـوم اوهلتـه د ټولـو میشـتو خلکـو ادیانو ته داحترام په روحیه یو دین هم رسمي دین په توګه نه ګڼل کیده مودي او دهغه دګوند له وړاندې دا نـاره وهلـه چې هندوسـتان یـواځې دهنـدوانودی اوپکې بـه دهنـدومت راج وي اویـس، هندوانو ددې شعار پورته کولو پـه بـدل کې ورته زیاتې رایې ورکـړې، هرچې دیمکراسـې پـه هغـه کـې ازادې ده ، دهیڅ دین پیروۍ پکې ضرورنده، هغه کې دین اوسیاست دیوبل نـه جلادي، مودي سیاست او هندومت سره بیرتـه

ګډ کړل او په همدې بې انتخاباتو کې بری ترلاسه کړ

اوس پوښتنه داده چې مودي دومره اکثریت څنګه ترلاسه کړ،ایا هندواکثریت دخپل هیوادځخه یواځې دهندوانو مملکت جوړولو پریکړه کړې؟ایا دهند خلکو دکانګرس موروثي سیاست ته دپای ټکی کیښود؟ اوکه نړیوالو لویوهیوادو مودي دخپلو اهدافو دتکمیل په موخه دوباره په تخت کیناوه؟موږپوهیږو چې داټول معاملات تاثیر او کردارضرور لري ، هندوستان، یواځې دهندوانو هیواد ګرځول دا دهندوانو پخوانی خوب و، خو کانګرس چې لویه اکثریتي او د هند بنسټ ایښودونکی ګوند وهغه نه غوښتل چې په هند کې دهندوانو او دنورو ادیانو ترمنځ هروخت اوبه خړې وي، په دې وجه کانګرس کې دهندو رهبرانو او قایدینو ترڅنګ دمولا حسین احمدمدني اومولانا ابو الکلام ازاد غوندې نومیالي مسلمان رهبران او زعماء هم شامل وو، دکانګرس په پریکړو اوپالیسیو کې دهغوی رول اوکردارتل ښکاره وو.

دا چې کانګرس یوداسې ګوند و چې دهندواکثریت او د مسلمان اقلیت شریک سیاسي ستیج و خو په پریکړوکې بې دمسلمانو رهبرانو(لکه مولاحسین احمد مدني، مولانا ابوالکلام ازاد ، مولاحفظ الرحمان سیوهاوری اونورو) تاثیر ډیروو، په دې وجه دکانګرس هندورهبرانوپر ضد دهندوانو دننه یوبغاوت پیداشو، هغوی دمسلمانانو سره په یوځای کارکول نه غوښتل، هغوی دعوه درلوده چې هندوستان اصلا دهندوانوتاټوبی دی او یکې نور میشت قومونه خصوصاً مسلمانانو دهغو فاتحینو اوجنګیالیو په لښکروکې هند ته راغلي چاچې دهغوی په قول دېیړیو، پیړیو اهیسې هندوان خپل غلامان کړي وو او وربانديې حکومتونه یې کول .دغسې ذهنیت لرونکو هندوانوپه ۱۹۲۵زکې په ناګپورکې د [راشتریه سوایم سیوک سنګه] په نوم چې مخفف یې ارایس ایس دی یو بنسټ پال هندوتنظیم جوړکړ، دې تنظیم دخپلو موخو دترلاسه کولو لپاره ترهګریزو کارونوته لاس واچوه، چې دهغه مهال راهیسې په هندکې دمسلمانانوپه ضد څومره ترهګریزې پیښې چې شوې په هغو ټولو کې ارایس، ایس لاس لري، دهند په ټولو لویوفساداتو کې همدا ارایس ایس لاس لري، ددې ګوند یوتن غړي(ناتهورام) په ۱۹۴۸زکې دکانګرس مشر- او دهندوستان دازادی رهبر مهاتما ګاندي په دې دلیل قتل کړ، چې هغه ولې دمسلمانانوپه اړه نرمه رویه لري،په ۱۹٦۹زکې داحمد آبادپه فساداتو کې هم ار ایس ایس تنظیم لاس درلودپه ۱۹۹۲زکې دارایس ایس ګڼ شمیرغړي بابري مسجدته ننوتل اوهغه یې په شهادت ورساوه .دنریندرمودې روزنه اوتربیت هم دارایس ایس په مرکزونوکې شوې، دبې جې پي په نوم دکانګرس د سیال ګوندټول داول صف غړي دارایس ایس غړیتوبونه لري اوهغوی دارایس ایس اجندا پرمخبیولو په اړه ځانونه ژمن بولي .هغه اجندا داده چې هندوستان دهندوانودی نورمیشت ملیتونه دې ترې وویستل شي، آرایس ایس په لکونو وسلوال غړي اورضاکاران لري هغوی ځای په ځای په مسلمانانو بریدونه خپل مسؤلیت او دیني وجیبه بولي، محض دیوې معمولي پلمې په مندلو سره دمسلمانانو بسته کلي او کورنی قتلوي .دا اوس څو ورځې دمخه یوځای دوه تنو دار ایس ایس غړو څلور مسلمانان دغوي غوښې دخوړولو په تور ووژل حال داچې ازاد منابع وایي چې هغو مسلمانانو عامه سبزې خوړه چې دآرایس ایس بلواګر پرې راغلل او پرته دځنډ یې هغوی څلور واړه په شهادت ورسول

اوس مسلمانان په هند کې دومره ډدار اوبزدلی سره مخ دي چې څلور کسان د دوه کسانو مقابله نشي کولی او دا بلکل هغسې تصویر دی چې کله تاتاریانوپه اسلامي نړی یرغل وکړ، دتاتاریانو فتوحاتو او وحشتونو مسلمانان دومره بزدل اومرعوب کړي وو چې یو،یو تاتاري کس به پنځوس پنځوس مسلمانان ونیول اوهغوی ته به یې په یوه پښه دودریدو حکم وکړ،هغوی به ترهغه ولاړ وو چې هغه تاتاری به لاړ دکورنه به یې خنجر راوړ او هغوی ټول به یې پرې ذبح کړل خو مجال و چې په پنځوسو کسانو کې یوتن هم دازړه کړی وای چې له ځانه مخکې دې هغه یوتاتاری وژلی وای، تردې پورې چې دتاتاریانو یوې ،میرمنې به پنځوس پنځوس مسلمانان په یواځي سر ذبح کول خو دمسلمانانو لخوا به هیڅ مزاحمت نه لیدل کیده، نن ورځ په هند کې په مسلمانانو هغسې حالت راغلی دی چې داحالت نهایتي څورونکی دی، چې

هندوان اوس دومره زرور شوي چې دهغوی دوه تنه پورته کېري دمسلمانانو څلورتنه په قتل رسوي خو مسلمانان کوم مراحمت کولی نشي.

لیکن دهندوستان علماء بیا هم دصد آفرین مستحق دي چې هغوی په دې حالاتو کې بیا هم خپل مشن ته په دوام ورکولو کې ستړي نه ښکاري اولګیادي هندوستاني مسلمانانوته مورال او حوصله ورکوي همدا اوس چې کله نریندرمودي یوځل بیا ټاکنې وګټلې دهندوستان دنومیالي عالم دقلم څو توري مې له نظره تیرشول ډیر مې خوښ شول هغه هندوستاني مسلمانانوته دګټو نورو لارښوونو او توصیو ترڅنګ چې خپلوراتلونکو ملي مسؤلیتونو ته یې په حکیمانه اسلوب سره هغوی متوجه کړې وو دايې هم یې ورته ویلي وو چې:نقصان پورته کول دهیڅ قوم لپاره شکست ندی ،بلکې لوی شکست دادی چې یوقوم خپله حوصله او مورال دلاسه ورکړي ځکه داخلي شکست انسان دبیروني شکست سره مخ کوي ،هغه هندوستاني مسلمانان هڅولي چې باید مایوس نشي.اوخپله اوسنی بزدلې دې پای ته ورسوي او دخپلو ذهني صلاحیتونو ته د قوت ببنلو ترڅنګ جسماني روزنې اوتریې ته هم پام وګرځوي او دخپل مال ،ځان، ابرو او اولادنه په دفاع کولو کې که یوځوک ووژل شو هغه شهید دی

دهند داوسنیو انتخاباتو دنتایجو داعلان وروسته چې کله دپارلمان غونډه راوبلل شوه او دنویو بریالیو وکیلانو څخه سوګند اخستل کیده، دغونډې په لومړي ورځ دپارلمان هندو وکیلانو سوګندونه پورته کړل په دوهمه ورځ دپارلمان مسلمانووکیلانو سوګند پورته کاوه نو په دغه دوران کې د[جی شری رام اورمندر وهی بنی گا] نارې پورته شوې چې دجی شري رام په مقابل کې مسلمانو وکیلانو دالله کبرناري پورته کړې لنډه داچې هندي مسلمانان دیوداسې لوی متعصب اکثریت قوم رحم وکرم ته پاته دي چې هغه دمسلمانانو په اړه دیرخطرناک عزایم لري.

رازم دیته چې په تازه انتخاباتو کې هندوانو دکانګرس موروثي سیاست هم ردکړ چې هغه ورته نور دمنلو وړندی اینده کې به هند به دارایس ایس ترهګر تنظیم داجندا سره سم عمل کوي اوبل بهرنیو استعماري هیوادولپاره هم مودي یو غوره انتخاب دی ځوک چې دمسلمانانو سرسخت دښمن دی اوغواړي په هندوستان کې مسلمانانو باندې دژوند کړی نوره هم تنګه کړي او داهغه کاردی چې دبهرنیو استعماري هیوادو ارمان دی هغوی نه یواځې په هند کې بلکې په ټوله نړی کې په مسلمانانو دژوند کړی تنګولو هود لري ددې لپاره په هندکې ورته دمودي نه بل موزون کس په لاس نه ورته،ددې لپاره دیوسرنه تربله ټولو په یوغږ دمودي برې استقبال کړ او ورته مبارکي یې وویلي

دکټونکو په نظر داچې نړیوال مؤثر جهتونه په راتلونکي کې غواړي په منطقه کې دخپلو ګټو دخوندي کولو په غرض ځینې پریکړې وکړي، دهغو لپاره مودي اهمیت لري اوهغه ورسره په ټولو برخوکې همکاري اوکارکولو ته چمتودی لکه دچین او امریکا سیالي دپاکستان اوهند دښمني، دچین اوهند ترمنځ جنجال او په هندکې داسراییل دنفوذ لپاره دروازې پرانیستل دا هغه موارد دي چې هند ،امریکا او اسراییل په اړه یې یوشان موقف لري، امریکا نه غواړي دچین روان اقتصادي پون هم داسې روان پاتې شي ،هند هم ورته سوچ لري ،خصوصاً مودي دې لړکې زیات حساس او بیدار دی هغه غواړي دچین پرمختیاوې دټکان خوړو سره مخ شي، همدا راز داسراییل سره دهند اوخصوصاً دمودي دوستي ښه نده، حتی اوس په هندي کشمیرکې دمسلمانوپاځونوالو دخپلو لپاره هند غواړي داسراییل نه هغه ټول تاکتیکونه اوتجربې زده کړې کومې چې هغه فلسطین کې دمسلمانانودخپلو لپاره کارولي غواړي ورته تاکتیکونه په کشمیرکې هم وکاروي....

داعش ته ماته،

په سیمه او گاونډیو د طالبانو تلپاتې احسان!

لیکوال: م. جمیل باور

د اسلامي امارت له لوري د اشغال د پای ته رسېدو او د کران هیواد د ازادۍ لپاره له امریکایي لوري سره د مذاکراتو سره هم مهاله، امریکایان هڅه کوي داعش سیمه ایزو او نړیوالو هیوادونو ته تهدید معرفي کړي.

په دې وروستیو کې امریکایي استخباراتي، نظامي او سیاسي چارواکي د یو منظم پلان له مخې داسې څرگندونې کوي، چې داعش واقعي خطر ښکاره کړي، او په عملي توگه هم داعشیان تمویلوي.

اسلامي امارت له زابل، جوزجان ننگرهار او لغمان ولایتونو وروسته داخل د کونړ ولایت په څینو ولسوالیو کې د داعشي فتنه گرو په وړاندې څېونکي عملیات پیل کړي، ترڅو داعشي شراچونکي د هیواد دنورو برخو په څېر کونړ ولایت کې هم له پښو وغورځوي، چې تردې دمه یې دکونړ ولایت گنې درې او سیمې دفساد او شر له اربکیانو تصفیه کړې

تیرکال د هیواد د شمالي ولایت جوزجان په درزاب کې هم داسلامي امارت څواکونو لخوا په داعشي ـ ملیشو څېونکي عملیات ترسره شول کلکه ضربه ولیده او له شرمونکې ماتې سره مخ شول لسگونه یې ووژل شول اوپه لسگونه نور یې طالبانو ژوندي ونیول پاتې داعشیانو دکابل له اداری مرسته وغوښتله او په هلیکوپټرو کې د طالبانو له محاصرې وایستل شول.

هغه مهال نړیوالو او څینو کورنیو رسنیو خبر ورکړ چې د کابل اداري سره یوځای شوي داعشیان د جوزجان ولایت په مرکز کې په یومجهز هوټل کې د درنو میلمنو په ډول ساتل کیږي، له دې مخکې هم په ننگرهار، زابل لغمان اوجوزجان کې ټول د داعش ملیشو او اسلامي امارت د مجاهدینو ترمینځ د جگړو پرمهال د بهرنیو او کورنیو الوتکو لخوا د مجاهدینو د جگړې په لومړیو کربښو درانه بمبارونه شوي، اشغالگرو او د کابل اداري په لوی

لاس داعشي مليشو تـه د تيښـتي لاره برابره کړي او له طالبانو يې ژغورلي.

د ډيرو شنونکو په باور داعش د امريکـا داسـتخباراتي اداري (CIA) او د کابل د حکومت د اسـتخباراتي ارګـان (NDS) لخـوا د اسـلامي امـــارت د

hideen of the Islamic Emirate during the preparation for the Al Khandaq Operations.

د اسلامي امارت استشهادي مجاهدين

کمــــزوري کولو لپاره کـارول کيږي او ترتيرکالـه افغانسـتان کـې د داعـش ترټولو لـوی ملاتړی د اشرف غني د هغه وخت د ملي امنيـت سـلاکار او اوس د جمهـوري رياسـت د ټـاکنو کانديد حنيف اتمر و، چې پـه ګـوډ اتمرهم مشهوردی

اوس يې دنده امريکايي تبعه په اصطلاح دولسمشر غني دملي امنيـت

په چاروکې سـلاکار حمدالله محـب پرمخ وړي

امريکـا او ټولـه اسـلام دښـمنه ټلوالـه هڅـه کـوي چـې د داعشي پروژی له لارې افغانستان کې هم د عراق او سـوريې پـه

خپـر پاليـــسي تعقيب کړي چې پايله کې يې ياد هيوادونـه يـې وران ـ ويجـاړکړل او اولـسونه يـې د اولسـونو پـه لاسـونو ووژل.

دوهم: د امريکاپه مشري ټلوالـه غواړي چې افغانستان د داعش پـه مرکزبدل کړي او بيا ايـران، روسيه، پاکستان او د مينځنۍ آسيا هيوادونه ناارامـه او د سـوريې او عـراق پـه

برخليک يې اخته کړي، او په سيمه کې خپل حضور دوامداره کړي.

درېيم: امريکـا غـواړي، چـې طالبـان پـه يـو وخـت کـې پـه څـو محاذونو کـې پـه جګـړه کـې ښکيل کـړي، او د دوی پـه وړانـدې يـې د جګړې شدت راکم کړي.

خو طالبانو لکـه څنګـه چـې پـه ګران هيواد کـې صليبي اشغالګر پـه ګونډو کـړل، همـــداسي بـــه د صـليبي پروژيـانو داعشـيانو څخـه خپــل اولـــس ژوغــــوري او هيڅاته بـه اجازه ورنکـړي چـې پـه افغانســتان کـــې مـذهبي تفرقـه ايجـاد کـړي او هيـواد يـو نـوي کړکيچ ته ورننباسي، او دغـه راز بـه هيچاته هم اجازه ور نه کړي، چې د افغانستان خاوره د ګاونډيو هيوادونو پر خلاف وکاروي.

افغان اولس ،سيمه او ګاونـډي هيوادونـه بايـد د طالبـانو احسـان ومني، لکه څنګه يې چې هيواد کـې امريکايـان خپلـو شـومو موخـو تـه پرينښودل همداسي به ډير ژر هيواد په ټوليزه توګه له داعشي۔ فتنې هم خـلاص کـړي، چـې هيـوادوال او ګاونډيان به د ارام سا واخلي.

ګلورینې پاڼې

غــزل !

بشیر ویاړ

کـوم چنـار تـه چـې طالـب ډېره وهلـه!
د طالـب د يـارانې پـه تـور شـهيد شـو!

دلتـه داسـې جملـې رسـم دي تـاريخ کـې!
دا د سـپينې عقيـدې پـه تـور شـهيد شـو!

مجـرم نـه ؤ خـو يـوه ګنـاه يـې دا وه!
د څـادر او لنګـوټې پـه تـور شـهيد شـو!

زمـونږ د کـلي طالـب خوبـه ؤرکـی هـم نـن!
د مسـجد او د حجـرې پـه تـور شـهيد شـو!

مدرسـه مـو هـم ټوټـه ټوټـه شـوه يـاره!
سـپين مسـجد د منـارې پـه تـور شـهيد شـو!

ويـاړ پـه وينـو لـت پـت دنګـه ځـواني پـروت ؤ!
د ټوپـک او د چـاتنې پـه تـور شـهيد شـو!

نعتیه کلام

چنار ټکور

مابـه ومنـې کنـه ډک لـه عصـيان يـم
محمـده ! مـدينې تـه در روان يـم

زمـا اوسـتا تـرمنځ تـوپير خـو څـه کـم نـه دی
تـه بادشـا زه خـاک غبـار د بيابـان يـم

لـه غربتـه مـې د تـن جـامې پلـورلې
يـو وګـړی د غريـب افغانسـتان يـم

پـه زاريـو پـه نوحـا درځـم حبيبـه
د ګنـاه پېټـې دروړم سـتړی سـتومان يـم

دژونـدون پـه کـړلېچونو کـې ايسـار يـم
زه لـه ټولـو نـه کمـزوری مسـلمان يـم

ملامـت د خپـل وجـدان پـه محکمـه کـې
سـر مـې ځـوړند پـه خپـل کړنـو پښـېمان يـم

نـه د چـا د سـترګو تـور لکـه رانجـه شـوم
نـه (ټکـور) د خپـل وجـود شـوم نـه درمـان يـم

د اعداد نښې

شعر

فدايي استاد علي "انس"

دستر پاخون د اتحاد نښې دي
سپيني، په لر اوبر هېواد نښې دي

تاريخ به تل دربانديې فخر کوي
وطنه تا کې د جهاد نښې دي

وي به رنګين پرې ترقرننو تاريخ
دلته خورا د استشهاد نښې دي

چې له دښمن راپاتې شوي دلته
لسو نسلونو ته يې ياد نښې دي

داچې طالب په بل نامه پېژني
دسره کافر دا دالحاد نښې دي

چې موزلمي تر ارګه ورسيدل
د رب په مرسته د اعداد نښې دي

رقيب چې نه غواړي دميني په لور
په "انس" دا د اعتماد نښې دي

حافظ محمد قاسم زهيب

ښکاري چې تک شين او سره ګلونه دي
دا مو د وطن د غرو سرونه دي

دلته مو انګريز چنګيز روسان مات کړل
سور غر او ميوند کې يې هډونه دي

نه پريږدي خپل غولي کې د بل قدم
ميشت واړه باتور قومونه دي

مخکې مو وې توري او کمان غشي
اوس بارود واسکټ موټر بمونه دي

کټ مټ فرشتو غوندي ګوزار کوي
زموږ د فدايانو کاروانونه دي

يو د افغاني ميندو اصيل بچيان
سر باندې مو تور او سپين پاجونه دي

را بشي بيا تللي مسافر بازان
ما زهيب ليدلي دا خوبونه دي

پر نورو ډېرو سربېره

یو له پامه لوېدلی مصیبت !!

 # عابد

قلموال مو سیاسي غورځو پرځو داسې په مخه کړي چې اجتماعي مسائل یې ښخي پرې اینبي، په داسې حال کې چې هیوادوال مو دجنګ له بدبختیو پرته له ډېرو نورو مصیبتونو سره هم لاس اوګرېوان دي .

یو له دغو مصیبتونو څخه ترافیکي پېښې دي چې زمونږ په یو وروسته پاته هیواد کې یې په دومره بې مثله اندازه پېښېدل له اټکل ډېر پورته دي .

له هغو ترافیکي پېښو څخه چې زمونږ په هیوادکې رامنځته کیږي که په نوره نړۍ کې یوه دغه ډول پېښه رامنځته شي، ټولې رسنۍ به یې په غم کې ستړي او سرګردانه وي او خدای خبر چې څومره مسؤلین به یې له وقوع سره له دندو ګوښه او مجازات کړای شي، داځو زمونږ هیواد دی چې له اوو سمندرو هاخوا د یویشتمې پېړۍ دبشر۔ خواخوږي دلته راغلي او انساني مرګ یې دلته دومره ارزانه کړی چې د ډېرو لویو غمیزو هم څوک پوښتنه نه کوي .

ډېرځله دیوې ستونزې او مصیبت احساس ترهغو چاته نه کیږي، ترڅو په خپله ورسره مخ نه شي، که له خپلو لوکسو موټرو راښکته شو او په عام ولسي۔ ټرانسپورټ کې له یوې سیمې بلې ته دسفر اراده وکړو، نو منزل ته تر رسېدو به له ټولو هغو کړاوونو خبر شو، چې زمونږ هیوادوال ورسره هره ورځ مخ وي .

په لویو لارو کې دکرایې له خپلسریواونورو ډېرو ستونزو سره په څنګ کې لویه بې پروایي او باعث چې د ترافیکي پېښو او مرګ ژوبلې لامل ګرځي دادي چې دلویو لارو درېوران ډېری د نشه یي توکو معتادان دي اود ترافیکي هدایاتو او اصولو په ځای دنشې په زور د سورلۍ موټر ترمنزله رسوي، په تېره دکابل –کندهار، کابل – هرات او کابل مزار په لویو لارو د سترو ترافیکي پېښو او غمیزو لوی لامل همدا دی .

وایي له انقلاب مخکې به (قادري بس) ترانسپورټ چې له کابله به کندهار او هرات ته چلېدل دومره، په اصولو او مقرراتو پابند وو چې له مقرره وخت څخه به که د څو دقیقو په اندازه هم مخکې یا وروسته ورسېدل په دواړو صورتونو کې به دربور پوښتل کېده چې ولې له ټاکلي وخت مخکې یا وروسته شوې، چې حتی اوس هم لاپه ډېرو هغو هیوادو کې دغه پابندي نه لیدل کیږي چې جنګ ځپلي نه دي او امنیت یې هم خوندي بلل کیږي .

د دغو ترافیکي پېښو یادونه اوپه دې اړه لیکنه له دې امله ضروري بولو چې له یوې خوا مو هیوادوال، په جنګونو، بمبارویو، چاپو ، مینونو، توپونو اوهوانونو وژل کیږي، له بل لوري مو په ترافیکي پېښو کې دهیوادوالو مرګ ژوبله تر دېرش سلنې رسیږي، خو په اړه یې نه کوم دولتي ارګان خبره کوي اونه هم نور نړیوال او خیریه بنستونه څه وایي .

داچې پرهیواد تپلی حکومت خو مو په هره برخه کې له عملي اقداماتو عاجز او بې وسه دی، او په ډېرو اجتماعي ستونزو کې دهیواد په ډېرو ساحو کې طالبانو ته مراجعه کیږي او په دې اړه یې تر ډېره مثبت او دستاینې وړ رول اداکړی، نوکه په دې اړه هم مجاهدین یوڅه پاملرنه وکړي د ډېر لوی هلاکت مخه به نیول شوې وي او یواځې دوی دي چې داکار کولای شي، که څه هم زما دخپلو معلوماتو له مخې دکندهار – کابل په لویه لاره یې په دې اړه ځینې اقدامات کړي چې خورا مثبته نتیجه یې ورکړې، نوکه د هیواد نورو ولایاتو کې هم د وی له خوا دغه ډول دمکافات اومجازات هڅې وشي شاید دنورو دغه ډول پېښو د رامنځته کېدو مخه به ونیول شي .

د فارس په خلیج کې

د یوخطرناک تصادم او ټکر نښې...

بشیر افغان

دفارس په خلیج کې یوځل بیا دقهرځپې په غورځنګ دي،سیالان وحریفان له یوبل سره سترګې جنګوي اوامریکا دایران سره دکوټک په ژبه خبرې کوي،سعودي عربستان هم دې سیالۍ ته چمتو ولاړدی اویکې ځان دچانه پاتې نه بولي دنړیوالو خبرې سرچینوپه وینا: سعودي ولیعهد محمدبن سلمان دعمان په خلیج کې دجاپان دتیلو په دوه ټانکرونودشویو بریدونوپره پر ایران اچولي اوهم یې دهغه خلاف دتنبیهي ګام دپورته کولو غوښتنه کړې.

دمحمدبن سلمان دوینالـه محتوابرېښي چې سعودي دخپلې سلامتیا په وړاندې ایران جدي خطراو ګواښ بولي اوپه وینایې دتیلوپه ټانکرونو دبریدونوهدف دادی چې ایران غواړي دعربي هیوادونودتجارت لارې وتړي اوورته زیان ورسوي

بل پلوایراني چارواکي هم دجاپان دتیلو په دوه ټانکرونو بریدونو حیران کړي دهغوی په اند:دسیمې حالت داندیښنې وړدی اوپه اړه یې دځیرنوغوښتنه کړې!ددې معنی داده چې تراوسه لا دتیلوپه ټانکرونو بریدکوونکي ندي په ګوته شوي اودسمندري لارې امنیت ګواښوونکي عناصرلاندي معلوم،اونه تراوسه دکومې ډلې لخوایې پره په غاړه منل شوې

دکتونکوپه نظردامعامله نهایتي حساسه اونازکه ده اودزیاتوشبهاتو اوشکونوډکه ده چې دنوې پرمختللې ټیکنالوجی په دورکې هم دتیلوپه ټانکرونو بریدکوونکي معلوم نشول؟ داپوښتنه دغور وړده دپوځي چارو کتونکوپه اند(تارپیډو) توغندیو ویشتونکي عناصر توغندي داوبتلونوپرته دورو کیښتیو څخه هم ویشتلی شي په دې وجه ددې خبرې هم امکان شته چې یاد بریدونه داوبتل په ځای دکوچنیو کیښتیوڅخه ترسره شوي وي چې په دې صورت کې یې یوه وړه ډله هم ترسره کولی شي چې هغه دې دهیڅ کوم ګاونډي هیواد پورې اړه ونلري خوپه دې کې شک نشته چې دتیروخومیاشتوراهیسې وقفه، په وقفه په کښتیوبریدونه ښیي چې په راتلونکي کې به دفارس خلیج امنیتي حالت نور هم دستونزو اوننګونو ډک شي .

پوښتنه داده چې ایا امریکا اوایران دواړو خوځوځله داسپیناوي کړی دی چې جنګ نه غواړي نوبیاهغه کوم ځواک دی چې وضعیت دتصادم اوټکر په خوابیول غواړي؟اودفارس په خلیج کې دجنګ سپرغۍ شیندي؟

دسعودي اودیمن دحوثي قبایلو ترمنځ دتیرو پنځوکلوراديخوادروان جنګ وجه هم کیدای شي چې دازادو قبایلوکومه ډله دي په یادوبریدونوکې لاس ولري اوهدف یې نړۍ ته دا اخطار ورکول وي چې په ایران باندې دبرید کولو په صورت کې به په فارس خلیج کې دتیلو تجارت خوندي نه وي اونړۍ ته به ددې لارې څخه ۳۰ سلنه تلونکي تیل دخطر سره مخ شي.

داتول قرائن پخپل ځای په یمن اوشام کې سعودي په ایران دلاسوهنې تورپورې کوي چې دشام اویمن دواړو په ناامنیوکې هغه (ایران) لاس لري، اوهم دا وجه ده چې دتیلوپه ټانکرونوباندې دبریدونو دپېړۍ ګوته ایران ته نیول کېږي اوس دلته پوښتنه داده چې ددغه ډول بریدونوڅخه څه ترلاسه کیدای شي؟داخبره یقیني ده چې دجنګ په صورت کې به دایران مړژواندی اقتصاد نورهم متضرږشي او امریکا اوسعودي به یې په کلکه مقابله وکړي خودکټونکو په اند داجنګ به په ایران سربیره دټولې سیمې لپاره بدعواقب ولري

هو! د دواړو ترمنځ تصادم او ټکر به داسراییل لپاره ګټه ولري زکه چې اسراییل دصدام حسین وروسته دایران پوځي ځواک دځان لپاره داندیښنې وړبولي، خو داچې ایران داسراییل لپاره کوم ګواښ شي له حقیقت سره زیات سمون نه خوري زکه دایران او عربي هیوادو دمسلکي اختلاف نه اسراییل دځان لپاره پوره ګټه پورته کړې اوپورته کوي یې اوهم داکار دهغه دجارحانه برخورد سره مرسته کوي

بل پلودعربو په اړه دایران سخته رویه هم دامنیت په وړاندې خنډ ده دپورته تحلیل په رڼاکې داخبره جوتیږي چې اسراییل دسیمې یواځینی قوت دی چې ورته ددې جنګ نه ګټه رسیدای شي او هم دعربانو او ایرانیانوترمنځ دخروپرو اړیکوپه وجه اسراییل تل دځان په ګټه فرصتونه ترلاسه کړې اوپخپلو کمزوروګاونډیانو یې بریدونوته دوام ورکړی ځنګه چې دتاریخ دحافظې پرلوح داتوري نقش دي چې دعربانو دکمزوریو اواختلافاتو څخه په ګټه اسراییل ځان مستحکم کړ او اوس دخپلې پراختیاغوښتنې پالسیې دپلي کولو لپاره په خلاصو لاسو کارکوي اوپه وړاندې یې یوخندهم نشته

رازم دیته چې مسلمانانوته پکارده چې پخپلو منځوکې داتحاد راوستولپاره کاروکړي اوس هم دفاریس خلیج په اړه اسلامي هیوادونه ویشلي دي، امارات، بحرین، مصر، کویت دسعودي او امریکا سره مله دي او ترکیه اوقطر دایران په پلوی، ولاړ دي، قطر او ترکیې لخوا دایران په دفاع ودریدل داتاثرپیاوړی کړ چې دانړۍ دامریکایانو جایداد ندی چې دوی پکې دخپلې خوښې پریکړې کوي بلکې دنړۍ ازاد قومونه اوهیوادونه حق لري چې هغوی خپلې پریکړې پخپله وکړي دترکیې او قطر وروسته چین هم دایران ملاتړ اعلان کړ چې په دې سره څه ناڅه دجنګ خطرکم شو او ډیره خطره نه لیدل کېږي ددې لیکنې لیکلوپه مهال نړیوالو رسنیو خبر ورکړچې امریکا خپل زرنورعسکر دفارس خلیج ته استوي څو هلته خاپه ځای شي اودمیشت امریکایي ځواکونو سره یوځای دسمندرپه امنیت کې مرسته وکړي اوچین بیا تازه دایران په اړه دامریکا په دریځ نیوکې کړې اوهغه دنړیوالو اصولو اومقرراتوته سرغړونه بللې خوکه بالفرض امریکا بیا هم په ایران دحملې پریکړه وکړي دابه دسیمې په خاصه توګه مسلمانانو لپاره بدې پایلې ولري زکه چې په سیمه کې دوړاندې څخه په یمن، عراق اوشام کې جګړه روانه ده، په دې سره به دجګړې اورتول منطقي ته خورشي همدا راز دامریکا لپاره به هم په ګټه تمام نشي زکه په پوځي او اقتصادي لحاظ دامریکا پخواني غروراوبه شوی دی هغه به دجګړې ددې نوې محاذپه پرانیستلو سره ځان دستونزو یوبل ژورګرداب ته واچوي چې دهغه نه به ورته وتل اسان کارنه وي او شاید همدا جنګ دامریکا د زوال اومرګ په تابوت وروستی میخ ټک وهل ثابت شي ولې ښکاره ده امریکا دومره وسائل نلري چې هغه دي په کوم بل هیواد کې هم دافغانستان اوعراق وروسته جګړه وکړي اوښکاري همدا چې دترمپ احمقانه پریکړې به د درویش صفت امیر ملامحمدعمرمجاهد داوړاندوینه رښتیا ثابته کړي چې امریکابه نور... دلیست دسرنه دلیست دپای خواته راځي... کوم څه چې دفارس په خلیج کې پیښیدونکې ممکن دایران هم به زیان ولري خو دامریکا لپاره به یې هم پایلې لړزونکې اوټکان ورکونکې وي....

د مصر د مظلوم ولسمشر محمد مرسي مظلومانه مړینه

اتل

دبي بي سي اردو په قول: محمد مرسي دمصر لومړنی منتخب ولسمشر و چې دعامو خلکو په رایو یې د ولسمشرۍ څوکۍ ترلاسه کړې وه، نوموړی یوازې یو کال وروسته د۲۰۱۳ز کال دجولایې په ۳مه نیټه دپوځ لخوا د سپینې کودتاه په ترڅ کې د واک څخه لرې کړای شو.

دپوځ لخوا د کودتاه کولو څخه وړاندې د پوځ او بهرنیو استعماري هیوادو په لمسون اومرسته په مصر کې د مرسي دحکومت ضد لاریونو نه پیل شول هغوی دولسمشرۍ دټاکنو بیا غوښتنه کوله دڅو ورځوپرلپسې احتجاجونو وروسته پوځ دمرسي څخه وغوښتل چې په درې ورځوکې دې داحتجاج کوونکو سره کیني او ورسره دشته مشکلاتو حلولو په باب دې یو نهائي حل راوباسي کنه دوی به مداخلې کولوته اړشي خومرسي دپوځ لخوا گواښ جدي ونه گاڼه اوغوښتنه یې ردکړه بالاخر پوځ د درې ورځوتیریدلو وروسته په واک قبضه وکړه اومرسي یې ونیو اوبندي یې کړ.

دواک څخه دلرې کولو وروسته پوځ یوعبوري حکومت جوړ کړ اومرسي یې ترڅلورو میاشتو دنامعلومو دوسیو اوقضیو په وجه په قید کې وساته، بیاد ۲۰۱۳ز په ستمبرکې حکومت اعلان وکړ چې دمرسي خلاف دمستقلو دوسیو په وړاندې کولو سره غواړي نوموړی محکمې ته معرفي کړي ،دحکومت لخوا وړاندې تور پورې شو چې خپل ملاتړي یې دژورنالستانو اودمخالف گوند ددوه مشرانو وژلوته لمسولي وو اوڅوتنه نوري یې په ناقانونه توگه په بندکې ساتلي وو

دپښتو دهغه متل په مصداق چې وایي: دزو زورو اوبه مخ په بره خیژي! چا دمصر دسیسي او دهغه دپوځ نه پوښتنه ونکړه چې داتا داگست په ۱۴مه نیټه داخوان المسلمین په دوه احتجاجي کیمپونو یرغل وکړاو د۱۰۰۰ تنوڅخه زیات احتجاج کوونکي دي ووژل ایا دهغوی دوژلوپه سرهم څوک محاکمه کوي؟ او داخوان المسلمین د زرگونوغړو نیول اوزندانوته دهغوی اچول ناقانونه گام ندی ؟ خوښکاره ده چې مرسي دامریکا لپاره دمنلو وړولسمشرنه و، دهغه لخوا په یوه کلنه دوره کې اسلامي اقدامات داسراییل اونوروکفري ځواکونو لپاره داندیښنې سبب وو په دې وجه هغوی ټولو په گډه یوپلان تیار کړ چې دهغه په ترڅ کې یې لومړی په مصرکې احتجاجونه منظم کړل اودهغودلارې یې خلک لارو اوسړکونوته راوویستل اوبیا چې کله مرسي دهغوی دځپلو په موخه پولیسو اونورو ته امر وکړ سملاسي پوځ راوړاندې شو اوهغه یې دواک څخه لرې کړ.

او دا دهغه دیمکراسی حشر دی چې امریکایې په افغانستان کې په توپ اوټانگ پلې کول غواړي خوپه مصرکې یې دتوپ اوټانگ په زور ځپي او مخنوی یې کوي یوداسې اسلامي گوند چې هغه په انتخاباتوکې دبري دلارې واک ته رسیدلی و

امریکاته دعامه رایې په مقابل کې دهغه برې دزغم ورنه و نوزکه یې په کرار کرار دمصر غلام پوځ دیته وهڅاوه چې هغه پورته شي اوداسلامي ګوند واک دتوپ اوټانګ په مټ پای ته ورسوي

کله چې مرسي په لومړي ځل محکمې ته وراندې شو نوموړي په چیغو چیغو ویل دی چې دی اوس هم دمصر ولسمشر دی اوپوځ دده د مشروع واک په ضد بغاوت کړی دی باید ورنه دبغاوت له امله سزا ورکړل شي اوهغه دخپلې محاکمې منلو څخه انکار وکړ.

محمد مرسي په 1951زکې دمصرـ نیل سیندپه غاړه دپروت ولایت(شرقیه) په یوه کلیواله سیمه کې زیږیدلی و، په ۱۹۷۰زکې دقاهرې دپوهنتون څخه داینجینرۍ په حیث فارغ شوی و، دهغه وروسته د دوکتورې لپاره امریکاته لاړ، امریکاکې ددوکتورې کولو وروسته بیرته مصرته ستون شو اودزقازیق پوهنتون کې داینجینرۍ پوهنځي رئیس مقررشو

دغه مهال نوموړی داخوان المسلمون دتنظیمي نظیم و نسق

دځانګې مسؤل اوهم یې په یاد تنظیم کې ترقي وکړه اودتنظیم په چوکاټ کې ورته داخوان دغړو دفکري روزنې مسؤلیت ور وسپارل شو

د۲۰۰۰زنه تر۲۰۰۵زپورې نوموړی دازادغړي په حیث داتحادي پارلمان غړی هم وپه کوم کې چې اخوان المسلمین هم ګډون لاره لیکن دهغه وروسته دخپلې پلارنۍ سیمې څخه یې ټاکنې وبایللې نوموړي تورپوري کاوه چې قصدا دی یې ناکام کړ زکه چې پارلمان کې سیکولراشخاصو ترې داردرلود

هغه دخپل وکالت په دوره کې دخلک دخپل خطابت دجوهرنه زیات متاثرکړل په خاصه توګه کله چې په ۲۰۰۲زکې داورګادي دحادثې وروسته په یوه وینا کې چې دوخت درژیم دنااهلیت په موضوع توندغږیدلی و دخلکوپام یې ځانته وګرځاوه اوپه ټول مصرکې مشهورشو

په ۲۰۱۲زکې محمد مرسي داخوان المسلمین لخوا دولسمشرۍ څوکۍ لپاره کاندید ونوموول شو،هغه دغه مهال دخپل ګوند په مرستیال اومشهور سوداګر شخص(خیرت الشتار) باندې فشار واچوه څوهغه د خپلې کاندیداتورۍ نه ورته تیرشي او دده ملاتروکړي دخیرت الشتارپه پرتله محمدمرسي دویرلږ کرشماتي شخصیت نه برخمن و، خوداچې مرسي دخپل ګوند منشي(حزب الحریت والعدل) و نو دهغه په مقابل کې یې دبري امکان زیات و

دخپل انتخابي کمپاین په مهال مرسي ژمنه کړې وه چې دی به په مصر کې ټولو ته منلی حکومت رامنځته کوي اوهم یې خلکوته وړپه زړه کول چې دحسني مبارک په وخت کې نوموړي ته چا واک ته درسیدو موقع نه ورکوله اوس که دی واک ته ورسي نو دمصرنه به یوپرمختللی، خوشال او مترقي ديني هیواد جوړکړي

په ۲۰۱۲ز په ټاکنوکې مرسي دڅو زیاتوڅوکیو په ګټلو سره بری ترلاسه کړاو دلږ ځند وروسته دمصر ولسمشرپه حیث یې لوړه وکړه

په دوهم پېر ناسته يې له افغان سياسيون، گونډې مشرانو، ازادو ليکوالانو، پخوانيو دولتي چارواکو، له پاکستان څخه د۳ميليون مهاجرېنو په نمائندگۍ پلاوي او... سره په گډه ترسره شوه، دې ځل ناستې هم زياتې گټې لرلې چې عمده يې گډونوالو ته د خپلې راتلونکې پاليسۍ په اړه بشپړ ډاډ ور کول، د هغوی باور ترلاسه کول، له خپل دريځ سره سم د خپلې داعيې په اړه يې همغږي راخپلول او د خپل غبتلي يو والي او انسجام په مټ د متلاشي او پاشلو أفغانانو ملي اجماع ته لاره هوارول يې د يادونې وړ دي.

درېيم پېر ناسته چې په دې وروستيو کې د روسيې او افغانستان ترمنځ د سل کلنو ډيپلوماتيکو اړيکو لمانځغونډې ته طالبان ور بلل شوي و ترسره شوه، که له مختلفو زواياو وکتل شي نو طالبانو له دې ناستې هم ډېر هغه څه ترلاسه کړل چې تر اوسه يې نه درلودل، خو له کابله د ورغليو لاسته راوړنې هيڅ وې.

طالبانو په خپله ملي جامه نړۍ ته ځان د خپل ملت په رښتونې نمائندگۍ او ملت ته يې د هغه خپل ځان د تر ټولو غوره ډېپلوماسۍ په وړتيا ور وپېژاند، له بلې خوا دغه ناسته چې له رسنيزو لارو يې د جهانيانو د شيبې شيبې توجه ځان ته جلب کړه طالبانو د خپل واحد دريځ، همغږۍ، همکارۍ، همپالنې او معقول منطق په ژبه دا هم وښودل چې هغوی د هردول ملي او هم نړيوالي اجماع

رامنخته کولو خواکمنه ملکه او پخه تجربه لري او په چاره یې تر بل هرچا ښه پوهېږي.

د یادي ناستې یوه لویه ځانګړتیا دا وه چې د طالبانو مخکښ مشر ملا عبدالغني ملابرادر هم پکې ګډون کړی و چې هغې ته یې وزن او درونډوالی ور کړ، په دې ناسته کې د ملا برادر اخند ګډون یوه نوې پېښه وه او د هغه شخصي- ګریزما د ناستې ټول ګډونوال تر اغېز لاندې کړل، د هغه دا لومړی ځل ډیپلوماتیک سفر و او هم په لومړي ځل د رسنیو په مخ را ښکاره شو.

ملا برادر آخند چې دا مهال د طالبانو د مشر- سیاسي مرستیالی ترڅنګ د قطر دفتر مشر- هم دی، د طالبانو د تېرې ۱۸کلنۍ جګړې په ګډون د دوه نیمې لسیزې مدیریت تقریباً ټولو چارو مخکښ طراح او په هغه کې د محوري رول څښتن ګڼل کېده چې اوس د هغوی د بریالی ډیپلوماسۍ مخکښ او محوري څېره هم ده.

د ملابرادر غونډې پوخ ډیپلومات، د مرکچې لوړه ملکه لرونکی، ستراتېژست او اجماع منخته راوړونکی طالب مشر چې شخصیت یې د مبارزې او جنګ په ډګر صیقل شوی، د مسکو په دې ناسته کې د افغانستان د پېچلې معضلې شیره په ساده او لنډو ټکو را و اېسته، هغه وویل ((اسلامي امارت سولې ته ژمن دی، خو لومړی باید د هغه مانع لیرې شي او هغه دا چې د افغانستان اشغال باید ختم شي))، د نوموړي دا لنډه خو پر ټول ختلې خبره جوتوي چې طالبان لاهم د خپل بنسټګر له تګلارې سره سم ټول ترکیز پر عمل لري او خبرې کمې کوي.

طالبان له اوږدې انزوا وروسته اوس د بین المللي حیثیت په درلودلو د نړیوالو سترو قضایاو د یو قوي جهت په توګه ډیپلوماتیکې بین المللي سیالۍ ته له پوره نشاط-تابیا-قوي استدلال سره ولاړ دي، د امریکا هر اړخیز زېښن ایستلو او د وسلوالو او تبلیغاتي حیرانونکو بریاو وروسته یې په دا ډول ناستو انحصاري چېلنجونه هم په ډېره بېباکۍ ور ماتوي او د یو خپلواك نړیوال ځواك په توګه خپل سیاسي اودیپلوماتیك ورتیا بین المللي نندارې ته وړاندې کوي.

خو له طالبانو سره د سولې خبرو په نوم د امریکا د باندنیو چارو وزارت استازی خلیلزاد بیا هم په یو او بل نوم او چل په داسې حال کې د طالبانو د انعطاف په ناکامه هڅه کې دی چې شرائط هم ټول او په ټوله ماتا د پخوا سرچپه دي، أمریکا او د هغې دغه استازی د همدې ډول هڅو له برکته په نړیواله کچه په مکارانه او پرېبکاره څېره پېژندل شوي چې اوس پرې ترټولو ور نږدې اتحادیان هم باور نکوي او نه یې کولای شي.

د نوموړي دا ډول هغه هڅې چې له طالبانوسره د مېز په سر یې کوي موږ له ډېرو لږو خبرېږو، او هغه چې په ټولېزو رسنیو کې یې خبر کته پورته شي تر ټول خلك خبر دي، لکه د سولې بهیر په ناستو کې د طالبانو بیا بیا غوښتني ته چې ګډ دښمن دي پر ملکي خلکو چاپې - بمباری - او د هغو وژنې ودروي مطلق منفي ځواب او له دې سربېره له طالبانو د اوربند او کابل حکومت سره د خبرو غوښتنه او ګاهې یې پرسر ګواښونه، په یو او بل نوم د ګنو سېمه ایزو او خینې نورو هېوادونو له استقامته فشارونه او له طالبانو سره د سولې په پروسه کې یې تطمیع، د ارګ او ګلخانې اړوند چارواکو ته وخت په وخت د سولې ضد دریځ او د طالبانو د سولې پر صمیمانه هڅو د پیکه کولو د برید رول ورکول او بیا ترې ملاتړ، او داسې نور د یادونې وړ دي، چې له شک پرته د طالبانو انعطاف او نرمښت ته د اړ اېستلو هڅه ده، که څه هم چې هرڅوک به یې د خپل فن او دندې له زاویې ګوري.

په دې هرڅوک خبر دي چې په أفغانستان کې د امرېکا له پیل کړې جګړې وړاندې هم طالبانو أمریکا یانو ته د سوله ایزحل ویلي و...خو دوی زموږ د خپلواک او اسلامي هېواد حریم مات کړ او هغه څه یې وکړل چې ویې کړل، خو طالبانو بیاهم دغه دروازه خلاصه پرېښودلې وه او لا تر اوسه خلاصه او هغه پراخه او هره ګړی په ښه ورتلونکې لاره وه چې طالبانو ور کړې او د هغو له ریښتونې

بشردوستي او نړیوال أمنیت خوندیتابه ته له پاملرنې یې سرچینه أخلي.

دا چې خلیلزاد له طالبانو سره د سولې لپاره د سیمه ایزې او نړیوالې اجماع رامنځته کولو په نوم هرخل له هغو سره له ناستې مخکې په گڼو هېوادو راگرځي او بیا په خانگړې له پاکستاني چارواکو سره د افغان سولې پر تراو په بېلابېلو نومونو لیدنې کتنې کوي یوه سیاسي درامه ده اوبس.

ښایي هغه تمه لري چې نور خو یې طالبانو هرڅه له لاسه و اېستل د دا دول اجماع ابتکار به هغه په لاس کې واخلي، او ښایي هغه تمه لري د وخت په تېرېدلو/تېرولو به شرائط بدل او خپلې موخې ترلاسه کړي، خو دېته یې پام وي چې طالبانو د افغان سولې اروند ټول ابتکارونه د خان کړي، او بل دا چې که وخت تېر او شرائط بدل شي خو طالبان به هېڅ له خپل دریځ څخه تېر او بدل نشي، نو بیا یواځې دا پاتې کېږي چې خلیلزاد شته فرصتونه له لاسه ور کړي او هغسې گټه ترې نشي کړای پورته کوم چې طالبان ترې پورته کړي.

طالبان چې بین المللي ټولنه یې هم له ډیپلوماسۍ او ډیپلوماتیکو هڅو اغېزمنه او خوښه ده د هردول ملي، سیمه ایزې او نړیوالې اجماع رامنځته کولو هم تر نورو ښه ورتیا لري، هم یې حق لري او هم ورته ژمن دي، اوس چې هرڅوک ښه پوهېږي خلیلزاد د بهرنیانو د گټو لپاره او د هغوی په شفر هرڅه کوي نه زموږ د هېواد او نه مو د هېواد والو غم أخیستی.

د مخکې په پرتله له طالبانو سره د خلیلزاد د خبرو او ناستو له پیله راسې چې جگړې او مرگونو په یو او بل رنگ زور أخیستی بهرنیان او د هغوی کورنیان یې پر طالبانو د فشارونو نوم ورکوي، خو بیا هم تلفات د طالبانو ترټولو کم، د ولسي وگړو په منځنۍ کچه او د گډو خواکونو ترټولو زیات دي، نو ترڅو چې خلیلزاد له سوله ایزې او خوندي لارې د بهرنیانو ایستلو په بهانه په هېوادونو گرځي د گډو خواکونو وروستیو تلفاتو کې د پر گوته هم باید همده ته و نېوله شي چې د جگړې بایللو وروسته هم خواکونو ته د فشار په نوم د همدې بایللې جگړې تونډولو احساس ورکوي او نور یې د تلفاتو په کېسه کې هم نه دي، فشار خو د مصلحت او گټې پر بنا وي نه د لازیات زیان او په ارونده موخه کې د خند او خند لپاره.

طالبان د اصلي مقابل لوري په حیث دا نه وایي چې د فشار په نوم چاپې مه راپانډي وهئ؛ چاپه هم د جگړې یو دگر دی او طالبانو د جگړې ټول دگرونه گټلي، د دې گټنې نښه دا ده چې گډوخواکونو بې دفاع ولسي-خلکوته مخه کړې او چاپې پروهي، طالبان بیا هم وایي د جگړې دگر زموږ او تاسو ترمنځ دی په ولسي خلکو چاپې مه وهئ.

داسې خبرونه هم ور کول شوي چې د یادو فشارونو او پر ولسي وگړو د گډو خواکونو چاپو ته د متقابلو بریدو نو په لړ کې طالبانو یو خورا هېښونکي تکتیک ته مخه کړې او په دې وروستیو کې یې عملي بېلگې هم لیدل شوې چې په یوه سیمه کې خپل جنگیالي خای پرخای کړي ترڅو له گډو خواکونو سره پر ولسي-وگړو د چاپې پر مهال نبرد ازمایي وکړي او چاپې ماتې کړي، لکه د کابل په سروبي ولسوالی سپر کونډي سیمه کې، د خوست صبري ولسوالی کې،پکتیا اریوب کې، د بغلان دوشي ولسوالی په زهرابي سیمه کې، د کندز، فراه، هلمند، کندهار او... ولایتونو کې د گډو خواکونو او صفر۹ چاپې ماتېدل او د پکتیا په احمدخیلو کې د کماندویانو تعرض یې ماتېدل یو څو بېلگې دي چې پر هغوی یې خورا زیات مادي او رواني اغیز ترسترگو کېږي.

نو خلیلزاد که رښتوني وي او کولای شي نو یواځې دومره د ي وکړي چې له طالبانو سره دې د سولې خبرې پر مخ یوسي او لکه څنگه چې بهرنیان ترې غواړي ژر تر ژره دي هغوی له دې گرداپه په خوندي توگه(؟!) و باسي، نور دې زموږ د هېواد او هېوادوالو اروند قضایاو په اړه نه نه غږېږي، نه دې خان او وخت پرې مصروفوي، نه دې کومه اجماع راغواړي، نه ترې موږ غوښتي او نه دې په داسې نومونو خپلو لاسوهنو ته دوام ور کوي.

په اسلام کې
دمال او ملکیت احکام

۲مه برخه

م. ش. منصور

دمال دحفاظت داهمیت یو مظهرداهم دی چې شریعت دمال په استعمال ځیني قیودات لګولي او حدودیې ورته ټاکلي، مثلا: که یوشخص کم عقل و، بیوقوف و،هغه ته به ترهغه پورې دهغه مال نه ورکول کیږي څو چې په هغه کې پوهه راغلې نه وي، داحکم مخامخ دعظیم الشان قرآن څخه ماخوذدی[ولا تؤتوا السفهاء أموالكم]بیقوفو او کم عقلو ته خپل مالونه په لاس مه ورکوی[فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ] کله چې تاسودامحسوس کړئ چې په هغوی کې پوهه پیداشوه بیاورته مال وسپارئ، فرض کړئ یو ملیونرسړی ومړ، وارثان ترې دهغه کوچني، کوچني زامن پاته شول، چې عمرونه یې دلس دولس کلو ترمنځ وو اوپه معاملاتو نه پوهیږي، نوله شتمنې که هغوی ته په لاس ورشي نوپه څو کاله کې نه بلکې په څو میاشتو کې یې له منځه وړي اوپه ناسمه توګه یې استعمالوي

ددې لپاره ټولنې ته داسلام حکم اوهدایت دادی چې هغوی دې ددې خبرې اهتمام وکړي چې دغسې بیعقلواوبیتجربې خلکو ته دې په مالونه په لاس نه ورکوي، که دکوم یتیم ولي موجود و، مثلاً: کاکایې ژوندی و، یا یې نیکه ژوندی ونوداحکم هغوی متوجه دی چې هغوی دې دهغه د مال ساتنه وکړي څو چې دهغه یتیم وراره، یا یتیم لمسی دپوهې ځښتن کیږي، ترهغه پورې دې هغه ته، دهغه مال نه سپاري، که دکوم شخص نیږدې ولي اوخپلوان نه وو،نودا حکم دوخت حکومت ته متوجه دی،محکمه دنده لري چې هغه ددې خبرې اهتمام وکړي چې دیتیمانو ماشومانو اوبې سرپرسته خلکودمالونو او شتمنیوساتنه وکړي.

داسلامي قوانینوله مخې قاضي دخپلې سیمې دټولو کونډو،یتیمانو، اوبې سرپرسته خلکومتولي دی، دهرهغه یتیم ولي دی چې هغه ولي نلري، دهرې هغې کونډې ساتونکی دی چې هغه بل ساتونکی ونلري، دهرهغه بې سرپرسته سرپرست دی چې هغه بل څوک سرپرست ونلري، دادقاضي مسؤلیتونه دي، داسلامي شریعت له مخې دادقاضي فرایض دي،ټولو ففقهاووپه دې لړکې یومشهورحدیث بیان کړی چې رسول الله ﷺ فرمایلي السُلطَانُ وليٌّ مَن لَا وَلِيَ لَهُ دچا چې ولي نه و حکومت دهغه ولي دی، دحکومت له اړخه دامسؤلیت قاضي اومحاکم سرته رسوي،ددینه دا اندازه لګول کیږي چې دمال ساتلو په باره کې اسلامي شریعت څومره اهتمام لري او څومره یې په حفاظت کې علاقمندي اوفکر لري

دمال دحرمت په باره کې دومره خوټول پوهيږي چې شريعت دهرشخص مال محترم ګرځولی چې هيڅ سړی به دبل سړي مال ته بدنظرنلري، هرسړی به دبل دمال احترام کوي اوهيڅ انسان به دبل مال ته دلالچ په نظر نه ګوري.

خو په دې سربيره يوفقهي، حقوقي اوقانوني اړخ هم لري چې دقانون جوړولو له لارې به داخبره يقيني ګرځول کيږي چې دهرشخص مال به محفوظ وي ، محاکم او قانون پلي کوونکې اداري به ددې خبرې تضمين ورکوي چې هغوی به دخلکومالونو په ساتنه کې خپل مسؤليتونه په پوره اوسمه توګه سرته رسوي دخلکو دمالونو، شتمنيو اوممتلکاتو به حفاظت کوي علامه ابن عابدين چې دمتاخرينو احنافو فقهاوو په لومړي صف کې دی هغه داتصور ديوې قانوني ضابطې په توګه مرتب کړی نوموړي ويلي: لايجوزُ لِاَ حدٍمِن المسلمين أخذُ مَالِ أحدٍ بِغيرسبَبٍ شرعي.دهيڅ شخص لپاره جايزنده چې هغه دبل مال پرته دکوم شرعي سبب نه واخلي شرعي سبب نه مرادهغه ټول اسباب دي کوم چې دنورو دمال حصول جايز ګرځوي، لکه جايزتجارت،هبه، هديه، وراثت، داهغه طريقې دي چې په زريعه يې دنورو مال په جايزه طريقه نوروته منتقل کيږي.

داچې دمال دصحيح تقسيم اوصحيح تصور په اړه دشريعت ډيرعمده احکام دارو مدارلري په دې وجه اسلامي فقهاوو دمال تفصيلي احکام مرتب کړي اوضروري قسمونه يې بيان کړې دمال په اړه وړاندې دا يادونه وشوه چې دمال نه مراد هغه دی چې دهغه نه فايده اويا انتفاع اخستل جايزوي اوعامة الناس يې مال بولي او دمال په توګه يې په حاصلولو کې زيارباسي، ددې لپاره هغه څه چې خلک په هغه تمول نه حاصلوي مال نه ګڼل کيږي، مثلا: دوشوډيرمقدار مال ګڼل کيږي، خوکه يوخلی دبوسووې هغه ته څوک مال نه وايي؛نه هغه څوک اخلي او نه په هغه پيسې ورکوي او نه ديوخلي نه څه ګټه اخستل کيږي، دخرماوو که ډير زړي وې نومال دی که يوزړی و مال ندی.

په دې توګه دجايزې انتفاع شرط هم ټولو فقهاوو بيان کړی دی په دې کې اختلاف نشته چې مال هغه دی، دکوم نه چې شرعاً ګټه پورته کول جايزه وي، لکه دمسلمان لپاره خنزير اوشراب مال ندی،زکه مسلمان نه شراب څکلی او نه يې استعمالوي او نه يې ملکيت حاصلوي؛ په دې وجه دمسلمان ترحده شراب مال نه ګڼل کيږي،اونه کوم مسلمان دشرابوکاروبار يايې راکړه ورکړه کولی شي...

دې تفصيل ته په پام فقهاوو مال په دوه قسمونو ويشلی دی، چې يوته متقوم وايي، او بل ته غيرمتقوم ،متقوم نه مراد هرهغه څيزمال دی چې شرعاً دهغه لپاره يوقيمت داعتبارووړوي، يعنې ماليت اوقيمت يې شريعت تسليموي، فقهاوو دهغه تعريف کړی دی چې متقوم مال هغه دی چې دهغه نه فائيده پورته کول شرعاً جايزه وي [مايُبَاحُ الاِنتفَاعُ بِهِ شرعاً] (بدائع الصنايع فصل فی الشرط الذی يرجع الی ۹۳/۱۱)

دکوم څيزنه چې شرعاً فايده پورته کول جايزه نه وي هغه غيرمتقوم مال ګڼل کيږي، ليکن دمتقوم اوغيرمتقوم دمليکت سره کوم تعلق نشته څينې وخت غيرمتقوم څيزهم په ملکيت کې راتلای شي خو د غير متقوم په بنيادهيڅ راکړه ورکړه کيدای نشي؛ کوم کاروبار پرې نه شي کيدای، دمثال په توګه ديوسړي سره کور کې يو منګي کې سرکه وه، هغه دکوم موسمي بدلون يا دکيمياوي اثرپه وجه شراب وګرځيده، اوس دلته ملکيت شته خو د شراب ګرځيدو وروسته به يې نه پلوري؛ نه به يې په هديه کې چاته ورکوي اونه به يې پخپله استعمالوي .

دمتقوم اوغيرمتقوم ددې تعريف وروسته دا اصول په ذهن کې کينول پکاردي چې په دې ټولوعقودوکې يعنې

دراکړې ورکړې په تړولوقسمونو کې چې دهغې اساس مال وي ضروري ده چې هغه به متقوم مال وي؛ دادعقد دجوازاودراکړې ورکړې او معاملې دجواز لپاره لازمي شرط دی؛ نوپه بیع کې، پیرلو پلورلوکې، په هبه او اجاره کې، په رهن اومشارکه کې اوپه هغوټولو صورتونوکې چې هغه مال وي دکومو په بنیاد چې داټول معاملات طی کېږي، متقوم کیدل دمال ضروري دي اوکه غیرمتقوم مال ونوبیا راکړه ورکړه اودا یادصورتونه به جایزنه وي؛ دمتقوم مال په باره کې دځینوخلکوانګیرنه داده چې متقوم اوغیر متقوم کې یواځې دهغواحکامویا اعتباراتولحاظ ته اړتیاده کوم چې په قدیمو فقهي کتابونوکې علماوو بیان کړې خو داسې نده، بلکې که نن دولتي قوانین یوځیزممنوع ګرځوي او دهغه په راکړه ورکړه او سوداګرۍ بندیزولګوي هغه هم دمتقوم مال دتعریف نه وزي غیرمتقوم ګرځي دمثال په توګه: نن سبا ددولت په قوانینو کې دتاریاکو ملکیت ناجایز ګرځول شوی په دې وجه تاریاک یا پوډرغیرمتقوم ګڼل کېږي، برابره خبره ده چې استعمال یې روا وي اوکه نه؟ ممکن په درملو کې کارول کېږي، ممکن کوم بل ځای استعمالیږي، خو ددې امکان باوجود ورته غیرمتقوم ویل کېږي، او راکړه ورکړه به یې جایز نه وي زکه چې دولتونو قوانینوهغه یوممنوعه توکی ګرځولی .

یا لکه دمثال په توګه ددرنووسلو دملکیت معامله ده؛ چې په ټوله نړۍ کې ددولتي قوانینوله مخې نن سبا لویې درنې وسلې داشخاصو ملکیت نه ګڼل کېږي، هیڅ شخص نشي کولی پخپل ملکیت کې ټانګ وساتي، هیڅ سړی نشي کولی شخصي توپ ولري، هیڅ کس یې نشي ساتلی، داځیزونه یواځې دحکومتونو اودولتونوپه ملکیتونو کې راځي، دعامو خلکو لپاره یې حیثیت دغیرمتقوم مال دی که یو شخص هغه پلوري، یایې پیري، یایې راکړه ورکړه کوي نودابه جایزنه وي.

همدا کیفیت دجعلي کرنسیو اوسکودی، جعلي سیکې او جعلي لوټونه جوړول اوساتل هم جرم دی،راکړه ورکړه یې هم جرم ده نوپه دې توګه جعلې کرنسې اوجعلي لوټونه هم په غیرمتقوم مال کې راځي، نه یواځې غیرمتقوم مال دی بلکې راکړه ورکړه یې ددجل، فریب یو ډول دی او د دوکې ورکولو جرم پرې ثابتیږي.

دمال یو بل قسم مثلي اوقیمي دی، دمثلي او قیمي امتیازهم ضرووري دی، زکه چې ډیرمعاملات داسې دي چې دهغو جواز اونه جواز په مثلي اوقیمي والي پورې اړه لري دمثلي نه مراد هغه ځیزونه دي چې په بازارکې دهغو مثل شتون ولري، او دهغه په اجزاوو یا داساسي برخوترمنځ کوم دذکر وړتوپیرنه مندل کېږي، عام خلک په بازارکې دیوپه ځای دبل قبلولوته تیاروي، دمثال په توګه: هګۍ مثلي ده، ته باذارته دهګیو اخستلو لپاره لاړشې نودټولو سایزتقریبا سره برابروي، وزن یې نیږدې یووې دیوې په ځای دوهمه، او د دوهمې په ځای دریمه ته اخلې نو دوکنداریا هټیوال نیوکه نلري، مثلي ځیزعموماً هغه وي هغه په شمارلو، یاپه ناپ کولو یاپه تول کولو سره نه پلورل کېږي،هرهغه ځیزچې موزون وي یعنې په وزن کولو سره پلورل کېږي، مکیل وي یعنې ناپ کېږي پلورل کېږي، شمارل کېږي پلورل کېږي، په دې شرط چې اعداد به دهغې افرادوپه ځیریوشان وي دې ټولو ځیزونوته مثلي ویل کېږي

درهم ودینارهم دمثلیاتو څخه دي، نن سبا سیکې او کرنسي دمثلیاتوڅخه دي، ته دلسو لوټ واخله نوردلسو څومره لوټونه چې درسره دي دهغوټولو مالیت یوشان دی، ته هټیوال ته لس روپۍ ورکول غواړې نوکه دبې جیب نه یې ورکړې او که دچپ نه لسګون ورکړې هټیوال ورباندې نیوکه نلري،هغه ته دواړه یوارزښت لري اوپه یوشان به یې قبلوي ددواړو یوشان مالیت دی، ته! بازارکې غله اخلې نو دغنمو دیوې بورۍ [ګونۍ] دوهمې بورۍ،دریمې بورۍ اودټولو... وزن هم یو وي، مالیت یې هم یو وي او قیمت یې هم یو وي اوپه غنموکې دنوعیت د پلوه لږډیرتوپیر د پامه غورځول کېږي، که ته یومن غنم اخلې

اودوکاندار پخپل گودام کې دشته بورېوخخه يوه خلاصه کړه،ته نيوکه نلري... چې ولې دې هغه بله خلاصه نکړه... زکه داټول مثلي څېزونه دي يعنې هغه څيزونه چې په بازارکې دهغو مثل په اسانی سره مندل کېږي اود کوم لوی توپيرپرته دهغو يوه برخه دبل پشان گڼل کېږي اوهم ديوبل په ځای قبلول کېږي.

دمثلي په مقابل کې بل قسم قيمي دی، ددينه مراد هغه څيزونه دي چې دهريوه جلاقيمت وي، اودهريوه ماليت په جلا توگه طی کېږي، اويودبل دبدل په توگه يې څوک نه قبلوي، دمثال په توگه کوردي، په ښارونو کې دکورونوبيې ديوبل سره توپيرلري، تردې پورې چې په يوه سيمه اويوه ناحيه کې ديوشانته کورونو په بيو کې هم سره توپيروي، که په يوه څنډه کې کوروي دهغه به يوه بيه وي؛ که په منځ کې وي دهغه به بله بيه وي، په نشيب او ښکته ځای کې دکوربيا بله بيه وي، حال داچې زمکه اوسيمه يوه ده دکورونو جوړښت هم يوشان دی، نقشه هم يوه ده خوپه بيو کې يې توپير وي، نودقيمي نه مراد دمال هغه قسمونه دي چې دهغوافراد اويونټونه سره جلا، جلا ماليتونه لری اوديوپه ځای بل څوک نه قبلوي.

ډيرځلي داسې هم کېږي چې مثلي په قيمي باندې بدل شي او قيمي مثلي وگرځي دمثال په توگه که چيرې دوه مثلي مالونه کوم چې ددوه مختلفو جنسونو سره تعلق لري داسې سره يوځای شي چې دواړه ديوبل نه جلاکيدای نشي، نوهغه بيا مثلي نه پاته کېږي، بلکې دواړه قيمي گرځي، دمثال په توگه: يو ځای تاواړه ايښي و، ورسره دي بوره هم ايښي وه، په څه وجه دواړه(اوړه اوبوره) سره داسې گډشول چې جلا کول يې ناشونې دي، اوس دامثلي پاتې نشو قيمي شو، ددې لپاره په بازار کې داسې اوړه نه مندل کېږي چې پکې دې بوره گډه شوې وي او په همدې تناسب دې پکې گډه شوې وي او دغه رنگ بوره دې وي؛ زکه چې په بازارکې دغسې گډوله څېزترننه نه مندل کېږي، په دې وجه يې قيمت هم متخلف شو او حيثيت يې هم قيمي شو اومثلي پاتې نشو.

ديته ورته نوراسباب او محرکات هم شته چې دهغوپه وجه مثلي اموال بدل شي قيمي اموال وگرځي دمثال په توگه: په کوم مثلي مال کې کوم عيب پيدا شي ، لکه ته نوی موټر واخلې او دڅو ورځو استعمال وروسته دې ټکر وکړ، اوس داموټرمثلي نشو پاتې قيمي وگرځيد اوس به ددې دقيمت تعين دهغه دخپل ذات په حساب سره کېږي

همدا رازداستعمال وروسته چې کوم مثلي څيز زوړ شي هغه هم قيمي گرځي، لکه تاپه بازارکې يوشان قلمونه وليدل، چې په يوقيمت يې پلورل، تا ترې يو قلم واخيست، دڅو ورځو استعمال وروسته دې بازار ته دپلورلو لپاره ويوړونو دا هلته په هغه بيه چې تا اخيستی و نه پلورل کېږي، زکه په بازارکې داسې کم پيښېږي شايد بلکل نه پيښېږي چې دټولو پخوانيو قلمونو دې يوه بيه وي؛ په هغوکې به څيني دلسووي، څينې به دپنځو وي او يونيم به له دې هم گران وي

دغسې څينې اسباب دي چې دهغو په وجه مثلي څيزونه په قيمي باندې بدليږي څيني وخت قيمي څېزونه په مثلي بدليږي، که داسې وشول نوبيا به دهغه په حساب باندې قيمت او ماليت ورته ټاکل کېږي.

دمال يو تقسيم بل دی کوم چې ډيراهم دی هغه دی استعمالي او استهلاکي؛ ددې توپيرنه پيژندلو له وجې څيني وخت مسائل پيداکېږي، دمحقق عالم دوکتور محمود احمد غازي رح په قول : له بده مرغه په انگريزي کې ددې دواړو لپاره يولفظ Borrow کارول کېږي، کوم څېز چې تا مصرف کړ! او دکوم وجود چې ستا داستعمال په نتيجه کې ختم شو؛ ددې دواړو لپاره په انگريزي کې Borrow لفظ راوړل کېږي، ددې لفظي التباس په وجه گڼ قباحتونه اوستونزې پيداکېږي

استعمالي مال هغه دی چې دهغه اصل وجود د استعمال باوجود موجود اوباقي وي او په استعمال سره دهغه په وجودکې کوم فرق رانشي مثلاً : تاسره بایسکیل دی، ما داستعمال لپاره له تا وغوښت، چې درې ورځې وروسته یې چې څنګه دی په دغه حال یې درته سپارم! داستعمالي دی، ددې برعکس استهلاکي مال هغه دی چې هغه زه مصرف کړم، وې لګوم، کله چې زه هغه ولګوم نوبیا اصل څيز پاته نشي ، چې زه يې تاته هغسې واپس کړم، دمثال په توګه پخوابه اکثرداکیدل چې دکورونو میرمنوبه دضرورت توکي د یوې او بلې نه اخستل، که دیوې کره به بوره ختمه شوه د ګاونډی نه به یې یوه پیاله یا یو پاو بوره واخیسته اوس هم هغه بوره خوبیرته واپس کولی نشي- اودقیامت ترسهاره يې واپس کولی نشي- نوچې کله هغه میرمن يې واپس کوي،هغسې بوره به په هم هغومره تول واپس کوي، دیته وايي استهلاکي.

کوم ته چې په شریعت کې عاریت ویل کیږي، په استعمالي څیزونوکې وي، اوددې په مقابل کې چې کوم قرض وي هغه په استهلاکي څیزونوکې وي، دقرض نه مراد دادی چې یوڅیزتا له چا واخیست او خرچ دې کړ،اوس هغه تاسره نشته کله چې دقرض اداء کولو وخت راځي، ته هغه څیز دبازار نه اخلې بیرته یې ورکړې ظاهره ده چې داڅیزبه د[مثلیاتو] څخه وي، زکه یې بیرته یې ورکوي ولې چې خرچ عموماً په [مثلیاتو]کې راځي، او استعمال عموماً په [قیمیاتو] کې راځي، خو هرځای داسې نه وي، څیني وخت قیمیات هم خرچ کیږي او مثلیات هم استعمالیږي خو په عامه توګه داده چې خرچ په مثلیاتو کې اواستعمال په قیمیاتو کې وي

دمال یوبل قسم (عین او دَین) دی دعین څخه مرادهغه څیزدی چې هغه تاسره موجودوي، لکه تاسره ساعت دی تاسره موبایل دی، تاسره کتابونه دي، تاسره کرنسي ده، تاسره زر او جواهردي، داټول عین دي، خوځیني وخت ستا په ملکیت کې یوڅیزوي خوفي الحال هغه تا سره نشته، لیکن ژر ستا لاس ته هغه درتلونکی وي اودکوبل شخص په ذمه هغه واجب الاداء وي دیته په شریعت کې دَین ویل کیږي ، د[دَین] څخه مراد هرهغه واجب الاداء مال دی چې هغه دبل په ذمه وي او هغه یې تاته په اداء کولو مکلف اوپابندوي، یوسړي تاته یومن غنم واخیستل، او دايي وويل چې کله زه خپل غنم وریبم ، تاته به دایومن غنم درکوم، اوس دایو من غنم دی دَین دی، عین ندی، دا دهغه په ذمه دي چې تاته به يې درکوي

دعین اودَین پیژندل ضروري دي چې دربا(سود) ډیری احکام دعین اودَین پورې اړه لري هم دا رازداستهلاکي او استعمالي تعلق دربا(سود) داحکامو سره ډیر ژوردی د دواړو پیژندل له ضروریاتوڅخه دي

یوبل تقسیم دی(عین او منفعه) داتقسیم څنګه چې مخکې عرض وشو داحنافو فقهاوو په نزد ډیراهمیت نلري ولې چې احناف فقهاء [منفعت] مال نه بولي؛؛ نورفقهاء منفعت هم مال بولي؛؛ هغوی دا دوه قسمونه بیان کړې یو مادي وجودلرونکي څیزدی چې ورته عین ویل کیږي، یو له دې مادي څیزنه پورته کیدونکې ګټه ده؛ چې خپل جلا مادي وجود نلري؛ په دې وجه احناف فقهاءِکرام دا مال نه بولي اونور فقهاءِ کرام چې دمال لپاره مادي وجود ضرورنه بولي هغوی منافع هم مال ګڼي.

دا هغه اهم تقسیمونه دي چې دشرعي احکاموسره ژورتعلق لري اوپیژندل یې دشریعت دزیات شمیر احکامو دپیژندلو لپاره ضروري او مهم دي، ددینه علاوه هم څونورتقسیمات دي چې په هغوباندې هم څیني ثمرات مرتب کیږي خو هغه بحث اوږدوي دمثال په توګه د منقول اوغیرمنقول تقسیم ، منقوله جایداد اوغیرمنقوله جایداد چې ترې انګریزي قانون هم واقفیت لري

داموالِ ظاهره او اموالِ باطنه تقسیم هم یوبل تقسیم دی کوم چې دزکات سره تعلق لري ظاهره اموال هغه دي چې هرچاته په نظرورتلای شي لکه زمکه، باغ ؛ چې په

زمکه شته هرڅوک ورتلای شي اوليدلی يې شي،یا څوک دمال رمه ولري هغه هرچاته معلومه وي، دتجارت مال په دوکان کې وي داټول په ظاهره اموالُ کې راځي او هرڅه باطنه اموال دي هغه دادي چې په عامه توګه يې څوک نه ويني، تا خپلې پيسې په بانګ کې کېښودې يا زيورات لري تاته يې علم دی يا يې دبانګ مامورانوته علم دی يا دې په کور کې مال اودولت محفوظ کړی دی دېته باطنه اموال ويل کېږي

دحضرت عثمان رض دزمانې څخه دا روايت راروان دی چې په ظاهره اموالُ کې زکات حکومت اخلي او په باطنه اموالُ کې زکات پخپله افراد اداء کوي حضرت عثمان رض ته الله تعالی غیرمعمولي بصيرت ببنلی وهغه په ګڼو معاملاتوکې داسې پريکړې کړې چې په هغوبانـدې ډېرلرې اثرات مرتب شوي که هغه داپريکړې نه وای کړې نو نن به ډېرې زیاتې ستونزې پيداوې چې دهغو نه دظاهره اموالُ او باطنه اموالُ تقسيم هم دهغو اهمو معاملاتو څخه يو دی، حضرت عثمان غني رض دامحسوس کړه، کيدای شي آينده کې به ځيني خلک باطنه اموالُ کې په زکات ورکولو کې تامل وکړي دزکات محصل به اصرار اوتينګار لري چې تاسره مال شته دی اونوبت به تلاشي ته ورسي او دا به چارواکو ته ديوې داسې وسلې ورکولو مترادف وي چې هغوی به دهرسړي په شخصي ژوند کې مداخلت کوي اودتجسس يوداسې مکروه لړی به پيداشي چې په نتيجه کې به ګڼ قباحتونه وزيږوي، شريعت دتجسس نه منع کړې او دعامو خلکواعتماد ته دڅکان ورکولو لاري يې ترلې، ددې لپاره داتوقع درلودل يکاردي چې عام خلک دخپلو باطنه اموالوزکاتونه پخپله اداء کوي او دظاهره اموالو زکات حکومتونوته ته ورکوي.

دا محض د انتظامي سهولت مسئله نه وه، اګرکه ورسره انتظامي سهولتونه هم پيداشول اودديارلس سوه کلو تجربه شاهده ده چې ددې انتظامي سهولت په وجه دزکات نظام په کامیابۍ سره روان و، خودا يوه نظري معامله هم ده چې حکومت حق نلري چې دوګړو په ذاتي او شخصي ژوند او معاملاتوکې په سراغ کولو پسې شي او درعاياوو دستراوپردې ديوالونه ونړوي.

دظاهره اموالُ اوباطنه اموالُ دتقسيم پرته يوبل تقسيم هم ځيني فقهاوو کړی دی چې هغه د(اصولو او ثمراتودی) دمال يوقسم هغه دی چې هغه اصل دی، اويو هغه دی چې هغه داصل ثمردی، تا! دوزو دوه کوچنی، سيرلې واخيستل،نود اصل په توګه تا دوه سيرلې وپاللې، ددې وروسته دتوالد اوتناسل سلسله شروع شوه او دېنځوسو وزو رمه تري جوړه شوه اوس دانوري وزې ثمرات دي، او هغه دوه اصل دي، تا يوه کوچنی ونه واخيسته دهغې پالنه دې وکړه لويه دې کړه، په ميوه نيوراغله اوبرګ وبار يې ونيو دادهغې ثمرات دي ځيني وخت دفقهي احکامو دتفصيلاتوپه لړکې په دې تقسيم باندې پوهيدو ته هم ضرورت پيداکېږي .

نوربيا...

د خپل وخت ستر امام
(امام اعظم ابوحنیفه)

لیکنه: استاد نورالله احمد

پېژندنه: امام ابوحنیفه رحمه الله د عمر په لحاظ له نورو امامانو مشر وو: امام أبو حنیفة نعمان بن ثابت بن زُوطي کوفي دی په ۸۰ هـ کې زیږېدلی په ۱۵۰ هـ کې وفات شوی دی، قبر یې د بغداد په اعظمیه ښار کې نړیوال شهرت لري. امام مالک بن أنس اصبحي خو په اصل کې د یمن دی (تولد ۹۳هـ وفات ۱۷۹ هـ) د مدینې منورې په جنة البقیع کې ښخ دی، امام محمد بن ادریس د امام مالک او د امام ابوحنیفه د شاګردانو شاګرد دی، د فلسطین په غزه کې ۱۵۰ هـ کې زیږېدلی په ۲۰۴ هـ کې په مصر- کې وفات شوی او هلته په قاهره کې ښخ دی، امام أحمد بن محمد بن حنبل د امام قاضي ابي یوسف او امام شافعي شاګرد دی په بغداد کې په ۱۶۴هـ کې زیږېدلی او هم هلته په ۲۴۱ هـ کې وفات شوی دی.

ابوحنیفه د څلورو امامانو مشر-او د اسلامي امت اولین مجتهد بلل کیږي، حنفي مذهب یوازینی مذهب ده چې په دور عثماني کې یې په ټول اسلامي امت ۶۰۰ کاله حکم کړی ده او همدارنګه خلافت مغولیه کې هم رسمي مذهب د احنافو وو نو همدا وجه ده چې دا مذهب نظر دریو نورو مذاهبو ته زیات پیروان لري. اللجنة الدائمة (عربستان) په دې اړه لیکي: ومذهب الإمام أبي حنيفة رحمه الله قد يكون أكثر المذاهب انتشاراً بين المسلمين، ولعل من أسباب ذلك تبني الخلفاء العثمانيين لهٰذا المذهب، وقد حكموا البلاد الإسلامية أكثر من ستة قرون، ولا يعني ذلك أن مذهب أبي حنيفة رحمه الله هو أصح المذاهب أو أن كل ما فيه من اجتهادات فهو صواب. فتاوى اللجنة الدائمة ۵۶/۵.

د امام صاحب اصل ځای او سیمه: ځینې تاریخ پوهان لیکي، چې امام ابو حنیفه د پروان د سیمې د خواجه سیاران یا د استرغج د کلي ؤ چې له کابله بیا کوفې ته تللی دی، ابوبکر خطیب په خپل تاریخ بغداد کې چې اسماعیل د حماد زوی او د امام اعظم لمسی ؤ ویلي چې: «زما په خدای قسم دی چې زموږ کورنی ته هیڅ وخت مریتوب لاره نه ده موندلې، نیکه مې په ۸۰ هـ کال کې زیږېدلی او ورنیکه مې ثابت په کوچنیوالي کې د علي بن ابي طالب رضي الله عنه په حضور مشرف شوی او حضرت علي ورته د خیر دعا کړې ده. امام اعظم او افکار: ص/۲۶. مرتضی حسین بلرامي په خپل کتاب حدیقه الاقالیم کې لیکي چې: امام اعظم ابوحنیفه نعمان بن ثابت کابلي استرغچي کوفي: (ص/۴۰۰). وضاحت: پروان هغه وخت بیل ولایت نه وه.

غوره خلک او خیرالقرون:

نبي کریم صلی الله علیه و سلم فرمایلي: قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم: خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِي يَلُونَهُمْ .ژباړه: رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: غوره خلک



زما د زماني دي، يا زما نه وروسته خلک (صحابه وو زمانه) او يا له هغه نه وروسته زمانو خلک (تابعين او تبع تابعين د زماني).

شيخ الحديث علامه خليل احمد سهارنپوري وايي: چې رسول الله ﷺ د امام ابوحنيفه په اړه په هغه حديث کې د زيري وينا کړې ده چې ابو نعيم په الحليه کې د حضرت ابو هريره (رض) څخه روايت کړی ده، دی وايي: چې رسول الله ﷺ وويل: (لوكان العلم بالثريا لتناله رجال من ابناء فارس). ژباړه: که علم په پيروني باندې وځړېږي نو هغه نارينه به ځان ور ورسوي چې د فارس د بچيانو څخه وي. په دې کې هيڅ شك نشته چې د دې څخه مراد امام ابوحنيفه دی ځکه چې د ګڼ شمېر محدثينو دا رأيه ده چې په حديث کې د امام ابوحنيفه په اړه خوشخبري ورکول شوېده. ابو هريره د حديث راوي دی: قال رسول الله ﷺ لو كان الايمان عند الثريا ليذهب به رجل من فارس او قال من ابنار فارس حتى يتناوله (مسلم: ٢/٣١٢، باب فضل الناس) (بخاري شريف: ص/٧٢٧ تفسير سورة الجمعة باب قوله آخرين منهم لما يلحقوا بهم).

نو امام اعظم د دغه او ځينې نورو احاديثو په بشارت او فضيلت کې شامل او د لومړني قرن او دويم قرن غوره خلکو کې شامل دی، لکه امام صاحب په ۸۰ هجري کې پيدا شوی او بيا دويم قرن نيمايي يعنې ۱۵۰ کې وفات شوی....

د امام صاحب علمي حيثيت او د وخت د علماؤ آندونه: د امام صاحب د علم تقوا صبر اخلاص او د ژوند دا حالت ځ چې له نبي کريم صلى الله عليه و سلم نه وروسته چې پر کوم د سيرت ډېر کتابونه ليکل شوي هغه نعمان بن ثابت دی....نړی کې د امام صاحب د مذهب مقلدين نږدې ٦٠ فيصده دي او ۴۰ فيصده نور د ټولو مذاهبو مقلدين دي. دارنګه امام ابوحنيفه هغه شخص ځ چې ۵۲ – ۵۵ ځلې يې مکې او مدينې ته سفر وکړ چا ورته وويل چې دا تاسو ولې دومره حجونه کوئ هغه ورته وفرمايل چې زما موخه يوازې د حج ادا کول يا ترسره کول نه دي بلکې زه غواړم د مکې مدينې يا هلته راتلونکو علماء لکه له مصر-شام او نورو ځايو نه راتلونکو علماؤ سره ناسته ولاړه خبرې اترې ولرم ترڅو ما ته د رسول الله صلى الله عليه و سلم ټول احاديث او مسائل ورسيږي يعنې داسې مسئله نه وي پاتې چې زه پرې فتوا ورکړم او هغه مسئله بيا بل ځای بل ډول وي... د امام صاحب د نبوغ مثالونه خو ډېر دي او داسې يو څوک چې له ۴ زره علماؤ او مشائخو نه يې درسونه ويلي دا لا څه چې امام صاحب له ۵۰ بل روايت کې ۲۲ بل

کې ۸ صحابوو سره کتنه شوې او د ۸ صحابوو کتل خو د ټولو په نېز اتفاقي او قوي قول دی... د هغه ۴ زره استادان ټول د خیرالقرون یعنې تابعین ؤ دارنګه د هغه استادانو کې تبع تابعین هم ؤ نو یو څوک چې ۴ زره تابعینو څخه زده کړې ترلاسه کړي د هغه د علم تقوا اخلاص عقیدې عبادت او نورو به څه حال وي؟

امام اعظم «ویکیپیډیا: صـ/۹۶» کې لیکي: چې ابوحنیفه (رض) د «۶۰» استاذانو څخه نېغ په نېغه په مکه معظمه کې احادیث زده کړي دي. امام عظم صاحب کوفه د فقهې د علم پلازمېنه ګڼله. امام عظم صاحب په حدیثو او تفسیر کې د قرآن کریم په خپل وخت او زمان کې سیال نه لاره او تراوسه یې هم سیال نه لري.

امام صاحب ته د وخت جیدو او سترو فقهاؤ مفسرینو محدثینو به ورته ډول ډول نومونه کارول چا به ورته رئیس الفقهاء ویل چا به ورته فقیه الامت ویل چا به ورته د اسلامي فقهې بنسټ کېښودونکی ویل امام شافعي خو ویل: وقال الشافعي: الناس في الفقه عیال علی أبي حنیفة. امام شافعي فرمایي: خلك په فقه کې د ابو حنیفه څېره خواره دي.

وقال الخریبي: ما یقع في أبي حنیفة إلا حاسد أو جاهل. الخریبي وایي: څوک چې د ابوحنیفه مخالفت کوي هغه یا کینه او حسد کوي او یا جاهل دي.

امام ذهبي وایي: په فقه او باریکو مسایلو کې مخکې او امامت د دغه امام دی (امام ابو حنیفه). او امام مالک وایي: داسې سړی مې ولید یعنې امام ابو حنیفه که یې ویلي وای چې دغه ستنه د سرو زرو ده نو خامخا به یې په دلیل سره درته ثابته کړې وای. وقال ابن المبارك: أبو حنیفة أفقه الناس. ابن المبارک وایي: ابوحنیفه پوه ترین د خلکو ؤ، امام شافعي وایي: د خلکو پوهه د امام ابوحنیفه د پوهې په نسبت د هغه د عیال مثال لري. له امام ابن مبارك څخه ویوښتل شول چې مالك ډېر پوهېږي که ابو حنیفه؟ ده وویل: ابو حنیفه تر ټولو خلکو ښه پوه دی. ستر محدث یحیٰ بن معین (۱۶۰ هـ) فرمایي امام اعظم ثقه دی او له هغه نه مې هیڅ ضعیف روایت نه دی اورېدلی. عبد الله بن شبرمه رح المتوفي: ۱۴۴ وایي چې مورګانې د امام صاحب په څېر عبقري کس له زېږونې څخه عاجزې دي. علي بن لجعد رح المتوفي: ۲۳۰ هـ فرمایي چې زهیر بن معاویه رح المتوفي: ۱۷۴ ته یو څوک راغی چې زه د امام عظم له خوا راغلی یم هغه ورته وویل چې د هغه سره یوه ورځ تېرول داسې دي لکه ماسره چې یوه میاشت تېره کړې. عبد الله بن مبارک چې د امام اعظم ډېر مداح ؤ هغه وایي چې د امام صاحب علم د سمندر یوه نا پیدا کناره مې موندلې وي.

امام صاحب په مداحانو کې ډېر لوړ محدثین دي لکه مثال په ډول حماد بن ابی سلیمان المتوفي: ۱۲۰هـ مسعر بن کدام رح المتوفي: ۱۵۳ یا ۱۵۵ ایوب سختیاني رح المتوفي: ۱۳۱ه سلمان بن مهران الاعمش رح المتوفي: ۱۴۷ یا ۱۴۸ سفیان ثوري رح المتوفي: ۱۶۱ مغیرة بن مقسم الضبي المتوفي: ۱۳۶ یحی بن سعید القطان المتوفي: ۱۹۸ ابن جریح المکي المتوفي: ۱۵۰ امام محمد بن ادریس الشافعي المتوفي: ۲۰۴ ابو عاصم النبیل المتوفي: ۲۱۲ او داسې نور یعنې د دوی تعداد رسي پنځه شپېتو ته چې د امام صاحب مدح او صفت یې کړی او په علومو حدیثو، قرآن او فقه کې یې ستر امام او فقیه ګڼلی.

امام اسرائیل بن یونس المتوفي: ۱۵۹وایي چې امام صاحب ډېر ښه شخص وو او هغه ته هغه روایات چې په فقهي مسایلو پورې اړوند وو ښه یاد ول. دارنګه مکي بن ابراهیم وایي چې امام صاحب د خپل وخت د ټولو نه لوی امام وو. همدارنګه علامه ذهبي امام صاحب په حفاظ محدثینو کې ګڼلی دی.

العبر د امام صاحب په اړه داسې لیکلي دي چې هغه په فهم او ذکاوت کې د خپل هم عصرو نه ډېر لوی وو. د لسمې سلیزې نامتو محدث علامه جلال الدین سیوطي هم امام صاحب په حفاظ حدیث کې ګڼلی دی. امام صاحب وایي چې له ابو اسحاق نه

روايت مه اخلي ځکه هغه له حارث نه نقل کوي ځکه امام صاحب په هغه جرح کړې وه او نورو محدثينو دا منلې وه چې هغه نه روايت وانخلي. د زيد بن عياش په اړه وايي چې هغه مجهول دی. دارنګه امام بخاري، امام مسلم، ابن عبد البر مالکي، ابن حزم ظاهري، امام طحاوي هم ترې روايت نه دی ذکر کړی او د امام صاحب په خبره يې عمل کړيده.

امام بخاري، امام مسلم او نورو محدثينو دی په ثقه او د هغه په جرح او تعديل کې يې د هغه رايه ډېره غوره ګڼلې ده. امام بخاري په ډېرو مواردو کې د احنافو علماوو يا محدثينو شاګرد وو لکه سفيان ثوري صاحب، هغه د جامع سفيان ثوري او نور کتابونه له ابوحفص کبير نه لاسته راوړي دي. ابو الحفص کبير د امام محمد بن الحسن شيباني شاګرد دی.

خارجه بن مصعب وايي: ما د زرګونو علماوو سره ليدلي دي په ټولو کې مې درې يا څلور ډېر د عقل خاوندان پيدا کړي او په هغو دريو يا څلور کسانو کې يې امام ابوحنيفه هم ذکر کړی ده. (تاريخ بغداد: ۳۶۴/۱۳). يحيى بن قطان وايي: د امام صاحب سره کېناستلی يم درس مې ترې ويلی دی، کله به چې ما يې مخ مبارک ته وکتل نو پوه به شوم چې د الله ﷻ څخه ډېر وېريده.

(تاريخ بغداد: ۳۵۲/۱۳)

يزيد بن هارون وايي: څوک مې هم له ابو حنيفه نه زيات نرم خويه نه دي ليدلي. معاويه الضرير وايي: له ابو حنيفه سره مينه له سنتو څخه ده.

امام اليث بن سعد بن عبد الرحمان الفهمي: تر امام عبد الله ابن مبارک پورې چې هغه امير المؤمنين في الحديث دی، فرمايي چې د امام صاحب نه ما څوک په علم حديث کې بل کس پوه نه دی ليدلی او هغه د امام صاحب دومره مداح وو چې يوه ورځ يو کس د هغه په اړه يو څه وويل نو دی ورته وايي چې هغه پنځه څلوېښت کاله په يوه اودس او ټوله شپه کې په دوه رکعتو کې به قرآن ختمولو. دی په ۱۸۱ کې وفات شوی او له امام بخاري نه نيولې تر امام مسلم وغيره پورې د ده د علم او سترو کارنامو چې په علم حديث کې يې کړي او علم فقه کې يې کړي دوی يې مداح دي.

د فقهې د تدوين کمېټه او د مسائلو استنباط او استخراج: امام اعظم ابوحنيفه د فقهې تدوين لپاره يوه څلوېښت کسيزه ډله جوړه کړه چې د هغه وخت تر ټولو ستر علماء په هغه کمېټه شتون درلوده، هغوی له قرآن او سنت په زرګونو مسائل استخراج او استنباط کړل دارنګه خپله امام اعظم د مسايلو په استنباط کې داسې طريقه مقرر کړله: زه تر ټولو وړاندې د الله له کتاب څخه اخذ او استنباط کوم، که مې هلته و نه موند نو د رسول الله صلی الله عليه وسلم سنت او د ثقه راويانو په واسطه نقل شويو صحيحو احاديثو ته رجوع کوم، که مې په کتاب الله او سنت رسول کې و نه موند نو د رسول الله صلی الله عليه وسلم په ملګرو کې چې مې د چا قول خوښ شي، اجتهاد ځنې کوم. له دې ها خوا د بل چا قول نه اخلم. کله چې خبره ابراهيم، شعبي، ابن مسيب (ده څو نور نومونه واخيستل ....) رسېږي نو د هغوی په شان زه هم په خپله اجتهاد کوم. آخري عمل قياس شرعي دی، يعني که په دغو کې مسئله و نه موندل شوه بيا قياس شرعي ته مخه کوم.

علم حديث او د امام صاحب لوړ مقام: امام صاحب د احاديثو په اړه ډېر محتاط او لړې ليدونکی وو هغه د حديثو قوي، ضعيف، مشهور، آحاد څخه علاوه دا هم کتل هغه آخري امر چې جناب رسول کريم ﷺ پرې رحلت کړی وي يا آخري عمل يې وو هغه کوم يو وو.

ځينې خلک چې وايي د امام صاحب نه روايتونه کم ول.

دا خلک علم نه لري او حق دا ده چې د امام صاحب اوولس مسنده دي، الحمد لله جامع المسانيد چې اوس ټول مسانيد په کې راغونډ شوي دي او چاپ شوي دي، د امام ابوحنيفه او حضرت محمد (ص) په منځ کې دوه واسطې وي، د حديثو په ستر کتاب بخاري چې موږ پرې فخر کوو د دي په حاشيو کې ذکر وي چې من ثلاثيات دوه ويشت دي، ثلاثي دا

ډېر مهتم بشان احادیث دي او زموږ تمام روایات ټول ثلاثیات دي او ځینې وخت کې ثنایات هم دي، که څوک وایي چې امام ته دا حدیث نه دی رسېدلی نو دا مردوده خبره ده.

د امام صاحب عدالت خو هر چا ته معلوم دی او د ضبط په اړه یې د جرح او تعدیل علماء لکه امام ذهبي، یحیی ابن معین، یحیی بن سعید القطان، علي بن عاصم او نور علماء وایي: چې امام صاحب ډېر احادیث یاد او روایت کړل، او یوازې د هغو احادیثو روایت یې کاوه چې یاد یې وو، ابوحنیفه په حدیثو کې ثقه دی، که د ابو حنیفه علم د هغه د وخت د علماو له علم سره وتلل شي د ابو حنیفه تله به درنه شي... د امام صاحب تعامل له احادیثو سره د هغه له خپلو اقوالو نه معلومیږي، چې د حدیث د علم کتابونو را اخیستي دي، خلک یې د حدیث زده کړې او په احادیثو عمل کولو ته تشویقول او له دې یې سخته کرکه کوله چې د الله ﷻ په دین کې له ځانه وغږیږي، امام صاحب به ویل: له دې ځان وساتئ چې د الله په دین کې له ځانه وغږیږئ او د نبوي احادیثو پیروي وکړئ، ځکه چې چا احادیث پرېښودل هغه لار ورکه کړه او هیڅاته په کار نه ده، چې داسې څه ووایي چې د رسول الله ﷺ شریعت یې نه قبلوي، امام صاحب د نورو امامانو په څېر شرعي احکام له قرآن او سنت څخه را ایستل او حدیث یې په قرآن کریم د پوهې غوره لار ګڼله، یو ځل په جومات کې ناست وو او د حدیث درس شروع وو، یو کس راننوت او ویې ویل چې دا احادیث پرېږده، مه یې راته بیانوه، امام صاحب ورته سختې خبرې وکړې او ویې ویل چې که احادیث نه وای، نو هیڅوک به هم په قرآن نه وای پوهېدلی.

علامه موفق د حافظ ابو یحیٰ زکریا بن یحیٰ نیشاپوري د مناقب ابي حنیفه په حواله د یحیٰ بن نصر دا خبره را نقل کړې چې ما له امام ابو حنیفه اورېدلي چې، ما سره د احادیثو ډېر زیات صندوقونه دي، لږ مې ترې راوېستلي چې له کومو ګټه پورته کیږي. امام زبیدي په خپل کتاب "عقود الجواهر المنیفة" کې د یحیٰ بن نصر دا وینا را نقل کړې چې "زه یو وار امام صاحب ته ورغلم او کوټه یې له کتابو ډکه وه، ومې پوښتل دا څه دي؟ امام صاحب ځواب را کړ چې د احادیثو کتابونه دي."

له پورتنیو پېښو ښکاري چې کتاب الآثار کې څومره احادیث دي، دا د امام صاحب ټوله علمي پانګه نه ده، بلکې دا یې یو مختصر کتاب دی. په هر صورت د امام صاحب لوی فضیلت دا دی چې د احادیثو په کتابونو کې تر ټولو لومړی په فقهي ترتیب لیکل شوی کتاب د امام صاحب دی. د حدیثو په علم کې د امام صاحب سویه څومره لوړه ده؟

دا اندازه د هغه وخت د محدثینو له اقوالو کېدای شي، چې خپلو شاګردانو ته یې نه یوازې د کتاب الآثار د مطالعې توصیه کړې، بلکې تاکید یې پرې کړی چې له دې پرته په فقه پوهېدل نا شوني دي. دا اقوال د امام اعظم رحمه الله په مناقبو کې په پوره تفصیل سره ذکر شوي دي، او بله دا چې محدثینو د کتاب الآثار څومره خدمت کړی، له همدې خدماتو د یاد کتاب ارزښت معلومیږي، له همدې امله یې ډېرې شرحې لیکل شوي دي.

د امام ابوحنيفة عالي سند احادي دي، سبحان الله. د مخکې په سر بل داسې محدث نشته چې لـه ده سره احادي سند موجود وي. دا ويـاړ او اعزاز يوازې امـام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته الله ﷻ ورکړی ده. د محدثينو په آند لـه ټولو نـه عالي سند اسانيد ثلاثيات دي. د علم حديث په دنيا کې يوازې او يوازې امام مالک سره ثنايات شته. نور ټول څومره چې محدثين دي او د دوی کتابونـه دي عـالي سـند لـه دوی سره ثلاثيات دي. که په لنډو درته ووايم امام شافعي، امام احمد بن حنبل، امام بخاري، امام مسلم، امـام ترمذي، امام ابوداؤد، امام نسائي، امام ابن ماجه، امـام ابـوداؤد الطيالسي، امـام عبـد بـن حميد، امام دارمي او امـام طـبراني دي ټولو سره عـالي سـند چـې موجـود دی هغـه ثلاثيـات دي. نـو پـه دې ټولـو محـدثينو کـې امـام مالـک رحمـة اللـه عليه ته دا فوقيت حاصـل دی چـې ده سره ثنائيات شته. اوس بـه راشـم دېتـه، چې وحدانيات کوم چې امام خوارزمي په جامع المسانيد کې پـه اسانيد امـام صاحب نه نقل کـړي. لـه دغـو صـحابه وو نه امام صاحب احاديـث نقـل کـړي دي: له حضرت انس بن مالک رض نه يې دري حديثه. له عبد الله بن الحارث بن جزء رض نه يې يو حـديث لـه عبـد الله بن انس نه يې يو حديث، لـه جابر بـن عبـد اللـه انصاري رض نـه يـې يـو حديث، له عبد الله بـن ابي اوفـی رض نه يې يو حـديث، لـه واثلـة بـن الاسـقع رض نه يې دوه حديثه، لـه عايشـه بنـت عجرد رض نـه يـې يـو حـديث روايـت کړی ده. همداسې امـام جـلال الـدين سيوطي او امام ابن حجر هيتمي پـه دې باندې څېړنـه کـړې ده او د امـام اعظـم ابوحنيفة رحمة الله عليه ۷ احاديات يې په خپلـو کتـابونو کـې لـيکلي دي چـې مستقيماً يې لـه صـحابه کرامـو رض نـه روايـت کـړي دي. خـو نـورو علـماء کرامو چې بيا په دې مسئله باندې څېړنه کړې ده نو ۱۶ احاديات يې پيـدا کـړي دي.

امام بخاري غير د پلار له طريقـې د امـام اعظـم پـه علمـي لمسـيانو کـې راځي څکه چې ده له مکي بن ابـراهيم نه روايت کړی ده او مکي بن ابراهيم د امام اعظم صـاحب شـاگرد وو. پـه دې اړه امام ذهبي وايي: حـدث عـن جعفـر الصادق و ابی حنيفة، وعنـه البخـاري و احمد. (ذهبي، تذکرة الحفاظ، ۱: ۳۶۵)

دا څـومره فقهـاء او محـدثين او مفسرين او شارحين او مستنبطين چـې شـتون لـري دا ټـول يـا د امـام اعظـم ابوحنيفه نېغ په نېغـه شـاگردان دي يـا د هغـه د شـاگردانو شـاگردان دي او دا خبره په ثبوت هـم رسېدلې کتابونـه پـه دې شاهد او علماء په دې اقـرار کـوي. لنډه دا چې امام صاحب د هغـه وخـت د اسلامي نـړۍ د پنځـو سـترو اسـلامي مراکـزو (مکـه، مدينـه، بصـره، کوفـه او شـام) د علومـو وارث او امـين دی. د نړۍ ټـول علـماء دا منـي چـې اسـلامي نړۍ د امام صاحب د علم، خـدمتونو او هغه کړنې يې چې تـرسره کـړې د هغـو پـوروړې دي او د هغـــه د مـــذهب مقلدين به دا لړۍ همداسې تـر قيامـت پورې چلوي ـ ان شآء الله هو العزيز.

غوښـتنه: لکه څنگه چې امام صاحب پـه هـر ميـدان او برخـه کـې مخکښ او داسې ځلبـدلی ؤ چـې نـن سبا موږ پرې فخر کوو، نو راځئ د امام صاحب کړنـې او علمـي خدمتونـه پـر همغه طريقه خلکو تـه ورسـوو څرنگـه چې هغه خپل رسولي او هغـه کـړنلاره غوره کړو کومه چې نومـوړي سـتر امـام خپله کړې وه. خلکو ته حنفـي مـذهب پـه سـمه توگـه ورسـوو لـه هـر ډول خرافاتو، بدعاتو، نـاوړه عقايـدو او هـره هغه کړنه چې د امام صاحب له مـذهب يا مسلک سره اړخ نـه لگـوي لـه هغـې بايد بلکل لرې ووسـو. کتـل کيـږي نـن سبا داسې ډېر خلک شـتون لـري چـې عقايد او کړنې يې بلکل د امام صاحب له مسلک سره پـه مخالفـت کـې واقـع دي خو بيا همدوی د حنفي مـذهب او امـام اعظـم نـوم څخـه پـه نـاوړه گټـې اخيستنې خپـل مخـالفين پـه ډول ډول نومونو متهم کوي چاته يو څه او چاتـه بل څه نوم اخلي، په دې توگه د حنفـي مـذهب خـدمت نـه بلکـې اصـلاً دا د مذهب په جامـه کـې د همدغـه سـوچه مذهب بدنامول او د خلکـو د لرېـوالي سبب گرځي.

د زخمونو جامې

فاتح

د زخمونو په جامو کې ترمنزله کړم مزلونه
د تناکو په پانو کې تر منزله کړم مزلونه

که غاټول پرهري تن مې ټول د مالګې سور کمر شي
لنډوم لار په دردو کې ترمنزله کړم مزلونه

بې کوثره نه ماتيږي، داسې تندې يم اخيستی
د ژوندون په سرو غرمو کې ترمنزله کړم مزلونه

له مانېامه ترسهاره په سراوروړمه،ولسه!
درکوم رڼا،تياروکې ترمنزله کړم مزلونه

ازادی ! ګلاب خواني به درته سل وارې سپيلنی کړم
د باردو په لمبو کې تر منزله کړم مزلونه

که د اور سمندرونه راته غر شي پرې ورخيژم
د سکروټو کنګالو کې ترمنزله کړم مزلونه

په لمرينو وړانګو لار وهم، د ورځ پرمخ پرمخ ځم
په رڼا د ستورو شپو کې ترمنزله کړم مزلونه

د ربنبې پټکي په تار د "مور وطن" ګرېوان ګنډمه
زه طالب په قربانو کې ترمنزله کړم مزلونه

په خدايي نصرت به د استبداد کړم ځنځيرونه
د پولادو په عزمو کې د منزله کړم مزلونه

تر هغې چې ګران وطن په شرعي امن ښاد-اباد کړم
زه په سوله او جګړو کې تر منزله کړم مزلونه

په وريښمين دسمال دهيلو چې مات زړونه وي تړلي
فاتح ځکه ترانو کې تر منزله کړم مزلونه

Shahamat

په کونړ کې تر محاصرې لاندې داعشي مشران

يوځل بيا د امريکايي هليکوپترو لخوا وژغورل شول

له تيرې څه باندې يوې اونۍ راپه دې خوا د کنړ ولايت په مختلفو سيمو کې د داعشي فتنې او پديدې په ضد د اسلامي امارت مجاهدينو پرېکنده عمليات پيل کړي دي.

له داعشي مليشو سره د عملياتو په کار کې د کنړ ولايت ولس هم د مجاهدينو سره اوږه په اوږه دريدلی دی.

کله چې د کنړ اکثره سيمې د داعشي فتنه کرو څخه پاکې شوې، او د هغوی مهم مشرانو او افرادو د کنړ ولايت نورګل ولسوالۍ مزار درې ارونډ کرچندو سيمې ته پناه يوړه او هلته سره راټول شول، نو تيره شپه د امريکايي اشغالګرو تر لسو ډيرو الوتکې او هليکوپترې او د کابل اداري سلکونه ځمکني عسکر په ټانکونو کې د مزار درې سيمې ته ورغلل او هلته تر محاصره لاندې د داعشي مليشو مهم مشران، افراد، کورنۍ، وسلې او مهمات يې په الوتکو کې پورته کړل او د مجاهدينو له بريدونو او نيولو څخه يې وژغورل.

دا څوم ځل دی چې په مختلفو ولايتو کې د امريکايي اشغالګرو لخوا تر محاصره او بريد لاندې داعشي مليشې ژغورل کيږي او امريکايي بيسونو او مراکزو ته انتقاليږي.

دغه جنايت په داسې حال کې ترسره کيږي چې همدا اشغالګر امريکايان او د هغوی کورنۍ تالي څټي وخت په وخت له داعش سره د مبارزې خبرې کوي او د داعش له نوم څخه په استفاده غواړي اشغال ته د پايښت فرصت تر پيداکړي.

زموږ مسلمان ملت او ټوله نړۍ بايد آګاه واوسي چې په افغانستان کې د داعش په نامه فتنه کرې مليشې، چې په بې رحمۍ سره ملکي خلک، علماء کرام او قومي مشران وژني او په ښاروښو کې په غير موجه ډول په مساجدو، اولسي غونډو، تجمعاتو او ملکي اهدافو باندې بې رحمانه بريدونه او چاودنې کوي، تر شايې د امريکايي وحشي اشغالګرو لاس دی او ګام په ګام يې تمويل او حمايت کوي.

ذبيح الله مجاهد د اسلامي امارت وياند

۱۸/ ۱۰/ ۱۴۴۰هـ ق

۳۱/ ۲/ ۱۳۹۸هـ ش ـــ ۲۰۱۹/ ۶/ ۲۱م